


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدُالله جان مغموم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترون

د هغو د نهو د نهو او پاکو او بنکو په نوم

چې کومې د دې دردناکو او غمناکو واقعو د

یکلو په وخت زما د ستر کو نه لکه ملغلرې د

بې واره بې اختیاره راڅخیدلې دي -

مغمّوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقونه په حق دَ یکونکي کښې محفوظ دي

دکتاب نوم ——— "ارمانونه حسرتونه"

د چاپ کال ——— فروري ۲۰۰۱ء

شمېر ——— ۵۰۰

قیمت غېر مجلد ——— ۷۵/ روپۍ

قیمت مجلد ——— ۱۰۰/ روپۍ

پریس ———

کاتب محمد رسول پښتو اکېډیمي

دَموندلو درک :

۱- یونیورسټي بک ایجنسي۔ خیبر بازار پېښور

۲- عبدالله جان مغمّوم

بمعرفت پوسټ ماسټر

شاهین ټاؤنې

یونیورسټي پښاور

ډګرفون نمبر ۵۵۵۹ ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

شمیر	عنوان	مخ
۱	عبدالله جان مغموم ښاغلی شاعر، ښاغلی ادیب او ښکلی انسان - جانمحمد زلمی	۱۱
۲	ارمانونه حسرتونه (د کتاب په حقله څو خبرې) عبدالله جان مغموم	۲۰
۳	څلور مه لور	۲۲
۴	جبینه	۲۹
۵	حرص	۳۹
۶	شمشپس کاکا	۴۶
۷	دوه میښتانی	۵۸
۸	مقدّسه هستي	۶۸
۹	سزا	۷۴
۱۰	پښېماني	۸۱
۱۱	انتقام	۸۹
۱۲	اوښکې	۹۵
۱۳	چپې	۱۰۱
۱۴	انسان او انسانیت	۱۱۰
۱۵	دوه یاران	۱۲۱
۱۶	تربور	۱۲۸
۱۷	وی ربابا	۱۳۴
۱۸	احمد	۱۴۰
۱۹	ژوند	۱۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله جان مغموم

"بنهٔ شاعر - بنهٔ ادیب اوٗ بنکلے انسان"

(جان محمد زلمے)

عبدالله جان مغمومؔ زهٔ پیژنم - د وړوکوالي نه چې پیژنم زما خپل دے - زما زهٔ ته ډېر نزدې دے - ځکه چې بنهٔ انسان دے نو په ډېر موقعه به زهٔ د هغهٔ د بنهٔ سړیتوب خبرې نهٔ کوم - د هغهٔ د شرافت - د پښتو او د غېرت خبرې به نهٔ کوم - ځکه چې د غه داستان ډېر اوږد دے اوپه دې لنډ تنګ وخت کښې دومره اوږد داستان احاطه کول ګران دي - نو دومره قدرله به اووایم چې د غه بنکلے شاعر - ادیب او بنکلے انسان په ټیس و ورځو کښې ماله داغلو اوٗ راته ځي اووے لاله (زهٔ ترې نه په عمر کښې مشریم نو ځکه ماته لاله وایي) دا فائل و اخله دې کښې ما مختلف مضمونونه لیکلي دي دا اوګوره ډېر په غور اوپه فکر سره ځې اوګوره څو ورځې پس به زهٔ راشم نو په دې حقله به مې د خپلې رائې څنې بیا خبر کړې دې مضمونو له ما نوم اېښے دے - "ارمانونه حسرتونه" فائل ځې ماله راکړو اوپه خپله لاړو - خدائے شته چې فائل ته مې اوکتل نو وارمې ورته خطا شوچې دا به څنګه کورم - نو د مغمومؔ غوندې نوم نبې آدم ته مې انکار نهٔ شوکولے - فائل مې ترې نه واخستو او د شپې مې د پس

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نانوالی را واخستو ما وے چې وعده دې کړې ده نو پوره کول به غواړې - د فائیل دوه پانې چې واړولې نو په درېمه پانه داولنې مضمون نوم وه "خلورمه لوړ" په لوستو پې پې شروع اوکړه، اولنۍ پانه ورپسې دوئمه پانه او بیا درېمه پانه - تلم ورپسې د هرې پانې په لوستو به پې د ذرې درزې سپوا کېدو - د هرې کرښې په لوستو به پې نوله نوره زیاته اوچه اوچه کېده - نمونے به پې زیګ زیګ کېدو او تاسو یقین اوکړئ چې د قصې آخرنۍ پانه سرته اورسېده نو په ځان هډوپوئے نه وم نو رنې رنې تړې تړې او بنکې پې د ستړکو نه روانې وې په مخ پې نوري وري بهېدې پې او په ګرېوان کښې پې ځشېدې پې - د د پې نه پس په قصې پسې قصه - په واقعې پسې واقعه اوپه حادثې پسې حادثه پې اولوسته - په یو نشست کښې پې ټولې قصې اولوستې - د ټول فائل نه بوټ اووتم او هغه درونده فائیل چې زما ورته وارخطا وه پې دا به څنګه کوردم هغه پې په ژړا اوپه سلګو کښې تکې په تکې اولوستو - د هرې قصې په لوستو پې نمونے زیګ زیګ شو - هره یوه قصه یو غم لرلے غم زړلے اوغم سیزلے داستان وه - یو د بلې نه زیاته دردېدلې اوپه نمونو کښې لړلې وه - هره یوه قصه پې اولوسته او د لوستو نه پس به پې د غم یوه سړیکه په ټول بدن کښې خوره شوه - او سوچ به واخستم چې دا څوونده د ځنې خلقو دپاره څومره غمناک دے څومره دردېدلے اوتسن نېدلے دے -

مغمومه دپره موده ماپه ربړیو اورپلے وه - "د هدایت خان"

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کردار کښې د "پاڼده خان" په کردار کښې د "مرچکی" په کردار کښې
او د پښتو هر ډرامه کښې ما د هغه د فن او صلاحیتو ننداره
کړې وه - خو ماته دا نه وه معلومه چې دا هر وخت په خندا مغمومه
دا هر وخت خوشحاله مغمومه کښې په زړه کښې دومره غم هم لري
چې قلم پې د اور بڅرې هم شیندلے شي - زړه نه وم خبر چې د مغمومه
ذهن او قلم د مظلومانو انسانانو د جذباتو او احساساتو ترجمانې
په دې ډول هم کولے شي - ماته دا نه وه معلومه چې د مغمومه په
قلم کښې دومره زور شته چې لوستونکي هم د خپل ځان سره د
احساساتو په بهیر کښې بهولے شي - زما په ذهن کښې مغمومه یو
هر وخت خوشحاله او په خندا انسان وه یوداسې انسان چې نه د غمونو
نه خبر وه او نه پې د چا په غمونو دومره څه پروا وه - زما په ذهن
کښې مغموم یو بنکلے رنګین شاعر او د پښتو ژبې یو منفرد طنز نګار
او مزاح نګار نو وه، خو دې نه خدائے شته چې نه وم خبر چې دا
په ظاهره خندا او خوشحاله مغمومه په خپل زړه او سینه کښې د
درد ونو او غمونو دومره لوئے لوئے طوفانونه هم ګرځوي - د
"ارمانونو حسرتونو" د سرخط لاندې تهولې لیکلے شوې قصې او
واقعې چې په دې یقین سره بنسټ په غور سره اولوستې چې دا هر
څه حقیقت دے - د "وایې" قصې نه دي - دا لکه د اکثرو داستانونو
په رنګ رڼا نې نه دي - ځکه چې مغمومه چې ماله د "ارمانونه حسرتونه"
ټائټل راکولو نو ورسره پې راته دا ویلې وو چې دا هر څه چې ما لیکلي
دي نو د هرې قصې او هرې واقعې بنیاد په حقیقت باندې اېښودے

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوے دے ۔ البتہ هرې قصې اوهرې واقعې له مایه خپلو الفاظو کښې
سرښتنه کړي دي اود الفاظو جامې يې ورته اغوستولي دي ۔

څو ورځې پس مغمّوم راغلو تپوس يې اوکړو چې قصې دې اولوستې ۔
ما ورته وے اوٗ يار اوهې لوستې نوزهٔ درنه يو تپوس کوم چې دې
لوستونکو تاسره څهٔ بد کړي دي چې تا يې داسې په خفه کولو اوزهير ولو
پسې قلم راخيستے دے ۔ تاسره نو دَ خندا خبرې هم شته ۔ دَ تو قو
وشتو داستانونه درسره هم شته نو په دې غمونو ژړلي ماحول
کښې نو تاله پکار وُو چې پرېشانه زړونه دې نو خوشحاله کړے وے ۔ او
څهٔ داسې قصې او واقعې دې په دې کتاب کښې راجمع کړے وے چې دَ
لوستونکونه دَ څهٔ ساعت دپاره خپل غمونه اوپرېشانۍ هېر شوے
وے ۔ ماخو تولې قصې اولوستې اود هرې قصې په لوستو يې غم سېوا
اوزړهٔ دلګيره شو ۔ هرې واقعې په سرو سترګو اوژړلوم ۔ اودا يې
يقين دے چې هرلوستونکے به لکه زما دَ هرې قصې دَ لوستو نه پس
دَ خپلو اوښکو دَ اوچولو دپاره يادَ رومال اويادَ څادر دپسکې نه کار
اخلي تودا ګڼي دلوستونکو سره زياتے نهٔ دے ۔؟

زما په دې اوبنده بيان مغمّوم مُسکے غوندې شو اوراته ځې
اووے چې "غم اوخوشحالي" ورور اوخور دي نود ورور او خور
ترمنځه برنا حقې جُدايۍ ولې راولۍ ۔ دَ خوشحالۍ په خوندهغه خلق
پوهېدے شي چې دَ غمونو په اغزنه لار مزل اوکړي ۔

دَ مغمّوم په دې دليل باندې زهٔ غلے شوم ۔ دهرشاعر اوهر اديب
خپل خپل اُصول دي ۔ په تپو و ورځوکښې دَ مغمّوم صب دَ شاعرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب د تور "او ربل تور وکمځوخیر پې" لوستلے وۀ د هغې په څلله
مې څو ټپوسونه په زړۀ کښې وو نو دا موقعه راته موزونه ښکارده
شوه او ټپوس مې ترې نه اوکړو چې مغمومم صبب دا دومره موده
خپل نحو وۀ چې خپله د ځوانۍ شاعري دې دا سې پته سانلې وه او
په دې آخر عمر کښې دې د ځوانۍ رباب او ټهنګولو پکار نحو دا وه چې دا
د ځوانۍ شاعري دې په ځوانۍ کښې چاپ کړے وے او په دې عمر
کښې دې دې د عمر شاعرۍ له کتابي شکل ورکړے وے ۔ زما د دې خبرې
په جواب کښې مغمومم مُسکے غوندې شو او راته ټې اووے چې لاله ستا
خبره په سر ستر کو منم نو زمونږ د خلقو المیه داده چې مونږ د مجبورو
دلاسه یو کار هم په وخت نۀ شو کولے ۔ مونږ غوندې خلقو خپل ژوند
د خپلې نحو نې او خپلې مرضۍ مطابق نۀ ځې تېر کړے دے او نۀ ټې
تېر ولے شي مونږ چې د حالاتو نه مجبور شو نو خپل ټپې په ورځو او
ورځې په شپو بدلوو ۔ نو زما د ځوانۍ شاعري نحو به ما هله په وخت
چاپ کړے وے چې زۀ د ربړ یو د دُنیا په دَل دَل کښې وریوخت شوے نۀ
وے ۔ ځکه چې په ربړ یو کښې زما ژوند نور وور او دانه دانه شو
زۀ پوهېدم چې د ستړو دنیا نو او زلمو رنګین شاعر پاتې نۀ شوم بلکې
زما شخصیت په مختلفو برخو کښې په دا سې طریقې سره تقسیم شو چې
زمانه ټې شاعر هېره کړه ۔ هغه شاعري چې د طالب العلمانو او زلمو یه
نو بنه وه هغه شاعري چې زما په هر هنر به زلمو او ځوانانو
ماله دومره شاباسے راکولو چې شمۀ اندازه ټې نه وه ۔ زما دې پاره شاعري
هېروال نا ممکنه خبره وه نحو لاله ! دا خلق هم عجیبه دي ۔ یا خو به

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوئ زمابه شاعری دومره مست و وچې په واه واه بیا اووایه په
چغو سوروبه ئ اسمان په سر راخستے وۀ - او یاچې زۀ دَ دې یو د
یو اهم پروګرام "جګړه" دیو اهم کردار "پائنده خان" په نامه یوه
ورځ په سند اسور جګړې ته راغلم نو ځوانان او زلمي نو پرېښ ده
چې بو ډاکانو ئې هم داسې هر کلے اوکړو چې راشه کۀ ئې ګورې -
هغه چا به چې زمابه مستو مستو شعرو نو لاسونه پرقول اوس
زۀ دَ "پائنده خان" په شکل کښې دَ هغوئ آئیډیل شوم - دَ
انسان دا فطرت دے چې په کوم کار کښې هغه ته زیات شابا سے ملاویږي
هغه کار په زیات شوق اومینې سره کوي نو ما هم شاعري هېره کړه
او دَ ډرامې یو پروګرامونو ته اَړم شوم - نوې نوې تجربې مې پکښې شروع
کړې - نوي نوي پروګرامونه یه مې لیکل - نوې نوې ډرامې او فیچرونه
به مې لیکل او پښتو کول -

ډرامې یوته دَ ننګوتو په وخت زۀ صرف یو شاعر وم - او چې
ډرامې یوته ورننګوتم نو زۀ اناؤنسر هم شوم - کومنټیټر هم
شوم - پروډیوسر او ډائیټر هم شوم دَ ډرامو هیرو هم شوم -
دَ هرې ډرامې دَ سرکردار به ما ادا کولو ځکه چې ما به د هرچا نه ښه
ادا کولے شو - نو په دې وجه دَ هر ډرامه نګار به دا نه غواښل وۀ
چې زمابه یکلې ډرامه کښې دې دَ سرکردار (دَ هیرو پارټ)
عبدالله جان مغموم ادا کړي - او دَ هرې ډرامې پروډیوسر به
داکوشش وۀ چې زۀ دې دَ هغه په پښتو کوڼکې ډرامه کښې حصه
واخلم - په ډرامه کښې زما شمولیت به دَ ډرامې دَ کامیابۍ سند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنړلے شو ـ

لالا ! تهٔ نو په ریډیو کښې پاتې شوے ئې ـ تاته د ځوانو نو خلقو محنت او ځواري معلومه ده ـ په دغه ځواري کښو افسرانو کښې یو مشهور تو م د قاضي احمد سعید صاحب هم دے تاته پته ده چې هغهٔ په د خپل پروګرام سره څومره محنت کولو ـ نو دا د کال ۱۹۷۲ خبرهٔ ده په ۲۷ د سمبر زما وادهٔ وهٔ (د ډولی ورځ وه) او په دغه ورځ د غه قاضي احمد سعید چې هغه وخت د پښتو د رامو انچارج وهٔ په سائیکل سور زمونږ کلي ته راغلو ـ چې ما اولیدو نو ټپوس مې ترې اوکړو چې قاضي صیب د ولیمه څو صباله ده او تاسو نن .... ؟ نو مسکے غوندې شو او راته ئې اووے چې اوٗ ولیمه صباله ده ځونږ ماځیګر له "محمد بن قاسم" د رامه نشر کیږي او ما سره تانه بغیر بل څوک داسې نشته چې د محمد بن قاسم پارټ سره انصاف اوکړے شي ـ نو ته یې مهربانې اوکړې او ما سره یې لاړ شې چې د رامه اوشي بیا یې راځې ـ نو ما قاضي صیب ته خپلې مجبورۍ په ځکښې کښنوده ې او معذرت مې ورته ښکاره کړو ـ نو دا دومره اوږد بیان مې په دې پورې اوکړو چې په ریډیو کښې زما څوند برخې شوے وهٔ ـ په مختلفو حصو کښې تقسیم شوے وهٔ او زما اورپدو نکو د ډیرو ګرامونو په هره برخه کښې زما آواز اورپدل ګوښتل ـ زما کردار اداکول ئې پکښې نو ښول ـ د خلقونه زما د شاعرۍ د "تور اوربل تورو کمښتو خبرې" هیرې شوې وې او زمانه هغه مسته شاعري هغه چې د ځوانانو په جذباتو کښې به ئې زلزلې راوستې هغه رانه داسې پاتې شوه چې هډو بیا راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رایاده نۀ شوه ـ

اۆ لالہ ! دا ئې لاخۀ کوې ، دَ ډېرې یو دَ عروج په زمانه کښې چې دَ هوا په چپو صرف دَ ډېرې یو بادشاهي وه ـ چې لاتهلیو ځن دَ پاکستان په مزکه قدم نۀ وۆ ایښود لے ـ په دغه وخت کښې زۀ دَ هدایت خان او پائنده خان دَ کندارو تونه علاوه دَ ډېرې یا ئې ژوند یو بل اهم دورکښې داخل شوم ـ په دې دورکښې ما هغه مقصد تر لاسه کړو چې کوم دَ ډېرې یو په نشر یا تو کښې یو نوے مثال قائم کړو دَ یو نوي باب اضافه ئې پکښې اوکړۀ ـ په دې دورکښې زۀ اورپدونکو ته دَ یو نوي پروګرام "خوابدۀ تراخۀ" او دیو نوي تو م "سرچکي" سره مخامخ شوم ـ اۆ لالہ زما په ډېرې یا ئې ژوند کښې زما دپاره دا یو ځلنده " دور وۆ ، یو داسې دور چې ما پکښې دَ پښتون قام او پښتني معاشرې هغه خدمت اوکړو چې کوم به شا ئسته چې ما دَ شعرونو په ژبه تۀ وے کړے شوے ـ او ځکه نو چې زۀ خپل دَ ډېرې یو په هم کاله ژوند یو سرسري نظر واچوم نو "دَ خوښ و ترخو" دپروګرام په تخلیق او دَ "مرچکي" په کردار فخر محسوسوم ـ "خوابدۀ تراخۀ" یو داسې اصلاحي پروګرام وۆ او "مرچکے" دَ دغه اصلاحي پروګرام یو داسې کردار وۆ چې کۀ یو خواته به ئې خلق تهول عمر یاد ساتي نو بل خواته به دَ ادب او دَ نشر یا تو په دنیا کښې زما نوم هم تهول عمر ژوندے وي ـ

نو لالہ دَ ډېرې یو په دې دومره نا اوږدکاره اوکنجې لکه ژوند کښې کتې ما دَ اولني دورنه علاوه په بل دورکښې هم شاعري کولے شوه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سره کنې وخت وۀ ؟ زۀ کنې په بې شمېره ځایه تقسیم شوے نۀ ووم۔؟
نو په دا سې حالاتو کښې تاسو زما د دویم دور د شاعرۍ طمعه زمانه
ولې کوئ ؟

ما چې د مغموم بیان واوړېد و نو دا خبره مې او منله چې واقعي
چې د ریډیو په دومره نا اوزګاره ژوند کښې د مغموم نه د دویم دور
او د دریم دور د شاعرۍ طمعه کول زیاتے دے۔ زۀ دا منم چې مغموم د
ریډیو په ژوند کښې د پرنۀ هېر پس ونکې کارونه اوکړل روښه ادا کړي
دي لکه "نوابزاده تراخۀ" او "سرچکے" به ټول عمر د خلقو یاد وي۔
او د مغموم نوم به په عزت او احترام سره اخلي ۔

(زلمے)

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ارمانونه حسرتونه"

(د کتاب پځله څو خبرې)

دا زما د هغه کتاب نوم دے چې په شروع کښې ورله ما د ستر شاعر صابر شاه صابر په خوښه "یادونه یادګارونه" نوم اېښود لے وُ، خو دیو ملګري د خط په بنیاد چې دا نوم زما مرحوم پلار د خپل کتاب د پاره خوښ کړے وُه اونن صبا د طباعت د مختلفو مرحلو نه ګیاد ے تېر ېږي نو ما مجبوراً خپل کتاب له د "یادونه یادګارونه" په ځائے "ارمانونه حسرتونه" نوم خوښ کړو۔ "ارمانونه حسرتونه" زما د هغو مضمونونو مجموعه ده چې کوم ما د خپل د ېږ یاېۍ پروګرام "خواږه تراخټه" د پاره وخت په وخت لیکلي وو۔ اوداسې خیال وُ چې دا به په خپل آواز اوربد ونکو ته پېش کوم او هغه د ېږد اوڅېرکې کوڅې چې د د ې قصو۔ واقعو او حادثو د اوربد و یاد لیکلو په وخت زما زړهٔ ته رسېدلې وې هغه به د خپل د ېږدېدلي آواز په ذریعه د خپلو اوربد ونکو زړونوته ورښکته کوم او کوڅې او ښکې چې د د ې واقعو د لیکلو په وخت زما د ستړګو نه لکه سېلاب بهېدلې وې هم هغه رنګ د رنې د نې او تړمو تړمو او ښکو یو سېلاب به د خپلو اوربد ونکو د ستړګو نه راروانوُم ۔ خو زما دا ارمان پوره نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو نۀ ہي د خپل زخمي زخمي زړۀ حال اورېد و نکو ته او و ټلے شو
او نۀ ہي په دې غم کښې هغوئ د ځان سره شريک کړے شول -
خو زړۀ د خپل خدائے نه دا طمعه لرم چې کۀ لوستونکي د دې کتاب
هره واقعه په غوږ او سړه سينه اولولي نو هم هغه تاؤ به محسوس
کړي کوم چې ما محسوس کړے وُ - دهرې واقعې په لوستو ئ کۀ د
اوښکو لړۍ د سترګو نه را روانه نۀ شوه نو بيا زړۀ سلامته. زما
د مضمونونو - واقعو او حادثو د ې مجموعې له زړۀ د افسانو نوم
نۀ ورکوم کېدے شي چې په دې کښې اکثرې واقعې د افسانې دفن په
تله پوره اونۀ خښې د مضمونونه ما د ړېدېو د اورېد ونکو
د پاره خاص د ړېدېو په تيکنيک ليکلي دي - نو ځکه زړۀ دا نۀ شم
و ټلے چې " ارمانونه حسرتونه " کښې د افسانو مجموعه ده - په
دې کښې به افسانې هم وي - په دې کښې به قصې - حادثې او
واقعې هم وَي - نو يوه خبره زړۀ تاسوته په دې يقين سره
کوم چې د هرځۀ لکه د افسانو په رنګ صرف افسانې نۀ دي
بلکه د هرځۀ چې ما ليکلي دي د ټولې د اسې واقعې دي چې بنيادې
په حقيقت باندې اېښودے شوے دے - د رشتيا ، قصې ہي
را جمع کړي دي - کتابي شکل ہي ورله ورکړے دے او نوم ہي ورله
" ارمانونه حسرتونه " اېښودلے دے او اوس ې په دې داه
تاسوته وړاندې کوم چې تاسو ې په خپله هم اولولئ
زنانه او ماشومان د ې هم اولولي - زړۀ د خپل خدائے نه دا طمعه لرم
چې هرلوستونکے به ترې نه د خپل ځولې د کې کړي - انشاء الله -

عبد الله جان مغموم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورمه لوُر

بېګاه د زرغن د دوُو میاشتو ماشومه لوُر آخرمړه شوه خدائے دې او بخښي .... تحویقیناً چې خدائے به بخښلې وي ځکه چې د دوُو میاشتو د ماشوم دنهٔ بخښلو هډو سوال نهٔ پیدا کېږي .... او د اسې ماشومه - د اسې تنکی کلی چې چاته په دنیا کښې د ستړګو د غړولو سره سمدستي د نفرت په نظر او کتے شول .... د چا په پیدائش چې د زرغن مور نېغلې انډور له په خوله کښې د پښو سېقونه وراومنډل او د چا په پیدائش چې د زرغن ټبر په سرو ستړګو اوژړې ده - ولې .... ؟ ځکه چې دا د زرغن څلورمه لوُر وه ... او د زرغن لوُر نه زوے پکار وُ - د زرغن دمور نمسی نه نمسے پکار وُ - نو د زرغن په قسمت کښې زوے او د زرغن د مور په قسمت کښې نمسے نهٔ وُ .... قدرت ته به دا نهٔ وهمنطوره چې د مور او د زوے دا ارمان دې پوره شي .... نو د زرغن مور د قدرت فیصلې ته سر ښکته کولو ته تیاره نهٔ وه .... هغې د الله پاک فیصلې ته غاړه نهٔ اېښودله ... نو ځکه نو د اسې لپوتی سپېلنی شوه .... ځکه نو د اسې په کندو کپس و سرشوه .... د مالت د بودی کانو ښځو سره صلاح کاني او شوې د دایا نو سره مشوره چې او شوې - چا ورته وے چې زرغن له بل وادهٔ اوکړه - او چا ورته اووے چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومې له دخلوپښتې نه اګاهو په سودګرې انګارکښې په
سروکړو سینځونو دواړه پوندې اودا غه - کهٔ غواړې چې دزرغن زوئے
دې اوشي نو راپاسه او دماشومې دواړه پوندې په سُورکړې سینځ
اوداغه چې خدائے پاک درله نمسے درکړي - چې دَ جینکو پاتلی
بدله شي - دَ زرغن دسور زړهٔ ته دا صلاح پرې پوتله ..... او آخر
یوه ورځ سحروختي دوه سینځونه دَ نغرې په سُور انګارکښې ښنځ
نرے شو .... اوربلېدو - سینځونه سره کېدهٔ - ماشومه دَ خپلې نیا
د ارادو نه تاخبره - په اورنړې کښې تړلې په خوابدهٔ خوب اودهٔ وه..
.... ماشومه کلې نهٔ وه خبرچې په څهٔ ساعت پس څهٔ قیامت
راتلونکے دے - تنکې کلې نهٔ وه خبرچې دا اوسنے خوب دَدې دَ ژوند
آخرنے خوب دے - او شائد چې بیا تر مرګه پورې دا سې د آرام خوب اونهٔ
کړے شي ..... اوچې څهٔ ساعت پس پدو نو .... دواړو سینځونو یو
ښنځ نارې کړل - دَ ماشومې د خولې نه راوتلې دردپدې لې سوزپدې لې کړیکه
د سحر په خاموشۍ کښې ځورښ شوه - په ټول کور کښې د سوزپدې لې غوښې
بوې شو .... دماشومې سوړ غوجل نه په هیبت را منډې کړې اوچې
او تې ته را ننوتله نو دَ زرغن سور لکه غونډۍ سرهٔ کړې سینځونه
په لاس ولاړه وه .... مور په لُور ورپرې پوتله ... لُور ټې راپورته کړهٔ -
په سینې پورې ټې اونیوله - او ..... (په ژړا) دا وې بې بې - دا دې
څهٔ اوکړل - زما په لُور دې څهٔ اوکړل هں ..... چې شه سر دې اوخوړے
شه کهٔ غیږ دې اوکړو نو دا سینځونه درته په ستړکو کښې منډم - تهٔ
نو د شپې تاخو زما دَ زوے ژوند په عذاب کړو - دلونړو قطار دې جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړے دے - بل څۀ علاج ېې نۀ ؤ - چېنې له ېې پوهېدې او دا غلې ېچې زما زوے له خدائے پاک زوے ودکړې - (په ژړا) ېې ېې دا دې څۀ اوکړل - دومره ظلم .... زۀ به دې مړه کړې وُم - ماله به دې ستر کې رڼې کړې وې، نو دې ماشومې له به دې دومره درنه سزا نۀ ورکوله .... ېې ېې دَدې څۀ قصور دے - دې کومه ګناه کړې ده - ګناه نو زما ده ېچې ماله خدائے پاک زوے نۀ راکوې .... د ېرظلم دې اوکړو ېې ېې -

مُور لُور په سینې پورې نیولې پاس په کوټه روخته - دَ پښو په سر کښېناسته - ماشومه ېې په غېږ کښې واچوله - هغې وېرېټې وېرېټې چغې وهلې .... دَ هغې پوهېدل ېې سړې غوښې وې - مور دَ ماشومې نرۍ نرۍ او سپینې پاڼۍ په خپلو ستر ګو پورې منلې - دَ سور دَ ستر ګو نه د اوښکو لړۍ روانه وه په خپل قسمت پورې ېچرا نه وه - دَ ماشومې ژړا دهغې په زړۀ کښې پرهرونه جوړول - دَ هغې دَ زړۀ نه وینې څڅېدې - نو په نوله ېې هېڅ نۀ شو ویلے - دَ ماشومې لُور سره ېې سکه دَ پوهنو خبرې کولې ...." لُور ېې ستا دَدې ماشومې څخې نه زار شم تۀ ولې دې ظالمې دنیا ته راتلې - تاته دَ دې دنیا شر مخان نۀ وُ معلوم - تاته نۀ وه معلومه ېچې دلته دَ انسانانو زړونه دَ کانې شوي دي - تۀ نۀ وې خبر ېچې دلته دَ نیا ګانو په جامه کښې قصابانې هم شته ..... تۀ ولې راتلې هُې ؟ ستا په مایاندې هم زړۀ نۀ زېرېدو - لونه نو تل دَ میاندو نه زاریې قربانېږي، نو .... تۀ نو هم زما لُور ېې کنه تۀ به نۀ راتلې - تۀ به دې ظالمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا ته نه راتلې چې دومره نه په عذابېدې او زماڅوند درسره هم
دا سې نه په سروتکو کېدے .... ته مړه شه لورې - دې دُنیا ته ستا
ضرورت نشته - دَدې خلقو زامن پکاردي زامن -
یو لُور ته چې د پېدا کېدو حق نشته نو اے لویه خدایه ته بیا
دا لونه ولې پېدا کوې - ولې پرې باندې میاندې زهیروې - ولې....
ولې.... (ژړا) او دلته د ماشومې دَ مور په زړهٔ تیاره راغله بې هوشه
شوه - او نور وره په زمکې سملاسته - ماشومې ژړل او مور دَ
دنیا دَ حالاتو نه بې خبره - دَ لُور دَ ژړا انګولا نه بې پرواه په
زمکې بوړې بوړې پرته وه - خدائے خیر چې څهٔ وختې پې نه وایې
پاس اوخته - ماشومې پې دَ مور دَ غېږې نه راوُشوکوله په زانګو
کښې پې ورلره کړه او په انګور پې دَ خرڅورې کمبل وا چوله....
دژوند شپې ورځې تېرېدې دَ ماشومې دوارې پوندې سنځاشوې -
دوه میاشتې مور او لُور دَژوند شپې ورځې لکه په سور انګار او
سرو سروتکو تېرې کړې - په دې دومره موده کښې مور او لُور
نهٔ دَ ورځې ستړکه پټه کړه او نهٔ پې د شپې آرام اوکړو .... او
آخر بېګاه دَ زرغن دَ لُور سختې معاف شوه ....ر غړیو) ماشومې
کلی دکمل کېدو نه مخکښې اوژړېده - دَ مسېدو نه آګاهو اوژړېده -
د غوړېدو نه آګاهو اودوړېده .... نهٔ پې سپرلے راولېدو اوند
د سپرلي نه خبر شوه دَ ماځیګر نس چې زیړېدو نو ماشومې تورو
هاوُړو ته او سپارلے شوه .... مورې ژړل دې پې ژړل - په
ژړا ژړا پې ستړګې پرې سپېدلې وُو - دَ مور دَ سینې پسې راویخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وو- خو د پښو څخه ټکۍ د تورو خاورو د لاندې په خوا ږ
ښوب اوده وه .... مور شپه په اُلوُن بَلوُن تېره کړه - او سحر
وختي چې مُلا بانګ وېلو مور بُرقعه په سر اديرې ته لاړه ...
لويه اديره .... کنډر کنډر، هيبت هيبت اديره خاموشه
خاموشي - زړهٔ لړزوونکې او بوکنوونکې خاموشي ..... کېر چاپېره
قبرونه - د پر قبرونه - بې شمېره قبرونه .... او د قبرونو په
دغه ښاريه کښې د دې د ماشومې لُور قبر دے ته لکه د يو ورکوتې
تاج محل په رنګې ښائسته ښکاره شو - او ښائسته به ولې نه
ښکارېږو - د يوې مظلومې تن نېږدې لې ماشومې قبر نه د تاج محل نه
زيات ښائسته وي .... مور د نېلې لُور په قبر ور پرېوته - قبر
له ډې غاړه ورکړه - لکه چې خپله ماشومه لُورې سينې ته رانزدې
کړه - پوښتنو بې واره چغې ډې اووهلې - او بيا .... ؟ .....
د لُورې تابېکاه شپه په دې خوشي بيابان کښې يواځې تېره کړه -
وېرېدلې خونهٔ وې ... ټهٔ خو به اوږې شوې وې کنه ... لېونۍ
زما سينه خو هم هغسې دکه ده - راپاسه راپاسه چې په خپلو
پښو دې سره کړم لُورې پښې خو دې بېکاه نهٔ خوږېدې کنه .....
بېکاه خو به دې دپونډو د لاسه ټرټقې نهٔ وې وهلې کنه ....؟
اوٗ ټهٔ به بېکاه په ارام وې بېکاه به دې ايله په آرام خوب کړے
وې .... لُورې ما خو بېکاه هم ټوله شپه په ستر کو ستر کو کښې
تېره کړه - زهٔ خو بېکاه هم ناقلاره وم - دېره ناقلاره -
دومره ناقلاره چې زهٔ مې بس تېق چاوُدو - اوس مې هم زهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرېکې وهلې - د راتلونکو ټولو نسلونو راغلم - ما وې چې شا
دا نوے کور اوکورم .... دې پرنبالښته دے - لوړې دې پرنبالښته کور
دې دے دا نوے کور دې مبارک شه -

د مور په مړۍ کښې اواز اونښتو - د اوښکو سېلاب د سترګو
نه راروان شو .... د غه سېلاب رو رو کمېد و کمېد وچې دوه اوښکې
ټرې نه جوړې شوې - دوه رنړې رنړې اوښکې د کونه را ښکته
شوې او د دوؤ سترګو په .ښو کښې ـکه پېښې مرغلرې را حصارې
شوې - او څهٔ ساعت پس چې د غه د اوښکو مرغلرې د .ښونه
د قبر په ګلونو راټوې شوې نو .... د لوړ مور یوه آخرنۍ سلګۍ
اووهله ..... نکړچې د مور زړهٔ او چودو .... اوه! د بد نصیبې مور
زړهٔ په رشتیاء اوچاودو - د مور زړهٔ چې د اولاد د پاره اونهٔ چوې
نو نور به د چا د پاره چوې .... ؟

د مور د پاره په زوے او لوړ کښې فرق نشته - دا فرق د چا هلانو
د پاره شته - د ظالمانو د پاره شته - ګنې د خدائے په نزد زوے او لوړ
یو برابر دي - نو اے د جهالت په تورو تیرو کښې پرتو رونو - اے د کې
رو نفرت په ناولو جذبو ککړو رونو راوښوئند و د قدرت په قانون
کښې ګوتې مړوهئ - الله پاک چې څهٔ کوي ښهٔ کوي - لوړ د زوئے
نه په هم لحاظ سره ښهٔ ده - لوړ نو د زوئے نه زیاته مینه ناکه ده - د
مور پلار د پاره په زړهٔ کښې د مینې او محبت .ښې شانه د پرجذبات
لري - لوړ نور رحمت دے - هم د غه لوړ صباله د چا نورشي د چا د
خوښۍ د چا مورشي - نو اے د خدائے د قانون خلاف بغاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوٗنکوخوا ښیانو دا ظلم مٹہ کوئ - دا نارواہ مٹہ کوئ - دَ خدائے دقہر
نہ اوپرپیژئ - گورے دا اللہ تعالیٰ انتقام ډیر سخت دے - دَظلم انجام
گورے ډیر بوګنوٗ نکے دے - او اے دزرغن ښځې - اے دیوې بد نصیبې
لُور بد نصیبې سورې - ستاسو دَ دواړو جنتوٗ نہ نصیب شہ - پہ دې دنیا
نو دد نیا اوسپد ونکو ډیر اوژړولئ ډیر پئ اوکړولئ - اوس مو دھغہ
جہان نوشحالی نصیب شہ - آمین -

(c) ketabton.com: The Digital Library

جینه

ـه په مرګ به دواړه سره مړۀ شو
ارمان مې دادے چې به مخکښې روستو شو نه

د مرګ هېڅ پته نۀ لګي هېڅوک نۀ دي خبر چې زۀ به کله
کوم ځائے او څۀ رنګې مرم - مرګ د پرې اتیاره ځیني دے د مرګ
د پاره د څۀ نېټې د وخت او د عمر قید نشته - اوکۀ شته نو
هم انسان ترې نۀ دے خبر سرګ یوه ناګهاني حادثه ده -
سرګ یو ناګهاني شرک دے چې
په چا راپرېوځي او خپلې ټولې ټونډې پنجې ورته په مړۍ خښې کړي -
څومره ماشومان په ماشومۍ ختم
مرګ د لحد تورو خاوړو ته وروسول
څومره ټبکلي ځوانان چې
د پلارانو د ملاتیس او د میاندو د ستر ګو تورې وۀ
د مرګ نا ترسه څپې چې
د دنیا نه پورته کړل
څومره پلاران اوژړې پدل ؟
څومره میاندې بوڑې شوې ؟
او څومره تورې سرې کونډې شوې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور سرې !

او هغه توری سرې

چې څوک د پلار دکوره

دې شمېره ارمانونو سره په ډولۍ کښې

په سره ډولۍ کښې

د خاوند انې کورونو ته راغلے وې نو د خپل تقدیر نه خبر نه وې

د خپل قسمت نه خبر نه وې

چې دا سره ډولۍ د دوئ

د غمونو په لور .... مصیبتونو په لور او ازمېښتونو په لور آخرنے

سفر دے او هر کله چې دا سفر پورے شي نو د بد بختۍ او

د نصیبۍ یو نوے دور به شروع شي -

جبینه ! .... هغه بنکلې او نبائسته جبینه -

هغه د ګلاب ګل به ټې چې دغې نه شرمېدو ، هغه چې شفق به

ورته پسنېدو -

هغه جبینه ! هغه چې ډېره نیکلې او نبائسته وه - دومره

نبائسته چې زهٔ ټې نبائسته په القاظو کښې نشم بیانولے -

جبینه نیکلې وه ،

نو اکبر هم په نبائست کښې دچا نه کم نهٔ وُ -

که د جبینې د نبائست ذکر به جینکو په کور ونو کولو

نو د اکبر خان بنکلې ځوانې به په په حجرو کښې ستائیلے شوه -

جبینه که د ګلو لخته وه نو اکبر خان د ګلاب ګل -

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبینه که د جو نو درځو وه ، نو اکبرخان د زلمو آدم خان وُ ۔

دوه ښکلي ، یوه پښتله او یو زلمے

د تړهٔ لُور او د تړهٔ زوے ۔

دواړه د یونیکهٔ اولاد

ښکلي رشتیه وه ۔ ښکلي جوړه وه ۔ ښکلي سیالان وُو ۔

اوُځکه نو چې د اکبرخان مور د جبینې د غوښتو د پاره هغوي

کره لاړه نو .... خدائے خیر چې څهٔ چل وُ ۔

نو نن جبینې ته د نپلي چاچي راتګ څهٔ بل رنګ ښکاره شو نن

به چې هغه خپلي چاچي ته مخالف کیده نو شرمیده به تړې او دغه

وجه وه چې څنګه ئې چاچي په کوڅه راښکاره شوه جبینه لاړه

په کوټه کښې پټه شوه ۔

د اکبرخان مور د راتلو سره د جبینې د مور سره خبرې او چټپټه ۔

جبینې د مور او چاچي خبرې اوریدې ئې زړهٔ ډې وار درزپاو ۔

نهٔ پوهیده چې دا ولې د ځان نه ډې تپوس اوکړو جبینې دا ولې؟

دا ولې نن ستاده زړهٔ داسې بې قابو درزیږي اے زړهٔ داسې

بې قابو کیږه مه ۔ کهٔ نن تهٔ بې قابو شوې که نن تهٔ د قابو

ته اووتې نو زما د ژوند ټول ارمانونه به کوډے چوړه چوړه

شي ۔

جبینه ! د ځان سره لګیا وه ، او چې د خیالاتو د سمندر ته را بهر شوه

نو د مور غږ ئې ترغوږو شو ۔

د جبینه نو ستاسو امانت دے نو د ې چې کیږ ستاسو خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي " نچل کورته ځي بوتلے شئ -

لاړه ډجيينې او اکبرخان دنيا بدله شوه - دواړه به هروخت ديوبل په خيالاتو کښې چپه چپه وو - ډيوبل په تصوّر کښې به ځي ډځرونه شپې ورځې تېرې کړي - ډ خيالونو او تصوّرو دنيا يوه رنګينه دنيا - دارمانونو اوخوشحالو دنيا - يوه داسې دنيا چې ډدووُ مټينو زړونو درزا پيکښې په يوتو له وه - حرکت ځي په يورفتار وُ -

دواړو داسې محسوسوله لکه چې ډځپې ډ آسمان ډستورو پرتا نوړ هم سپوا شوه -

دواړو ته سپوږمۍ هم ډ ځوا په نسبت زياته ښکلې او ښائسته ښکارپده تولې فضا او ټول ماحول -

ډځوانۍ په رنګينو کښې راو نغښتے شو -

اوُ ! دوه مټين زړونه چې ډځرونه په لاړې ډ ملګرتيا تابيا اوکړې نوماحول ورته هم دغه رنګې رنګين ښکاري - لنډا دا چې ډځرونه ځپې ورځې ډ رنګينې دنيا په تصور کښې په ټينګ تېرې اوُ چې اکبرخان ډا ډجينۍ ډ ډکې وا خسته نومور پلار ځي ډ وادۀ بندبنا اوکړه - ډ وادۀ نېټه کښنودے شوه جينه په کُنج کښې کښناسته -

کُنج ..... چې ډ مور پلار په کور کښې ډ جينۍ د ناستې ځائے وې چې جينۍ پکښې مېلمنه وې -

خدائے خبر چې څه چل وُ - ډ جيينې په زړۀ کښې ويره غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه - خدائے خبر چې څهٔ چل ؤ چې نن د جبینې د زړهٔ په درانه
کښې هغه تلوسه نهٔ وه - هغه نوشحالي نهٔ وه - هغه د خیالونو
او تصوّر رنګینه دنیا جبینې ته څهٔ سپېړه سپېړه او ورانه
ویجاړه ښکارېده -

په لاسونو او پښو ټکېدلو نکیږو نکه چې چیچل کول د هغې زړهٔ
غوښتل چې دا نکیږې د لاسونو او پښونه لرې کړي - او لاسونه
پښې په ـ ځوږ ځوږ اوبو اووینځي - چې دا سوے ټې لږ په قرار
شي - نو جبینې دا سې نهٔ شوکولے - ځکه چې هغه په ګنج
کښې ناسته وه - شپه ټېره شوه .... غرمه شوه - مائیکر
شو - مخکښې وړا .... او ورپسې جنج راغلو د جبینې اور بل
خوښ شو .... ښایسته ټې یې په دوه شو هرچا د ناوې ښائسته
اوستائیلو -

په نوشحالو او ننداړو دولی پورې ته شوه -

د الا الا په چغو سورو او د توپکونو په ټپارکښې دولی د
اکبرخان په کوڅه ورننه شوه -

او د دې ځائے نه د جبینې د ژوند دوېم دور شروع شو -
اکبرخان به د جبینې ستړکو ته ګتل - د پرهه پرې کرانه وه -
په جبینې هم اکبرخان کم ګران نهٔ ؤ -
د مینې کورؤ - د نوشحالی او اطمینان ورځې شپې وې چې
تېرېدې - اکبرخان انجنیئر ؤ - د رویوه ورځ دا سې د غله
چې هغه د اعلیٰ تعلیم د پاره لندن ته روان شو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ رخصتېدو په وخت ټې جبنيني ته اووې -

"و جبينې خفه کېږه مه زهٔ به کهٔ خپرې زدراشم"

"ځومره زر به راشې اکبرخانه"

"بس که خپرې دوه کاله دې د ستر کو په رپ کښې به تېرشي"

"دوه کاله به دَ ستر کو په رپ کښې تېرشي"

اکبرخانه تهٔ نهٔ ټې خبرچې دَ جدايۍ يوه لمحه هم لکه دَ کال

هومره اوږده وي نو دوه کاله به څنګه دَ ستر کو په رپ کښې تېرشي"

"جبينې زما دَ پاره هم دا جدايۍ کمزانه ده ځوځهٔ اوکړم"؟

"اکبرخانه خدائے خبرچې زما دا زړهٔ ولې دومره ناقلاره دے -

ستالندن ته په تلو زما زړهٔ ولې دو ټپ ټپ وي - ستاپه دې تلوکښې

ماته ځيله تباهي ولې بنکاري؟

"نادانې جبينې ستا څهٔ خيال دے چې ستا اکبر به کنې تاهيره

کړي؟"

"تهٔ په مادا سې بدګمانه ټې"

اوُهوه بنځه په خپل خاوند باندې ترڅهٔ حده پورې بدګمانه وي -

زما ستاپه مينه باندې باور دے - ولې بيا هم زما زړهٔ ...."

"دزړهٔ نه وسوسې اوباسه - پښتون په ژوند کښې يوځل

مينه کوي بيابيا نهٔ کوي"

"اونهوره ددې ماشومې لونګينې په سر قسم -

اکبرخان دَ لونګينې په سر دواړه لاسونه کښودل اوُ دَ جبينې

سره ټې لوظ اوکړو چې زهٔ به تا نهٔ هېروم" جبينې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژړا یې لو ستر کو اکبر له رخصت ورکړو او دا ټپه پې ورته اووے

ے په مرګ به دوا ډ سره مړۀ شو !

ارمان مې دا دے چې به مخکښې روستو شو نه

اکبر لاړو په کوڅه اووتو - جبینه کوتې ته ننوتله په کښې کښې پرې مخې پرې پوته اوړپه چغو چغوې اوژړل -

هم دغه رنګ ګرونه په ما ښامونق رو ما ښامونه په تورو شپو بدلېدل - په هره دوښمه ورځ به د اکبر خط راتلو - د جبینې سره د مینې لوظونه به پکښې تازه کېدل - جبینې به د دیو خط نه تر بل خط پورې ورځې شپې شمېرلې -

خطونه رو رو کېدل د دوېمې ورځې نه خط هفتې ته اورسېدو - او د هفتې نه خبره میاشتو ته اورسېده د اکبرخان په خطونو کښې د مینه ناکو الفاظو ځائے سپوږمۍ او ستګو او بې مطلبه خبرو اوتیولو -

جبینې به د لوظ مطابق هره ورځ اکبرخان ته خط لیکلو خپل لوظونه به پې ورته یادول - د تو نګینې خبرې به پې ورته لیکلې - ورته به پې لیکل ، چې لوسینه زما د پره خو ښه ده ځکه چې د دې ستر ګې بالکل ستا په شان دي - اکبره لوسینه د دې د پر یاده وي - اوس پې بابا هم زده کړي دي - په تېرو تېرو ژبه خبرې هم کوي - نو د دې دومره اوږد خط په جواب کښې به صرف دوه کرښې خط را ټولو - زهٔ د پر نا روزګاره یم دومره نا اوزګاره چې تاسو ته د خط لیکلو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

راسره هم نشته -

لاړه جبینه د فکرونو او وسوسو په سیند لاهو شوه - د اکبر سره اوس دومره وخت نشته چې جبینې ته خط اولیکي؛ د جبینې زړهٔ تهکه اونوړه .... او چې څهٔ وخت د کلي یو بل زلمي د لندن نه راغلو او دا خبرې راوړو چې اکبرخان هلته بل وادهٔ کړے دے - نو جبینه لپونۍ شوه - بالکل لپونۍ - چا پې او شلولې - د سرو پینټهٔ پې په موټرموټو را اوشوکول او کهٔ لونګینه تړې نه نو اینې اخواکړے نهٔ وے نوشائن چې په سړۍ به پې ورته زور کړے وُ - د ډیره لویه صدمه وه - د جبینې نازک زړهٔ دومره لویه صدمه داسې په اسانه تهٔ شوه زغملے - نو انسان له خدائے پاک څه صبر ورکړے دے - څو ورځې د پونټوب دا چپه وه - رو رو د جبینې زړهٔ د حالاتو سره سمجهوته اوکړه او چې لږ ساه صوبت شوه نو خپله لور لونګینه پې راتر غاړه ریسته په چغو چغو پې اوژړل ..... " نوبې لورې ارمان چې ستا دا ستر کې د بې وفا اکبر په شان نهٔ وے - زړهٔ مې غواړي چې دا دواړه ستر کې درله وباسم - چې ستا دا چپې چپې بانهٔ بوندې سوندې شي - وبم چې دا د بې وفا اکبر نخښه ستا د پې سپین مخ نه را وُشوکوم نو ..... څهٔ اوکړم هېڅ هم نشم کولے لورې - تهٔ زما لورې زما د بېلتون د تکو توره شپه ملګرې زهٔ یه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خپل پاڼې ژوند ستاپه مینه پورې تړوم ... نو څنګه
به پرې شي .... په ځوانه ځوانۍ کښې د جدایۍ لمحې ډډې
بوګنوځنګې شي - ډډې درنې او ډډې سپېڅې شي په
جدایۍ کښې نو د جدایۍ دژوند شپې ورځې په غنو په
اغزو تړپږي - زهٔ به دا اوبدژوند په غنو په اغزو
څرنګ تېرکړم - د خاوند جدایۍ نو د بنځې د پاره سرګ دے
..... زهٔ هم په ژوند مړه شوم مړه - دا سې مړه ډډې ....
خلقو ته به ژوند ے بنکارم نو اکبر زما په ځوانۍ پورې
خندا اوکړه .... بنځه ذات هرڅهٔ ز غملے شي نو په مینه
کښې شریک نشي ز غملے هغه چا ته په کړه ده ډډې -

ه هره ناپسنده به د ډې یو سم

یو ډې په مینه کښې شریک نهٔ قبلوم

هرڅهٔ وۏ - دولت ؤ جاټداد ؤ خپل خپلوان وۏ، نو ....
بنځه ذات نو صرف د سرسورے غواړي - او ډډې د ډا
سرنه سورے انوا شي نو هغه په ژوند وني مړه شي ....
غم د جبینې زړهٔ ته پرېږوتو - هغه د چا خبره ډډې په زړهٔ ډډې
کو نېږ اوکړه و .... نرے رنځ ډډې شو ځروختې تبه
او تو خے .... او یو ورځ زړے ماځیګر ډډې په جبینې بهوشي
راغله ، نو په اشاره ډډې لونګینه ځان له راؤ غوښته - لونګینه
مورته رانږدې شوه - د جبینې نظر د لونګینې په غټو غټو
سترګو پرېږوتو - زر ډډې سترګې پټې کړې - لونګینې د مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سینه سرکښودو په ژړا شوه - د مور د ستړکو نه داوښکو
سیلاب راروان وُ - په تړ تړ ی ژبې د لُورسره لګیاوه -
بې وفا اکبره د ژوند په آخرنۍ سلګو کښې هم را سنګاره نشوې -
لږ نه نوبه را غلے وے - زما د زنګون د سلګۍ نوبه دې لږ پې
ښه لې وې - زما نه د خیال وُچې هونډ دوارې به یو خُائے مړو -
د مرګ په نوشې لاره به یو خُائے سره ځو ..... اکبره که ستا
یاد شې نو ستا د رخصتۍ وې په وخت درته ما دا ټپه کړې وه -

ه په مرګ به دوارې سره مړه شو
ارمان مې دا دے چې به مخکښې روستو شونه

نو اے د یوړپ په رنګینو کښې ورک شویه اکبره جینه روانه
ده یواځې روانه ده زړهٔ چاوُدې روانه ده ته نوشحاله
اوسې هر خُائے کښې چې ئې - نو د قیامت پورې ورځ به ستا
ګرډې ان روزمالاس وې - اکبره .... بې وفا اکبره ....
اوچې هوا نښې لونګینه د مورد سینې ته راپورته کړه نوجبینې
یوه آخونۍ سلګۍ اووهله اوښکې راروانې وې اوُد جبینې
په زیر مخ په زیرو انګو اول سپینې سپینې اوبیا زیړې زیړې
غوندې خورې شوې اوبیا اوچې شوې -

(c) ketabton.com: The Digital Library

حِرص

(اسوپلے) او... دچاپه ستر کوچې د حرص پرېدې را واوړي هغه انسان بیا د انسان په جامه کښې حیوان شي - حِرصي انسان بیا چیچل کوي - حرصي انسان بیا داړل کوي - توبه خدایه توبه انسان څومره ناپوهه مخلوق دے - دد نیا دَد چې څو ورځې ژوندون دپاره دے څومره ناپاکو چاروته تیارشي -

ښځې مې یادشي دا سې مې یادشي لکه دا ساعت - کله اتیار مونځ کېږي نو ورشئ دکل آباد کلي هغه کنډرونه د ماضي هاغه یادګارونه ته درته اوس هم دَ سید خان د حرص داستان دحال په ژبه بیان کړي - ورشئ اوګورئ دکل آباد کلي کنډرونه اوس هم د سید خان په ناپاک کردار دَ غم او ښکې تویوي - ورشئ اوګورئ چې دکل آباد کلي کنډرونه اوس هم د سید خان دَ مشر ورور امیرخان دَ مظلومیت قیصه په سلګو سلګو بیانَ وي - رونې کله تاسو کل آباد ته نه شئ تلے - کله تاسو دکل آباد ویران ویجاړ کنډرونه نه شئ لیدے نو دا د غم داستان به درته زه بیان کړم - راشئ چې دَ انسان په جامه کښې دَ شوخ قصه درته زه اوکړم -

امیرخان دکل آباد کلي خان وُ - د پر درونه - د پرنخوښ او د پر دَ عزت خاوند وُ - دد پې امیرخان دَ کشر زور نوم سید خان وُ - دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم د امیرخان هومره جاپُلد او وُ - نوپه دغه جاپُلد اد د
سپد خان د حِرص تنده سره شوې نه وه - هغه په خپل جاپُلد اد
کښې نور زیاتوالے کول غوښتل - او ددې دپاره د دې پرې مودې
نه هغه یوه منصوبه جوړه کړې وه خو د حالاتو انتظار ئې کولو -
راځئ چې د څه ساعت دپاره سپد خان پرېږدو - او امیر خان
له به لاړشو - امیرخان چې څنګه په ظاهره درونه نوبنه دے، داسې
ورله خدائے نوئ هم مور او درونه ورکړے دے - د امیرخان یو
زوے وُ "فرید" دلسو کالو ماشوم - دومره ښائسته وُ لکه د ګلاب
ګل - سور سپین - غټې غټې سترګې - پلن تندے - لوړه دنګه
پوزه - فرید په پلار د پوکړان وُ - ځکه چې هم دغه یو زوے ئې وُ -
نور اولاد ئې نه وُ - نو ځکه نو فرید د مور د سترګو تور او د پلار
د زړه ټکوړ وُ - امیرخان په د هرې جمعې په ورځ د ما سپښین
موخُ له ښارته تلو - هم دغه رنګ یوه جُمعه چې د هرې پشکال سنا
ګرمي وه امیرخان سم د سحره پاکې جامې واغوستې خادرئ په اوږه
کښو او ښارته روان شو - او د تلو په وخت ئې فرید ته تاکید اوکړو
چې ځِهر ته لامبا دپاره لاړنه شې نو فرید چې د غرمې دوډۍ
او نوره نو مورته ئې اووے چې زړه په ځِهر کښې لامبم نو سمدستي
راځُم - مورد پر منع کړو نو فرید لاړو د کوڅې نه اووتو - په لاړه
کښې ورسره خپل تره سپد خان ملګرے شو - سپد خان په خبرو
خبرو کښې فرید د کلي نه بهر ته باغونو ته بوتلو - او څه وخت
چې دا دواړه تره او واړه د باغ منځ ته اورسپدل - نو سپد خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناسایه فرید د مری نه اونیوُ- په مزکه ئې نا سوملولو او دواړه
ښځې ئې نکه دشوخ دخپل وراړهُ په مری ځښې کړې فرید د پرې
لټې اوتېکولې - دَ ځان د خلاصولو د پرې وسې ئې دکړې نو دَ
سپد خان دَ نورو پنجونه ئې ځان خلاص نهُ کړے شو - لنډه دا
چې بقې ستر کې ئې راوُوتې - په نوله کښې ئې زګونه را غلل او
آخر یخ شو .... فرید ساه ورکړه دَ خپلو ناولو اِرادو دَ تکمیل دپاره
د حرصې انسان دخپل نوښت وراړهُ په وینو خپل لاسونه سوهُ کړهُ
او بیا ....؟ د تېکنې غږې په خاموشۍ کښې سپد خان د مور
پلار دَ اِکې یو نیازبین زوے لاش دمزګ نه ر پورته کړو او ځُغت
دَ نهر اوبو ته ئې او سپارلو - چې لکه دَ مور دَ غېبې ئې په شان
فرید په خپلو ځانګونو کښې را غونډ کړو او د ځان سره ئې تل ته
بنګته کړو -

دَ فرید دَ مور زړهُ نا قلاره وُ - کله کوڅې او کله دروازې ته
کېده او ځومره چې وخت تېرېده او دَ مور په زړهُ کښې قِسم قِسم شکونو
غږونې کولې - پریشانۍ زیاتېده دَ زړهُ حرکت ېې وړه کېدو -
فرید ولې را نغلو - ولې ئې دومره ناوخته کړو - د هُ ته دَ مور زړهُ
نهُ دے معلوم چې .... زما زړهُ دَ فرید په نهُ لید و ځومره خړپلی
خړپکې وې نو مور غریبه نهُ وه خبر چې فرید سره څهُ کاڼې وشوې -
کومې نوبې ورسره وشوې لاړه غرمه په ماسپښین بدله شوه
او د مور پریشانۍ نورهُ هم سېوا شوه - بې شمېره وسوسې
ئې په زړهُ کښې را پیدا شوې - قسم قسم شکونه او کمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړۀ کښې ګرځېدل - وخت په تېږ ی سره مخ په وړانډې روان
وُ - لاړو ما پښتين په ماځيګر بدل شو نو دَ فريد هېڅ پته ونه لګېدله -
او تېر ماځيګر چې اميرخان دَ بنار نه کورته راغلو نو دَ فريد مور ورته
تول قصه تېره کړه - اميرخان هم په هغه پښتو دکورنه راووتو او دَ
فريد په لټون پسې ځې سړې نجوارۀ کړۀ نو ترما سختن پورې دَ
دَ فريد هېڅ پته اونه لګېده - دَ اميرخان زړۀ ټکه اونجوړ نو....
هېڅ نتيجې ته اونه رسېد و - په ځيل کښې ورورسېد خان پسې ځې
جواب اوکړو او ويې هغه راغلو نو اميرخان ورته تول قصه تېره کړه -
سيد خان صلاح ورکړه چې ..... راځئ چې نهرکښې ځې اولټوو
کېدے شي چې په نهرکښې ځې لاښل ماشوم وُ اوډوب شوے وي -
دکلي خلق راغونډ شول لالټېنونه په لاس دَ فريد په لټون
پسې نهر ته روان شو - سيد خان هم دَدې خلقو سره ملګرے وُ -
اوهر کلې چې دا خلق دباغ نواؤ شا راوُرسېدل نو په نهرکښې دَ
ونو په يو پې جنګ کښې دَ فريد سپين لاسونه اوپښې دلالټېنونو
په رڼا کښې خلقو ته بسکاره شو پې - لاش دَنهر نه راوُويستے شو
او په غاړه باندې په شين کبل واچولے شو - دَ فريد ستړګې بندې
بندې راوتې وې - پلار نجل نياز بين زوے په ځيلو لاسونو کښې راپورته
کړو - دَ اميرخان زړۀ غوښتل چې په چغو چغو اوژاړي خو دا
ورته ځيله کمزورې نبسکاره شوه نو چپ پاتې شو - او تول خلق
چې هوله خاموش زوړند سرونه مخ په کلي روان وُو - اميرخان
سر زوے په ځيلو څانګو نوکښې نيولے مخکښې اونورخلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې روان وُو - اوچې څۀ وخت دا مۀ له دَباغ مینځ ته را رسیدۀ نو
.... ناکهانه دَ کلاشن کوف یو باړ او چلېدو - امیرخان پرځ دا پرېوتو
زوے لاش لاندې او دېلۀ د لاش پرې دپاسه په وینو کښې لت
پت پراتۀ وُو - خلقو د پرې منډې ترې اووهلې نود شې په
تیارۀ کښې هېڅ پته اونۀ لګېدۀ چې داهغۀ څۀ ولې اوشو؟ داچا
اوکړۀ .... دَ کلي نه کټ را اونمو بنټے شو، په یو کټ کښې پلاد او
زوئے دواړه غاړې غړۍ واچولے شول - اوهرکلۀ چې دا کټ په
کوڅه ور د ننه شو، نو رونې زۀ به درته هغه نقشه څنګه بیان
کړم - ماسره دومره دپرې لې الفاظ نشته، ماسره دا سې په غم
لړلې الفاظ نشته چې زۀ په دغه زخمي زخمي واقعې نقشه راکاږم -
دَ غریب دمور هغه پوښې پوښې چغې هغه څیرې کړپې ان او
بیرسر .... توبه خدایه توبه دومره لوئے غم - دا سې ښکارپدۀ
سکه چې د آسمان فرشتې هم په ژړا دي - دا سې معلومپدۀ لکه
چې ټول کائنات یوۀ سلګۍ شو - یوۀ اوچه سلګۍ یوۀ دا سې
سلګۍ چې دَ هرچا په زړۀ کښې ټې پرې هر جوړولو - هرڅوک دامیرخان
او د هغۀ دَ زوئے غریب په مرګ خفه وُو - ټول کلے خفه وُ، دومره
خفه وُو - چې د دغه خفګان د بیانولو دپاره ماسره الفاظ نشته -
ماسره حوصله نشته .... او صباله چې د نعبر کې جنازې دَ کوڅې نه
اووتې، نو د غریب دَ مور لکه چې زړۀ اوچودۀ - په زړۀ باندې ټې
دا سې تیارۀ را غله چې دغه تیارۀ بیا په رښتیا سره نشوه - دغه
تیرَ پې دَ امیرخان تېر او دَ غریب مور هم دَ قبر تورو تیرَ وتۀ اورسو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پود تهونه روشول - تفتیشونه روشول ، تپوسونه روشول تر
دې وراني ماشورې سر را بسکاره نه شو - لاشعوري طور د سپد خان
حرکات سکنات دا سې وو چې د پولیس پر پې باندې شک راتلو
د هغه حرکات سکنات دا سې وو چې لکه د غل په ښیره خس وې -
سپد خان خپل ضمیر ملامته کړو چې دا څه اوکړه - د جایداد د پاره
ې اول د خپل نیازبین ورور په مرۍ زورکړو - او بیا ې د خپل مشر
ور سینه په ګولو سورۍ سورۍ کړه دا څه اوکړه دا ماولې
اوکړه - نو نه اپې د سپد خان مرضمیر راژوندے شو - او دے
ې دومره ملامته کړو چې یوه شیبه ناسایه راپاسید و تو پک ې
راوا خستو - کړدنۍ ې ملامته واچوله اوپه کوڅه اووتو .....
سپد خان کلے پرېښود و وطن ې پرېښود و - ښځه او بچي ې پرېښود -
اولاړو د توږو غروڼو مسافر شو -

سپد خان د امیرخان خونه ورانه کړه او د سپد خان نه قدرت
انتقام وا خستو - دا سې انتقام چې د سپد خان ژوند - د سپد خان کورنۍ
د خلقو د پاره یو عبرت شو - یو دا سې عبرت چې تول عمر به
د خلقو یاد وي -

رونې ! راشئ اوګورئ د ګلآباد کلي هغه کنډروونه ټن هم
د امیرخان په مظلومیت او د سپد خان په بربریت د غم اوښکې
څڅوي - امیرخان او ګرېد شهیدان شول او سپد خان دوزخي -
د الله تعالیٰ انتقام ډېر بوګنوڼکے دے - د ظلم انجام ډېر عبرتناک
وي - اے د دنیا په مال او جایداد پسې لپوتو رونې مه کوئ ظلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مۀ کوئ - جاپۀ ادونه چاځان سره قبر ته نۀ دي اوپلي - مزکه
چاځان سره په سر نۀ ده کې ځولې - دا هرڅۀ پاتې کېدونکي دي -
دا هرڅۀ به د لته پاتې شي - او هر څوک به دوه لاس او دوه پښې
د قبر تورو خاورو ته اوسپارلے شي - نو بیا؛ بیا دا چې د حرص ا نجام
دې پر بوګنو و نکے وي -

ه

ارمان به هغه و خت کښې درشي
چې کټ دې و اخلي تور و خاورو ته دې و پینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمشیر کا

اے لوید حدایه، اے عظیمه خدایه، ستاپه دې بې شمېرڼ مخلوق
کښې ستاپه دې بې شمېره بندیا نو کښې نېکان هم شته، بدان هم
شته، ښځه هم شته خراب هم شته - په دې بې شمېره مخلوق کښې
داسې هم شته چې ستا د قهر و غضب نه شپه ورځې په لرزان دي -
چې ستا د ویرې نه ځې حرامونه شاکړې ده - بد و چارو ته ځې شاکړې -
او داسې انسانان هم شته چې دچا د ژوند هره لحه په کنا هونو
کښې تېرې ي چې دچا هر قدم د بدۍ په لور پورې ته کېږي - ښځه
پو هېږم چې داسې کسانو په خپلو زړونو کښې څه فیصله کړې ده -
ځه پو هېږم چې دوي ولې داسې باغیان شوي دي آیا د دوي دا
خیال دے چې دوي سره به د قیامت په ورځ د دوي د عمل حساب
کتاب نه کېږي - که چېرې د دوي دا خیال وي چې دا ټولې بې حقیقته
خبرې دي - دا ټولې د ښځه منلو خبرې دي نو دا خیال ځې غلط دے -
د قیامت په ورځ د حساب کتاب په ورځ به د هرچا سره د ذرې ذرې
حساب کولے شي -

د دې حقیقت نه انکار نشي کېدے چې ګناه کوونکے ګنهګار دے
او د قیامت په ورځ به ورله سزا ورکولے شي - هر بدي کوونکے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو ځنې ځانګې مجرم دے او د دې جرم سزا به ورکولے شي - هغه لوئے
خدائے دوزخ د کنهګارانو د پاره د مجرمانو د پاره - د قاتلانو د پاره
د منکرانو د پاره یو ډیر دے - په دې وجه ده ټوله منت کوم چې
روښو دا سې بې پروا کیږئ مه - دا سې بې سره کیږئ مه - هسې نه
چې اویۀ د ورځې تیرې شي نو بیا به کورے خبره کې نه شي - هسې
نه چې د ژوند ناکهانه پوښ شي نو بیا به کورے د توبې وخت
هم نۀ وي -

اے لویه خدایه موږ ټول انسانان کړې - موږ ټول ستا د لاس
کړې موږ ټول صحیح مسلمانان کړې چې په ټولنه کې ښه ژوند
وکړے شو - چې ستا په نیولې شوې لار باندې روان شو - چې د ګمراهۍ او
بد نامۍ په تورو تیرو کې را نه لاره خطا نۀ شي - چې په ناپوهۍ
کې د تباهۍ تورو تیرو کې ورک نۀ شو -

اے عظیمه خدایه ! په دې کې شک نشته چې تا انسان
اشرف المخلوقات پیدا کړے دے - په ټولو مخلوقاتو کې اشرف
د عزتونو خاوند - د مرتبو خاوند نحو .... هله چې انسان په صحیح معنو
کې انسان وي - چې انسان د انسانیت په چوکاټ کې دننه ژوند
تیر وي - چې انسان په ښه لار روان وي - او هر کله چې انسان د
انسانیت د دائرې نه اوځي نو بیا د حیوان نه بدتر شي - چې انسان د
انسانیت د چوکاټ نه بهر اوځي نو بیا تر چې انسانیت هم انسان خوښ -
د ټولو شرمځ دا ډول کوي نو
هله چې [illegible] وي - چې د لوبې دلاسه مجبوره شي - چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډوډه نهرشي نوهله .... ګڼي چې په ګډوډه موډوي نو په ځنګل کښې د
وڼې د سورې لاندې ښځې ستر کې یوخواته پروت وي، که دنیا تپرپوې
راتپرپې نو غم غرض پرې نه کوي -
او انسان؟ انسان چې مورشي نو دا ډول کوي -
انسان چې مورشي نوظالم شي -
انسان چې مالداره شي نو حرص ئې زیات شي - او د بل په مړ غلي
کښل ورته هم خپل حق ښکاري -
نو اے دوښو! زه تاسو نه دا پوښتنه کوم - تاسو ماله د دې خبرې
جواب راکړئ چې د دا سې انسان نه ګڼي شرخ ښځه نه شو دا سې انسان
ګڼي د حیوانیت د درجې نه لاندې پرې نه وتل -
ولې پرې نه وتو - د دا سې انسان نه حیوان - بلکه شرخ ځې
کار ئې د خپلې ګډې د تنوې د کولو د پاره د ژوندو حیوانانو او
انسانانو دا ډول دي - د دغه شرخ نه هم دا سې حرصي انسان چې
د خپل حرص د تندې سره د پاره د بل انسان په مړ ځارې راکاږي
یا تردے - پرې پوتے او د نفرت جوګه دے - او دا لاځه کوئ - دا خبره
به پرې دو - بل څال به درکوم بل حقیقت به درته په ګوته کړم -
تاسو ماته دا ووایئ چې سپی ترڅو پورې وارنه وي راوړلے
نو سپي پرې باندې غم غرض کوي ؟ - تاسو چې لیدلي دي چې
یو سپي چې سپی ته لاره نیولې ده - یو سپي سپی ته ئې په بدنظر
کتلې دي - د غسې هریو ځناور به راوا خلو - د هر ځناور څال به
څکښې کیدو چې په دې حقله یو ځناور هم د مقرره حد نه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجاوز نه کوي - بلکه د تجاوز د کولو شال قدرله هم زمونږ په
مخکښې نشته په ځناورو کښې دیو صنف ځناور به هېڅ کله د خپل
مخالف صنف سره د هغې د مرضۍ نه بغېر نږدې اخلاقي عمل رونه
کړي - نږدې فطري حرکت به ورسره رونه کړي -

او انسان .... ؟ چې الله تعالیٰ ورله د اشرف المخلوقات درجه
ورکړې ده ، دے چې د انسانیت د دائرې نه روځي - نو دے د چوان
نه بدتر شي - په ده باندې ستر کې پتې شي د شرافت تهولے
زکئیرونه روشلوي ، دے بیا خورنه پېژني دے بیا مورنه پېژني - د
بیا خپله نه پېژني ، پردې نه پېژني نو تاسونه زه ټپوس کوم -

چې ! اے روښو دا سې انسان ګڼي د انسان بللو جوګه دے - دا سې
انسان ګڼي د چوان نه بدتر نه دے - دا سې انسان ګڼي د سپي غوندې
د ګنده چوان نه هم سپک ګنده اوذلیل نه دے - روښو دوه لاسونه
اودوه پښې - دوه غوږونه او دوه ستر ګې او ژبه د انسان نه انسان
نه جوړه وي - انسان د انسانیت نوم دے - انسان د شرافت نوم
دے - انسان د اخلاقو نوم دے - او په چا کښې چې دا څیزونه
نه وي دا خوبې نه وي - دا اخلاق نه وي نو بیا زه بخښنه غواړم
چې دا سې انسان ته نه زه انسان و ټلے شم او نه بل - ځکه چې
دا سې انسان د الله تعالیٰ د طرفه مقدر کړے شوے وحد و نونه تجاوز
کړے دے ده د خدائے د لارې نه روګرداني کړې ده نو ..... دا سې
انسان ته به څوک څنګه انسان اووائي -

ږدے لویه خدایه ! ته په خپل فضل وکرم سره مونږ انسانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې صحیح اشانان - موښ د کناهونو نه په امان کړې - موښ مسلمانان
کړې چې په ښه ښه کښې تمیز اوکړے شو -
انسان څومره غافل دے - څومره ناپوهه دے څومره احسان فراموشه
دے که چرې انسان غافله نه وے - ناپوهه نه وے - احسان
فراموشه نه وے نو دۀ به د الله تعالیٰ دا بې شمیره احسانونه ولې
هیرول دۀ به د مور پلار سره بې رحمي ولې کوله - د هغوئ بې عزتي
به ئې ولې کوله - ولې به ئې د هغوئ حقونه هیرول ؟

مور او پلار ! چې د اولاد د پاره د کومې حیثیت لري - چې د
پښو لاندې ئې جنتونه لوغړې ږي - چې د چا د قدمونو خاوره
د اولاد د پاره د ښکلولو جوکه دي - نو د دې هستو سره د اولاد
سپک او ناروا سلوک کهې ناروا نه دے - د مور پلار په بې عزتي
به کهې الله تعالیٰ نه خفه کیږي ولې به نه خفه کیږي - څوک چې
د هغه لوئے ذات د احکامو خلاف ورزي کوي الله تعالیٰ به ترې ضرور
ناراضه کیږي -

نو بیا .... ؟ بیا ولې دا ځنې ځنې اولاد د الله تعالیٰ د دې
اټل قانون خلاف ورزي کوي - ولې د مور پلار سپکاوے کوي ولې
د مور پلار سره په ترس چلیږي دا اولاد ولې دومره نافرمانه ،
دا سې سرکشه ، او دومره احسان فراموشه شي ؟ .....

خدائے پاک دې شمشیر کاکا او بخښي - د پر ښه سړے وُ - د پر
نیک انسان وُ نمو .... د پر زړه چاوُدے د د نیا نه لاړو - د د نیا ټول
غمونه او مصیبتونه رایوځائے شوي وو او د شمشیر کاکا ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړې نه بور شوے وُ - د شمشېر کاکا د ژوند دوېم نوم غم وُ- اوښکې او سلګۍ چې د ژوند په آخرنو ورځو کښې د هغه ملګرے شوے وے - سلګۍ چې په آخر عمر کښې د شمشېر کاکا په شوند و مشته شوې وې - د هغهٔ تهول ژوند یوه سلګۍ وه یوه داسې سلګۍ چې د هغه د ړېر هر پرهر زړهٔ دتل نه به راپورته کېده - د هغهٔ د زړهٔ د مُسېد ونکو پرهرونو نه به راپورته کېدہ - د هغهٔ د زړهٔ د تنهاکونه به راپورته کېده - د هرې سلګۍ سره د شمشېر کاکا دا خیال ژوندۍ کېدې چې د به لږ قلار شي څرپېکې به لږ پې په آرام شي - خو د هغهٔ دا خیال غلط وُ د ردونه او غمونه، څرپېکې او فریادونه اوس د هغهٔ د ژوند سره بېخي غاړه غړۍ شوي ووُ - او چې ژوند ختم شو، نو سلګۍ هم په قلار شوې - د ردونه هم په توې و غرونو سر شول -

اوس د شمشېر کاکا په رګونو کښې نهٔ وینه ژغلېده اونهٔ د هغهٔ په شونډو او وچې سپېرې سلګۍ نورې پې - اوس د هغهٔ په سینه کښې نه پرهر زړهٔ حرکت کولو اونهٔ د زړهٔ د تنهاکونه اوچ د ردونه راپورته کېدل - هرڅهٔ یخ یخ شول - چې شمشېر کاکا یخ شو نو پرهرونو هم نولې وروستۍ - تنهاکې او چودل اوسلګۍ په قلار شوې -

شمشېر کاکا! نهٔ یم خبر چې د مرګ په وخت به ستا احساسات څهٔ ووُ - چې تابه څومره په نامرادۍ مرګ ته غاړه اېښودلې وې - چې تابه څومره په نامرادۍ ساه ورکړې وې -

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے غم ژپلیه شمشیر کاکا خدائے دپي اوبخښه - هغه دنیا دپي ښائسته شه - دَ دپي کړاخ ژوند په بدل کښې دپي دَ هغه دنیا ژوند دَ خوشحالونه ډک شه - کهٔ دلته دَ دنیا په اوسېدو ښکو کښې انصاف نشته نو نه یه وي خو دَ الله تعالیٰ په دربار کښې انصاف شته - پي انصافي نشته - زور زیاتے نشته -

رونو دَ شمشیر کاکا دَ ژوند قیصه، د غمونو قیصه ده - دَ اسوپلو اوفریادونو قیصه ده، دَ دردونو اوفریادونو قصه ده - په دې قصه کښې عبرت دے نو دَ هغه چا دپاره چې د چا دَ زړهٔ ستر کې بیناوي - چې د چا احساسات ژوندي وي - چې ضمیر ئې مړ نه ژوندے وي -

دا سې ځي یاد شي لکه دا ساعت چې دَ شمشیر کاکا زوے کل شیر پیدا شو نو دې پرې نو خوشحالی اوشوې - دَ شمشیر کاکا دَ خوشحالی هډوځهٔ انتها نهٔ وه - هغه خوشحاله وه چې دَ هغه دَ جائیداد مالک پیدا شو - دَ هغهٔ وارث پیدا شو دَ هغه ملاتړ پیدا شو نو ځکه نو دومره ډېر خوشحاله وو کنه -

کل شیر دَ پلار ایکې یو زوے، دَ مور دَ ستر کو تورے او دَ پلار دَ زړهٔ ټکورے ډېر نیازبین وُ - دَ مور پلار د غه ایکې یو نیازبین زوے په نازونو نعمتونو کښې دَ ژوند ښې ورځې تېرولې - ورځې په میاشتو او میاشتې په کلونو بدلیږے - لاړو له نخښهٔ کل شیر زلمے شو، او شمشیر کاکا دَ کل شیر په وادهٔ کښې سستي اونهٔ کړه او سمدستي ئې ورله وادهٔ اوکړو - دَ کل شیر دَ وادهٔ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پومبي کال د کل شپې مورمړه شوه شمشېر کاکنده شو - يو اڅې شو،
د ژوند په لويه لاره تګ نو يو لوئے شوا خون وُ نو شمشېر کا د کل شپې
په داډ د تنهايۍ احساس ځان ته نزدې نه ئې پر پښودو - د کل شپې
بچي شو - ماشومان شو، هغه د خپلو بچو سره مشغول شو - او
داسې مشغول شو چې پلار تر چې نه هم هېر شو - پلار يو فالتو
څيز شو يوه بې کاره پرزه شوه - کله کور کله بهر د خپلې تنهايۍ
احساس ئې په سينې پورې نيولے وُ - د خپل ژوند نه نو شحاله نه وُ -
ځکه چې هغه نو خپلې ټولې نو شحالۍ اوس کل شپې پورې غوټه
کړې وې - او کل شپې د پلار نه بې پروا د ژوند په دګې سکه
بې مهاره اوښې روان وُ - دولت وُ جائيداد وُ - دومره جائيداد چې
کل شپې پرې خاني کو له - دا جائيداد کل شپې نه وُ پېدا کړے - دا
د شمشېر کا د سرخپراتو وُ چې کل شپې پرې خاني کو له - کل شپې
خاني کو له او دهغه پلار شمشېر کا کا په خپل کور - خپل جائيداد کښې
د بې ارزې ژوند تېرولو - هر څه ئې ليدل - د کل شپې سلوک او رويې
ته ئې کټل نو په خو له ئې غږ نه کولو - ځکه چې کل شپې د پې
نيازبين وُ - دومره نيازبين چې پلار ورته يوه خوله ګيله قدر له
هم نه شوه کو لے - نو د خپل نيازبين زوے په بې رُخۍ او بې
پروا هۍ به هر وخت غمژن وُ - او چې د شپې به په کټ کښې
پر پو تو نو ټول شپه به ئې په ستر ګو ستر ګو کښې تېره کړه -
د پرو غمونو او فکرونو شمشېر کا د زړه ئې په رنځ اخته کړو -
سالنده ے ئې سنګرے شو - لاړو هغه لوبو رنګ شمشېر کا په لږ مودّه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ هډوکو پنجرهٔ شوه ..... شپه ورځې تېرې اودَ سینې خرڅارے
اوودسره بلغم دَ شمشېر کا کا دَ ژوند مګرۍ شول اودَ پلار دَ سینې
خرڅارۍ دَ بې واره تېرې او بلغمونو نه کل شپږ تنګ شوے ؤ۔
او رشتیا خبره نه وداده چې زوئے له اوس دَ پلار نه کوکه ورتله هغه
نهٔ غږ بنډل چې دهغهٔ ماشومان دې نیکهٔ ته نزدې شي نو په دې
وجه کل شپږ په کورکښې یو خواته وړه غونډې کوه تنهی وه هغې کښې
دَ پلار کټ واچولو د اوبو مګے ې ورته کښودو او کټورے ې پرې
مسکورکړو ۔ لاړو شمشېر کا کا په خپل کورکښې دَ ځان له دنیا خاوند شو۔
تنګه تړشه کو تهنی ځان له یو خواته چې نهٔ پرې دَ چا لاړوه او
نهٔ به ورله ځوک راتلل ۔ تېره له ورځ تېرې بلغمونه او تنهائي
دَ هغه مګرۍ وو۔ دغه ې کور شو، او په دغه کورکښې به دشتهٔ
جائیداد خاوند ۔ دشتهٔ زوئے پلار شمشېر شپه ورځې یواځې پرووُ۔

او یوه ورځ چې دکل شپږ زلموتے زوئے اسلم دنیکهٔ کو تهنی
ته راغلو نو شمشېر کا کا ځان ته را نزدې کړو ۔ په تندی ې ښکل
کړو او ورته ې اووے چې. چیه دا سردې لږ زما په سینه کښودۍ۔
او هرکله چې اسلم دَ خپل نیکهٔ په سینه سر کښودو نو شمشېر کا کا
ې په ویښتو کښې کو ې وهلې او د نیے رنیے اوښکې ې دَ ستر کو
نه څپلې ې ۔ دَ اوښکو بهیر دَ بابا دَ ستر کو نه راروان ؤ او
چې اسلم سر راپورته کړو نو... ده تهٔ وې ژاړې بابا یخنې
دې کیږي اودږه چې کمبل درله راوړم" ..... نه چیه زما
یخنې نهٔ کیږي ۔ زما ځوکې یې کیږي ۔ زما په سینه کښې اوربلیږي ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه بابا نن ډېره یخني ده - اودرېږه زهٔ تالاکمبل راوړم"

"نه. پکیه زهٔ اوس دکومې یخنۍ دَ احساس دَحد نه تېر
شوے یم - اوس زمانهٔ کرمي کېږي اونهٔ یخني"

پکیه خدائے دې لوے کړه - دخپل پلار په بنه راشې ستاسو
دغم د آواز نه مې خدائے ساتله - خُه پکیه لاړشه لوے شې -

اوُ .... اسلم چې کورته را غلو نو پلار ته ټې اووے چې
دَ بابا ډېره یخني کېږي - نو.... کل شپر ډېر په بې پرواهۍ
سره زوئے ته اووے چې ورشه په کودام کښې هغه زړه
کمبل پرته ده هغه را واخله او واړې چوه پرې - اسلم دَ
کودام نه کمبل راواخسته را غلو دَمورنه ټې قېنچي اوغو
پلار تړې نه تپوس اوکړو چې .... قېنچي څهٔ کوې پکیه -
اسلم ورته اووے چې دا کمبل یه دوه خُایه کړم نیمه به
په بابا واچوم او نیمه به سنبالله کېدم چې صباله تهٔ دَبابا
په رنګ بوځ او ناتوانه شې نو دا پاتې نیمه کمبل به بیا
زهٔ په تاباندې واچوم دَ اسلم دې خبرې کل شپر لکه چې
دَ غفلت دخوب نه را بیدار کړو - دَ زوئے ولې او پلار ولې
احساس ټې ورله راڅرګند کړو - په خپل کوداري ټې شرمنده
کړو او په درنو درنو قدمونو کو ټهۍ ته روان شو
هغه کوټهۍ ته چې پکښې شمشېرخان بې پرسانه ډوند
تېر ولو - چې پکښې دکل شپر پلار دَډوند شپې ورځې شمېرلې
..... زوئے د پلار نه دمعافۍ غوښتو دپاره روان وُ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوے پلار ته په پښو پرې پوتې دپاره روان ؤ زوړند سر -
ملامته ملامته چې دکوتمې دروازه ټکې لرې کړه نو په پلار
وړې پوتې .... " بابا زهٔ معافي غواړم زهٔ بخښنه غواړم ما
وبخښه - زهٔ په خپلو کړو پښیمانه یم ما معاف کړه بابا .....
(ژاړي) د اوښکو سپلاب د ګل شپې د ستړګو نه روان ؤ -
شمشیر کاکا خپل زوے خپلې سینې ته راښکدې کړو - د سر
ویښتو کښې ټکې ورله ګوټې وهلې -
د دا ستا وښتهٔ نو هم هغه رنګ پاستهٔ دې .چیه .....
ستا د دې وښتونه نو هم هغه رنګ نوښ نوښ بوټې راځي
لکه چې په وړوکوالي به ترې ختو - .چیه د مرګ نه ځنکښې
ې دا ارمان وُ چې تا یوځل بیا خپلې سینې ته راښکدې کړم
او ستا د وښتو دا مړاوې مړاوې خوشبویه یوځل بیا زما
په سپینو مو ورښوځې - او زما زړهٔ ته آرام او سکون
اورسي - نو .چیه تهٔ جوړ جوړ نا اوزګاره وې دومره ناوزګارهٔ
وې چې زما دا معمولي غوښې ارمان دې هم نهٔ شوپوره کولے -
... نو شکر دے چې نن را غلې - شکر دے چې نن زما د زړهٔ
ارمان پورهٔ شو - اوس به زما ساه په قلار او سکون سره
روځي - خدائے دې خوشحاله لره تود باد درباندې او مه لږه -
د ژوند په نوښو موښې - د سړې دې لږ زما په سینه باندې
کښده کل شپه چې د زړهٔ ې لږ په قلار شي - او زما روح په
آرام او اطمینان سره اوځي .... په دې کښې په شمشیر کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سالنډۍ دوره را غله - توغ شروع شو - سالنډۍ لنډه شوه -
او یو ځل چې شمشیر کا کا یوه اوږده سا را کښله نو بیا واپس نه
شوه - بیا هم په بدن کښې دننه مړه شوه - بیا دغې سا هم د
شمشیر کا کا په وجود کښې ساه ورکړه اود دنیا د غمونو - مصیبتونو او
شوانون نه د ټول عمر د پاره خلاص شو - کل شپږ په نچلو کړو
پښېمانه ؤ - د پلار سره په دې سلوک نادمه ؤ دومره نادمه چې د پر
ې اوژړل د پرې اوښکې ې توې کړې نو روس هېڅ هم نه شو
کېدے اوس وخت تېر ؤ - اود رحمان بابا خبره -

ترورخه تېرې اوبه بېرته نه جاروځي
نه جاروځي تېر ساعت په بېرته بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه مئینان

نڈۀ پو هیږم چې د روح تسکین به انسان ته کوم ځائے حاصل شي دا سې به کوم ځائے وي چې انسان به د دنیا د دې کشالو د دې لانجو کونجو ـ د دې مصیبتونو او ډډۀ چاودون نه د ځونډ یو ځوکھړی په آرام او اطمینان تیر کړي ـ په دې دنیا کښې خوځونډ پرکې ان شو ـ هرطرفته خود غرضي او فریب دے ـ اولاد خود غرضه خپل خپلوان خود غرضه ـ دوستان خودغرضه اوګلهٔ ګلهٔ خو مور او پلار هم خود غرضه شي ـ د مور په ستړګو هم د حرص پرده دې راواړي ـ مورهم د نام ونمود په خپ سپلاب کښې لاهوشي مورهم د خپل اولاد د پاره ظالمه شي ـ دومره ظالمه چې د هغې د ظلم داستان د انسانیت په لمن توړ داغ شي ـ د هغې حرص د ځوان روئے ـ د زلمي روئے د فرمان بردارۀ روئے په ځونډ کښې ازغي اوکسي د هغهٔ د ځوانۍ په لار کښې غټې چوکه کړي ـ نو دا سې مورته به هم کنې ځوک مور اووایې ـ دا سې مور هم کنې هغه مقدسه هستي ده چې د چا د قدمونو د لاندې جنت دے؟ ځهٔ اووېم نو ـ په دې حقله خو زهٔ خپله رائے نشم ورکولے ـ زهٔ په دې حقله هیڅ هم نشم وئیلے ـ ځکه چې په دې کښې د ځهٔ وئیلو هډوکنجائش

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشته؟

رونړ! زړهٔ دَ تاسونه ټپوس کوم - تاسو ماله زما دَد چې
ټپوس جواب راکړئ چې کومه مورچې نهه۹ میاشتې اولاد په نس
اوکښلوي دوه کاله پرې یاتې چې دَ زړهٔ وینې اوخښوي چې
دَ ژوي اوبدې اوبه دې شپې ورسره شوکیږه کړي - چې
په زړهٔ چاوُدون او شوانجون ټې لوټ کړي نو دغه موږ
هم کله دَ دغه اولاد سره زیاتې کولے شي - په دغه اولاد
باندې ظلم کولے شي - او دخپله لاسه ټې دَ غمونو اوُ
مصیبتونو کړنګ ته ورلږه کولے شي؟ ..... تاسو به وائئ چې
نه، مور دومره ظالمه کله ے نهٔ شي - سړدومره سنګدله
کله ے نشي - ځکه چې اولاد نه دَمور دزړهٔ ټکړه وي -
اولاد نه دَمور ژوند وي - دَمور ساه وي - نوخپل ژوند
نه خوک پخپله نشي ناقلاره کولے - خپله دَ زړهٔ ټکړه
نه اورته دَ خپله لاسه نشي ورلږه کولے، نه ... رونړ
شته په دنیاکښې داسې میاندې هم شته چې د دنیا حرص -چې
دَدُنیالالچ او نام ونمود وربانده داسې ستړکې پټې کړي، چې
دَخپل زړهٔ ټکړه پخپله، په خپل لاس دَ اورسره لمبو ته
ورلږه کړي -

اسلم مې یادشي - هغه دَ انسانیت رو شرافت نمونه مې یاد
شي - هغه دَ مور دَ ستړکو تور مې یادشي - هغه چې هروخت
په ټې دَمور ستړکې ته کتل - چې هروخت به ټې دَ مور خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کتل - هغه چې هروخت به مورته لاس په نامه ولاړ وۀ - اسلم
خپل ژوند د مورخدمت ته وقف کړے وۀ - د مورد دعاګانې د
اسلم سره وې - د نیمې شپې په خاموشو کښې چې ټوله دنیا به
په خوابدۀ خوب اودۀ وه، د اسلم مور به خدائے پاک ته په
سجده پرته وه - د اسلم د کامیابۍ او کامرانۍ د دعاګانې به ې
کولې - اوښکې د دغه مور د دعاګانو برکت وۀ چې اسلم د ژوند
په لارې په کامیابۍ سره روان وۀ، ژوند ځې په ورانډې روان
وۀ - د اسلم د مور ارمانونه زړېدل د کنډ ټون د بې ازرۍ
د ژوند هغه په غم لړلې ورځې شپې تېرے شوې او هیرې شوې -
اسلم ډاکټر شو - د مور د زړۀ یو ډېر لوئے ارمان پوره
شو - او اوس نسکه د نورو په میان و په شان د اسلم د مور په
زړۀ کښې هم د روے په سر دوادۀ د څهرو د لید و ارمان غږونې
اوکړې - هر وخت به په دې سوچونو کښې ډوبه وه چې هغه
به کومه ورځ وې چې د اسلم سره ډولۍ په کوڅه راودنه کړي -
بل خوا ته به اسلم هم د تصور په پوه رنګینه دنیا کښې هر وختې
ورک وۀ - د مینې او محبت یوه رنګینه دنیا چې کل سانګه د دغې
دنیا بناپښې وه - د د محبت شهزادګۍ وه او ولې به نۀ وه
کل سانګه خو د د تورلور وه - چې د د په نامه ناسته وه
چې په ورځو کوالي کښې د دوارو د قسمت فیصله شوې وه، چې
د ورځو کوالي نه دوارو د یو بل په حقله سوچونه کول -
کل سانګه د اسلم سیاله وه - او څکه د اسلم ډېره زیاته خوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه - هغه په خپل زړۀ کښې د ګل سانګې د ډاره د مينې تاج محل د
ځوانه جوړ کړے وۀ - او ځکه نو به اسلم د شپې په خاموشۍ
کښې اکثر د ګل سانګې په حقله سوچونه کول نو اسلم د مورد
ارادو نه ځۀ وۀ خبر - هغه ته پته نۀ وه چې د مور په ستړګو
د دولت پرده راوړې لې دي - د هغې نه خپله غريبي هيره شوې
ده د هغې نه خپله ناداري هيره شوې وه ، ځکه چې د هغې
په خيال اسلم اوس لوئے سړے شوے دے - اوس اسلم پيسې
کمې - د کتې خاوند شو ، په دواړو کسانو کښې ئې نوم اختے شي ،-
نو ځکه نو د هغۀ د مور ارادې بدلې شوې - د هغې خيالات
بدل شو - اوس د هغې په نزد د اسلم او ګل سانګې جوړنۀ
برابرېدل و - ځکه چې ګل سانګه غريبه وه - تر لسم پورې
تعليم ئې وۀ نو د اسلم د مور په نظر کښې د تعليم د پرکم وۀ - هر
څوکه ګل سانګه د اسلم د مور ځورزه وه سکه ځورزه ، نو هغه
سکه ځورزه کۀ هر څو د دې ځورزه وه نو غريبه وه ، او چې غريبه
وه نو د مور په خيال کښې د اسلم سره ئې جوړنۀ برابرېدل و ځکه
چې اسلم اوس د اکثر وۀ ، او هغه به هر ما شام د روپو پنګه مور
ته جولی کښې اچوله - نو بيا ؟

بيا د اچې د اسلم مور هيڅ کله د انۀ غوښتل چې د ګل سانګې او
اسلم د رشتې په حقله خواني لوظ له عملي شکل ورکړي - نتيجه د
شوه چې د اسلم مور خپلې خور له جواب ورا ولېږلو چې لور دې
سنبهال کړه - ستالور زما د زوے سيال نۀ ده - زما اسلم اوس هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلم نهٔ دے پچې ستانور ورته ترغاړه کړم - زهٔ به اسلم له وادهٔ
کوم نحو..... دچا عزت دارو کړه د چا یادو خلقو کړه - د جرګو مرکو
خلقو کړه ..... د مور دا انکار د اسلم دپاره د شیخ آسمان تندر
وهٔ - مور د ستر کو په رپ کښې د روئے د مینې په دُنیا اور اوګلولو-
د هغهٔ د مینې تاج محل ټې درې وړې کړو - اسلم مورته زاری اوکړې-
منتونه ټې ورته اوکړهٔ - په پښو ورته پرپوتو چې مورې دا ظلم
را سره مهٔ کوه - دا زیاتے را سره مهٔ کوه - کل سانګه پرده نهٔ ده،
ستا خوزه ده - کل سانګه پرده نهٔ ده زما د تُور لُور ده - زما په
نامه ناسته ده - د پخوا را سې ناسته ده، مورې اوبه شرمیږو -
په خپلو خپلوانو او چم کاونو کښې به اوشرمیږو - د خدائے خاطر
اوکړه چې دا سې مهٔ کوه -

نو د اسلم ذارو او منتونو د هغه مور د خپلې زړې نه منع
نهٔ کړے شوه - او چې څو ورځې تېرې ې نو خبره نوره شوه چې د
اسلم مور د اسلم د پاره د کوز کندې د خان کا کا لُور او غوښتله، او
د خان کا کا کور والاؤ ورته "نیه" اوکړه - خبره په ټول کلي کښې
نوره شوه - هرچا واؤړه ه - د هرچا تر غوږو او رسیده ه - اسلم
هم خبر شو او کل سانګه هم خبر شوه ..... کل سانګه ..... چې د
اسلم په تصور کښې ټې د ژوند ټینګې ورځې تېرولې چې اسلم سره د
نوې ژوند سوچونه ټې کول د اسلم په مینه کښې ورکې کل سانګې
چې د خان دپاره د مینې یوه رنګینه دنیا آبادول غوښتل - دې آواز
د هغې دنیا درې وړې کړه - د هغې زړهٔ غوښتل چې په چغو چغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوژاړي - خو هغې نه څخه و پټلے شو او نه پې څخه کولے شو - هغې
خو بښتل چې سيند ته ټوپ کړي او د خپل ژوند خاتمه اوکړي -
خو پښتنې پېغلې نه سيند ته ټوپ کړو او نه پې جاموته اوړپورې
کړو - غم پې زړه ته واړولو - چې پې اونيوو - هروخت خامو شه
هروخت لکه چې د فکرپه ټال زانګي - هروخت په فکرونو اوخيالونو
کښې ورکه - نه د دوتې فکر او نه د جامې - بس د نا خوالې ژوند
وه چې ټپر پد و - نو د نا خوالې ژوند به ترکومه پورې دا سې غلے غلے
او خاموشه ټپر پد و - ترکومه پورې به کل سانګې دا دومره درونده
غم دا سې په خاموشۍ سره کړ ځولو .... آخر اول ټوخے ، شپه ورځ
ټوخے - هروختې ټوخے ، او بيا ورسره ټبه - کله ټيزه او تنده ټبه
او کله نرۍ او مړه ټبه ، ټبه او ټوخے دوه مرضونه د کل سانګې په
وجود پورې لکه کوڼې او نښتل - او د غه کوڼې د ننه دننه
د کل سانګې پر پوس ټوړو - د کل سانګې اړنه پې ځوړه - د هغې زړه
پې ټوړو -

بل ټوا ټه د اسلم حالت هم ښه نه وُ - مور به ورته هره ورځ
د وا ده په حقله وے چې بچيه پردې لُور به ترکومه پورې ناسته وي .
هغوئ به ترکومه زمونږ انتظار کوي - اسلم به مورله هيڅ جواب
ورنکړو نو په ستر کو ستر کو کښې به پې ورته اووے چې مورې زه
وا ده نه کوم - خدائے خبر چې ولې ما ته دا سې بنسکاري چې ستا دا
ارمان به شا ئد چې هم د غسې ارمان پاتې شي - شا ئد چې ستا زما
په سر دوا ده د ځهرو د ليد و ارمان پوره نشي - اسلم به هروخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان له ناست وۀ - د فکرونو په ټال به ځنګېدو - نۀ به کلینک ته
تلو او نۀ به ېې مریضان کتل - د هرڅۀ نه ېې زړۀ مور وۀ - ورځ
په ورځ به ېې صحت پرېوتو - دا سې معلومېده چې اسلم نکه ناجوړه
وي، د پر ناجوړه وي - خو کۀ ناجوړه وي نو بیا دې د ځان علاج
اوکړي کنه - دے خو ډاکټر دے، دے خو په خپل مرض او د د غه
مرض په علاج د هرچانه ښۀ پوهېدے شي - خو..... هغۀ ته کۀ
خپل مرض معلوم هم وۀ خو علاج ېې هغۀ سره نۀ وۀ - بلکې دهېڅا
سره نۀ وۀ د ېو ډاکټر سره هم، ځکه چې د هغۀ مور د هغۀ په
زړۀ کښې دا سې پرهر جوړ کړے وۀ، چې د هغې نه ناسور جوړ شو..
ناسور، هغه ناسور چې علاج ېې نشته، هغه ناسور چې رغېدن
توپې نشته، هغه ناسور چې انجام ېې مرګ وي - نو اسلم په ناعلا جه
مرض پرېوتو - مور د پرې منډې تړې اووهلې - د پر علاجونه
ېې اوکړل - په د پرو ډاکټانو ېې اوګڼولو - خو آخر ډاکټر انو جوابي
کړه - ډاکټرانو ورته اووے چې د ځوورځو مېلمه له څرونډ په بیعه
نۀ شي اخستے - هسې ځان مړ کړه وه ..... او آخر یوه ورځ زېرے
ماځیګر چې د ورځې نمر ستړے ستومانه د غروتو نه پناه کېدو نو
اسلم خپلې مورته اشاره اوکړه - ځان سره ېې کښېنو له او ورته
ېې اووے -

"مورې زما د ژوند شمعه په ګل کېدو ده - په دې کښې
شک نشته چې زما مرګ به ستاد پاره یوه لویه صدمه
وي، خو د خدائے په کارونو کښې څوک هیڅ نشي کولے

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورچې زما په زړۀ کښې پرهرونه وي - زما د زړۀ نه وينې
څاڅي - ما ډېره موده غم په زړۀ اوګرځولو - نو دې غم
آخر زما زړۀ سوړے سوړے کړو - زما ژوند په ختمېدو
دے - نو د ژوند په دې آخرنو سلګو کښې زۀ تاته داسوا
کوم چې لاړه شه کل سانګې ته په سر لاس را کاږه خپلې سينې
ته پۀ دانزدې کړه او ورته اووايه چې د تقدير يک نوريدے
نشي - دا به زمونږ په قسمت کښې يې کلي وُو - مورچې د
کل سانګې د ذهن نه د غريبۍ احساس او باسه - او
..... ورته .... او .... وايه ..... چې .... (ساه ورکړې)
(اسوپلے) اسلم خپره پوره نکړے شوه .... يوه ورځ
غوندې سلګۍ پۀ اووهلې او د دواړو د ښکونه پۀ دوه
څاڅکي توږ وينه راروانه شوه واقعي چې د اسلم
زړۀ او چاؤدو .... څومره توره وينه وه، او توره
به وې نۀ وه، .. چې د هغۀ په زړۀ او سينه کښې
اوربلېدو اسلم مړشو، اسلم ځواني مرګ شو - او چې
څۀ وخت کل سانګې ته د اسلم د مرګ خبر اورسېدو
نو او چته په کټ کښې کښېناسته رنې رنې اوچې کلکې
سترګې پۀ اخواد څوا وارولې - نو .... په نوله پۀ
هېڅ اونۀ وے - هغې غوښتل چې په چغو چغو
اوژاړي نو پښتنې پېغلې ډرلے هم نشو ..... په
شوندو شوندو کښې پۀ دومره قدر له اووے چې ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټروري زویه آخرځواني مړګ شوې - آخر زړۀ چاوډے لاړې -
ټۀ څو ډاکټر وې .... د ټروري ډاکټره زویه تانځوبه د نورو
خلقو د رنځونو علاج کولو، نو د خپل رنځ علاج دې اونۀ کړے شو
داسې زړ دې مړګ ته ځان اوسپارلو - تانه نو زړۀ بنځه ډاډ
بنځۀ یم چې تر اوسه پې دمړګ مقابله اوکړه ..... اسلمه! زما نو
هم ډېره مودې کښې چې زړۀ چاوډلے دے - ما نو چې ستا د
کوڅې دې اوریدلي وُو لاپه هغه ورځ پې زړۀ چاوډلے وُو، نو ما
ددې هرڅۀ مقابله کوله ما نو ستا په ډاډ دا هرڅۀ ټپرول،
نو چې ټۀ هم لاړې نو .... اوس په دې ژوند کښې څۀ پاتې شو -
اوس به زۀ داژوند د چا په ډاډ ټپروم - نور ژوند ټپرول نو
ګران دي - ډېر ډ... پر (اسوپلے) په کل سانګې د ټوخي دوره
را غله ..... ډېره سخته دوره وه - او د څۀ ساعت ټوخي نه
پس کل سانګه غلې شوه .... چپ شوه ..... خاموش شوه - مور
ې را منډې کړې نو کل سانګه یخه یخه وه - غمونو ورله
زړۀ اوچولو - او زړۀ چاوډې د دنیا نه لاړه -

صبا سحر له د یو کلي د یو مالت نه دوه جنازې پورته شوې -
دواړه ځوانۍ مړکان وو - د دواړو زړۀ چاوډلے وُه او دواړه په
یوه اډیره کښې خاورو ته اوسپارلے شُو - ټول خلق خفه وُو - ټول
کلي ژړل - په دغه خلقو کښې د اسلم مور هم وه ..... بیرسر
پښې آبله پښې - سیرې کړ پوان - هغې هم ژړل - ډېر ې ژړل -
په وازه نوله ې ژړل .... ماوے چې ورشم اؤ ورته اووې چې اے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په جامه کښې د خپل زوئے دُشمنې ! خپل زوے دې د خپلہ
لاسہ د دولت د سرہ زار کړو - د زوئے خون هم ستا په غاړه دے
او یو اڅې د زوئے نه، د خپلې ځوزې هم - هغه هم ستا د حرص
او د نیا پرستی د سرہ زار شوہ ..... اسلم او کل سا تنګہ دوہ انسانان
وُو - دوہ مئینان وو - دوہ شهیدان وو - الله پاک دې ورلہ
په جنت کښې ځائے ورکړې - (آمین)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مُقدّسه هستي

رونې .... نوبنو رونې .... نن به دَ څهُ ساعت دَ پاره خندا پرې پرې دو .... د څهُ ساعت د پاره به ټوقې وشتې پرې پرې دو راځُې چې د دنيا د دې رنګينونه د دنيا د دې هنګامونه ..... د دنيا د دې نظارونه د څهُ ساعت د پاره يو خواته لاړشو .... لږ تنهايۍ ته لاړشو .... لرې نه .... يلکه نږدې .... ډېر نږدې ..... دا خپل سرونه به لږ په د دې خپلو ګرېوانونو کښې ښکته کړو .... خپل احساسات او خپل جذبات به لږ راوُلړزوُو ..... د خپل زړهُ پرې د دې به لږ پې راولټوُو د د دې خپل زړهُ نه به لږ ټپوس اوکړو .... دوُمره قدر له ټپوس چې اے زما زړهُ ته ولې ناقلاره ېُ ..... ته ولې پرېشانه ېُ ..... ستا د پرېشانو څهُ علاج شته - ستا د پاره اطمينان شته ؟ .... اوُ! د ناقلاره زړهُ د پاره قرار شته ، د پرېشانه زړهُ د پاره تسکين شته - خو کهُ چرې مونږ د خپل زړهُ نه ټپوس اوکړو .... مونږ په خپل ګريوان کښې سرونه ښکته کړو .... کهُ چرې مونږ د خپل عمل جائزه وا خلو .... نو تسکين او اطمينان .... سکون او خوشحالي هرڅهُ شته - هرڅهُ پيدا کېدونکي څيزونه دي ..... هرڅهُ موندے کېدونکي څيزونه دي .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان الله تعالیٰ اشرف المخلوقات پیدا کړے دے ..... د ټولو مخلوقاتو نه افضل د ټولو مخلوقاتو نه غوره .... نو یو دومره افضل مخلوق دومره غوره مخلوق، څنګه ناقلاره کیدے شي - څنګه پریشانه کیدے شي ؟ .... راځئ چې مونږ صحیح انسان شو، نو اوګورئ چې د دنیا ټولې خوشحالۍ زمونږ نصیب کیږي اوکنه ..... راځئ چې داخیل سرونه هغه لوئے الله ته بنکته کړو، چې کوم رازق دے، کوم مُسبّب الاسباب دے - چې د چا په اختیار کښې زمونږ ژوند او زمونږ مرګ دے - راځئ چې د انسان خوشامدي پرېږدو - راځئ چې انسان ته صرف د انسان په نظر اوګورو، د رازق په نظر نه .... راځئ چې انسان صرف انسان اوګڼو خپل خدائے او خپل رازق نه - راځئ چې په خپل خدائے باندې د مضبوط ایمان او مضبوطې عقیدې ټوټه ټوټه واخلو - راځئ چې په دې ژنګ د خپلو ټولو پریشانۍ او مصیبتونو خاتمه اوکړو د زړهٔ تسکین الله تعالیٰ ته په سجده اوکولو کښې دے ..... د روح تسکین د الله په دربار کښې په زاري او منت کښې دے - د دنیا او د آخرت ټولې خوشحالۍ ټولې سُکالۍ د الله تعالیٰ په حضور کښې شته، نو راځئ چې داخیل سرونه هغه ته بنکته کړو، او د خپلو مشکلاتو او مصیبتونو د حل دُعا ترې نه اوغواړو ..... یو حل نه، دوه حل نه، درې حل نه، ټول عمر... چې ترڅو پورې مو په بدن کښې ساه شته - چې ترڅو پورې مو په بدن کښې طاقت شته -

دا شو د تسکین او اطمینان یو مقام - د الله تعالیٰ په مخکښې سجدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا ؟ .... یو ځای یل هم شته ، یو مقام یل هم شته ، یوه هستي بله هم شته ، چې دېره مقدسه - دېره پاکه او دېره بزرګه هستي ده دغه زبرګه هستي مور او .. دغه مقام د مور د پښو خاورې دي - دغه مقدسه هستي مورده ، چې د چا د پښو لاندې جنت دے - دغه بزرګه هستي موردہ ، چې د اولاد دپاره رحمت دے - مینه ده ، محبت دے .... چې د چا د ستړګو یوه اونبکه دکانې په شان زړونه هم نرم کړي - موم کړي ..... د مورد ستړګو اونبکه ؟ .... اؤد مورد ستړګو په اونبکو کښې دومره طاقت شته چې عرش په لړزان کړي - د مور اونبکې د الله تعالیٰ غیرت والړزولے شي ، د الله تعالیٰ قهر او غضب والړزولے شي ، نو اے د میاندو زامنو ! ستاسو د زړونه ګڼي دکانې نه هم سخت شو؟ ستاسو احساسات ګڼي دا سې مړۀ شوي دي ، چې د مور د پاکو ستړګو پاکې اونبکې ئې هم والړزولے نۀ شي ... ؟

اے رو نۀ ! لږ په غور سره ، لږ په فکر سره د خپلې مور مخ ته اوګورئ ، لږ په ژور نظر ورته اوګورئ - نو په دغه مخ کښې به ، په دغه پاک مخ کښې به تاسو ته د انسانیت حقیقي تصویر بنکاره شي .... په دغه مخ کښې انسانیت شته ، په دغه مخ کښې شرافت شته ، په دغه مخ کښې ، د دغه مخ د ټندې په ګڼجو موښو کرښو کښې زمونږ دپاره محبت شته ، .... نو په دا سې مخ باندې ، د اونبکو سېلاب ګڼي زمونږ د انسانیت او شرافت په لمن تورتوري داغونه نۀ جوړوي ..... ؟ مور د ګورد برکت دے .... مور د ګور عظمت دے ... مور د ګور رنړا ده - اے د شتۀ میاندو زامنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور قدر اوکړئ چې دَ کور برکت موزیات شي، د مور په سر د مینې لاس راکاږئ چې دکور عظمت موزیات شي - مور خوشحاله اوساتئ چې دکور دنیا مو قائمه پاتې شي - مورمړ ژړوئ مورمړ خفه کوئ۔ مورمړ زیړوئ، کنې یقین اوکړئ چې خواږه شئ - سپک به شئ - او ژوند به مو په عذاب شي -

مور مورده - د انسانیت په دې ویړه دنیاکښې دَ مورنه ژیات همدرد کنې یل هم څوک شته ؟ .... نشته، بالکل نشته ....کنې نو دَ درد او تکلیف په موقعه دَ مصیبت او زړهٔ چاودون په موقعه به ولې مونږ چغې وهلې چې .... "وی مورې مړ شوم" ..... ولې د بابا نوم نهٔ اخلو - ولې د دادا نوم نهٔ اخلو .....؟

اے رونې دَ هغه ساعت نه اویرېږئ - د هغه موقعې نه اویرېږئ چې مور سر سرتور کړي او د الله تعالیٰ په حضور کښې دَ د اولادنه دَ فریاد د پاره لاسونه پورته کړي - په د غه فریاد کښې طوفانونه وي کورے - په د غه فریاد کښې قیامتونه وي کورے -

اے رونې ! لږ دَ مور ستړکو ته اوګورئ - دَ د غه ستړکو په ککو کښې اوګورئ - نو درته به معلومه شي چې د مور په د غه ستړکو کښې دَ د غه ستړکو په کسکو کښې دَ اولاد د پاره د مینې او محبت یو طوفان په غورزنګ دے - په د غه ککو کښې به تاسو ځانونه اووینئ - تاسو به پکښې دَ خپل ځان د پاره مینه او محبت بیا موئ - په د غه ککو کښې ستاسو د پاره کرکه نشته - نفرت نشته - بغض نشته، کینه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشته ، صرف او صرف مینه ده -

اے رونې ! تاسو یقین اوکړئ چې د مور شال د کل دے - کل - یو غوړپن لے کل یو مسپد لے کل - بلکه مور خو د کل نه انبا ئسته ده - د کلاب نه بنائسته ده - کل هر وخت مسکے وي ، خو چې ترڅو د خزان سپپړ و بادونو نه وي وهلے خو چې د خزان سپپړه سیلی راشي نو کل مرا وے شي کل اوړپږي - او مور ؟ د خزان سپپړ بادونه د مور د شونډو نه ، د اولاد د پاره مسکا نه شي ختمولے - مور اولاد ته تل په خنده وي - تل به ورته مسکے وي ، ان که د دنیا ټول غمونه او مصیبتونه د هغې په برخه شي نو هم - د خدائے په مخلوق کښې د ټولو نه بنه او افضل مخلوق مورده ، مور د اولاد په شکل کښې یو انسان زپږوي مور د انسان ژوند جوړوي ، مور انسان ، د انسانیت درجې ته رسوي ، مور انسان ته په بنه بد کښې تمیز نسائي - د مور جولیه د انسان د پاره اولنئ مدرسه ده -

د اولاد د پاره د ټولو نه بنه ځائے د مور زړه دے - د هر اولاد د پاره د مور په زړه کښې ځائے شته ، د اسې ځائے چې هلته د مینې او محبت نه سوا بل څه هم نشته نه -

اے رونې ! د هغه زړه خیال اوسائئ ، کوم زړه چې ستاسو د آرام د خاطره تل ناقراره وي - د مور زړه د اولاد د پاره څومره تکلیفونه ټپر کړي دي - څومره غمونه پئ ټپر کړي دي - څومره زخمونه پئ خوړلي دي - او دې دومره تکلیفونو او مصیبتونو هم چې د مور په زړه کښې د اولاد د پاره نفرت راپیدا نه کړو - بلکه په غم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصیبت کښې په تکلیف او شونډون کښې د اولاد دپاره د مور په زړه کښې مینه او محبت نور هم زیات شي ۔

نوے رونې! واسې هستي ۔ دا سې خو به منه مور هم کښې د خراب سلوک حقداره ده ۔ مور هم لاچې د ضد ونې او قصد ونې ده ۔ کوم دا سې یې قسمته اولاد به وي چې هغه په خپلې مورته سپک کوري کوم دا سې یې نصیبه اولاد به وي چې هغه به مور سره په ترس چلیږي ....

شته په دنیا کښې دا سې ناپوهه کسان شته، دا سې یې قسمته اولاد شته چې د هغوي د ناڕامودکښله د میاندو په زړونو پولې راختلي دي ۔ د هغوي د ظلمونو دلاسه د میاندو په زړونو تنهاکې خوږې شوې دي ۔

اے رونې دا پولې به آخر یوه ورځ اوچوي ۔ دا تنهاکې به آخر یوه ورځ تق ناڕې کړي ... او زهٔ تاسوته په یقین سره وایم چې د مور د زړهٔ د تنهاکو چودل به ستاسو دپاره یو قیامت وي ۔ ستاسو دپاره به دوزخ وي ۔ او به سوزیږئ کورے .....

لولپه به شئ کورے ۔ مهٔ کوئ رونې د خدائے خاطر اوکړئ چې د مور سره زیاتے مهٔ کوئ ۔ د مور سره په ترس مهٔ چلیږئ ۔ مورته سپک مهٔ کورئ ۔ مور مور ده، د مینې او محبت یو بحر .... د مینې محبت یو سمندر .... راشئ د مور احترام اوکړئ چې د عزت ژوند تیر کړے شئ ۔ راشئ د مور عزت اوکړئ چې په دنیا او آخرت سرخروشئ ۔ راشئ د مور قدر اوکړئ چې ټولې پریشانۍ او مصیبتونه موختم شي ۔ د مور دپښو خاوره چې جنت ته درسید و دپاره یو آسانه لاره ده ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سزا"

ورستے پاروُ چرکانو کلے په سر راختے وُ - جُماکمل دچرکانو
یانګونه اورپدل - نحو اړخ پُې واړولو اوځ سرُې په
برستن کښې را ونغښتل - خدائے خبر چې څهٔ چل وُ
نن دهغهٔ زړهٔ پاسپدو تهٔ نهٔ کپدو - نن دهغهٔ زړهٔ
وټل چې دا شپه نورهٔ هم اوبده شي - دومره اوبده
شي چې دصباکپدو ویره هدو ورکه شي - هغه د شپې
نه په پټي کښې تخم شیندلے وُ په دې نیت چې سحر
وختي به پټے اوځم ..... هغه ته پټے او شیندلے تخم
دواړه یاد وُو - نحو بیا پُې هم پاسپدو ته زړهٔ نهٔ کپدو
..... بنهٔ ساعت پس شو - د کوزکندي دَجمات نه دبانګ
غږ پُې ترغوږو شو ..... دپرنحوښ اواز وُ - دے دَبانګ
دالفاظو په معنیٰ نهٔ پوهپدو - دے په دې نهٔ پوهپدو
چې دې بانګ کښې په نحوابهٔ نحوب اودو دپاره کوم
پیغام اورولے شي - هرڅوکهٔ جُماکمل دَ بانګ په معنو نهٔ
پوهپدو نحو دهٔ له پُې نن دپرنحوښ ورکړو - نن دَ سحر
بانګ دهٔ ته مرګ رایادکړو - دے پُې په دې باندې پوهپدو
کړو چې دا دُنیا فاني ده او مرګ حق دے - دَ مرګ هیڅ وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نۀ دے معلوم ټول ژوندي به یوه ورځ مري - او زۀ .. زۀ
نو به هم یوه ورځ مرم .... او کۀ خدائے مۀ کړۀ زۀ نن
مړ شوم نو زما دا ماشوم زوئے او ځوانه ښځه به څۀ کوي،
دوئ به څۀ نوري - زما ځوانه ښځه به پردي خدمتونه
کوي؟ زما ماشوم زوئے به پردو کوڅو کښې لوغړې وي؟
..... دا به څۀ کېږي لویه خدایه ، دا به څنګه کېږي ؟
داسې نه او مۀ کړې خدایه .... ما نو دَ دوئ نه مخکښې
مړ مۀ کړې - دَ دوئ دَ سر نه نو زما سورے پوڑته مۀ کړې
.... نو سمدستي دَ جماکمل خیال دَ تصویر بل اړخ ته لاړو
او ځان نه پۀ تپوس اوکړو ، چې ما د دوئ نه مخکښې ټۀ
مړکئ نو مطلب دا شو چې زما زوئے دې زما نه مخکښې خدائے
پاک مړکړي چې دې یتیمی دَ سپېرۀ آواز نه پکې شي ....
زما ښځه دې زما نه مخکښې مړه شي چې دَ کُنډ تون دَ
سپېرۀ ژوند نه په امان شي .... نه نه دا سې هم او مۀ
کړې خدایه دَ فقیر کل بچي مرګ به زۀ څنګه برداشت
کړے شم - کۀ فقیر کل زما نه مخکښې مړ شو نو ماته به بیا بابا
څوک وائي او زۀ به نېغے چاته وېم بیا به پټي ته ماله روټۍ
څوک راوړي ؟ .... او کۀ ښځه مې مړه شوه نو..... دَ هغې نه
بغیر به زۀ څنګه ژوند نه پاتې شم - دَ هغې نه بغیر به دَ
ژوند څۀ خوند وي ؟
خدائے خبرې څۀ چل وُچې نن دې کا[illegible] راوړې کودړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالاتو دَجماکل په زړهٔ کښې طوفان راوستے وُ.... دَمرګ
اوژوند دَبې شمیرهٔ وسوسو یوهٔ ورانه ماشوره وه چې دَ
جُماکل زړهٔ او ذهن دواړه ټې پریشانه کړي وُو.... آخر
راپاسید و قُلبه ټې راپرانستله جغ ټې ورته په غاړه کښې
واچولو او بنځې ته ټې اووے "چې پتې ته ما پسې چاے
مُړ راپښه زما طبیعت خراب دے - غږې له سُکړک او
شوملې فقیرکمل له ودکړه چې پتې ته راوړې" -
قُلبه مخکښې اوجمعه کل ورپسې دکوټې نه اووتو- قلبه مخکښې او
دے ورپسې - اوهغه خیالات په ذهن کښې. بیا راتازه شو چې
کهٔ زهٔ مخکښې مړشوم نو بیا به څهٔ چل کېږي او کهٔ دوېٔ مخکښې
مړهٔ شول نو بیا .... بیا به څهٔ چل کېږي ؟ هم په دې پریشانه
خیالاتو کښې جُمعه کل پتې ته اورسېدو .... زړزړې قلبه
په پتې ورکړه کړه - په خپل سوچونو او فکرونو کښې ورته
هډو دَ وخت اندازه اونهٔ لګیدهٔ خوچې سر ټې راپورته
کړو نو نمر نیم آسمان له راغلے وهٔ - دجمعه کل زړهٔ سپین
سپین کېدو ..... دکلي په لارې یو نظر واچولو خو فقیرکمل
بشکاره نهٔ شو - دهٔ بیا غوي له چوکه ورکړه اوپه زړهٔ کښې
ټې اووے چې فقیرکمل روتې راوړې نو، نو مابه
دالې غوښتې وښکے اړولے وي .....
خو..... په وې کښې دکلي نه نمبردارسړے دا ولې لوچې خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلے دے ټول دهقانان راغلي دي فوراً ځجرې ته راشه -

زمونږ ټول کلے ددغې اکې یو خان جاګیر ؤ - او د کلي ټول

دهقانان د دې اکې یو خان لکه چې غلامان وو .....

خان به کله کله زمونږ د کلي چکر لګولو - په خپل جاګیر

به کې ځپه و او د خپلو دهقانانو نو د حالاتو به یې خان خبرولو -

دا اکې یو خان به چې زمونږ کلي ته راغلو نو دے به یو

سم کې یې کټ کښې لکه د فرعون کښېناستو او ټول دهقانانو

به په شنه مټه ددې خان د سلام دپاره ځان ځجرې ته

راوسولو او ګیر چاپیره به په مزکه دپښو په سر ناست ؤ -

نن هم چې دا اکې یو خان کلي ته راغلو ... په کټ کښې کښېناستو -

خلق په یو قو د سلام دپاره راوُ چلیدل او په مزکه دپښو

په سر کښېناستهٔ نو خان ګیر چاپیره په خلقو یو نظر واچولو -

ټول دا غلي وَو - ټول د سلام دپاره حاضر شوي وُو نو ....

جمعه کل ... ؟ جمعه کل په دې خلقو کښې نهٔ وُ - د ځانۍ ستر کې

د دې پرې غصې نه بر کې غوندې شوې - د نمبردار نه پُ

تپوس اوکړو چې څګه شهٔ شو ؟ هغه ورته وے چې

تخم پُ شیند لے دے دوه کیله ورته پاتې وو وے دا پتوم

نو در ځم .... د خان طبیعت خټه شو - په غوږونو نو پُ

دا خبره شهٔ رونهٔ ټکیده ، د ځان سره پُ ووے چې دا

نه دوه کیله تخم زیات راهم شو .... حکم پُ اوکړو

چې ورشئ لاس نیولے پُ راولئ .... دوه کسان ښکې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړل ... جمعه ګل ئې لاس نیولے راوستو - جمعه ګل خان ته
سلام اوکړو اوخپل عُذر ئې ورته پیش کړو - خان نه ئ
سلام واخستو او نه ئې دَدهٔ په عُذر غوږ اوکړولو...
حکم ئې اوکړو چې په خلورو لوی غوږونه او نیسه .....
جمعه ګل په چپه خوله غوږونه او نیول او بیا .... ؟ بیا
په حجره کښې یوه غټه تیګه ... ډېره غټه خدائے مې
دې غاړه نهٔ نیسي خو دُ لسو منونه به سپاوه په دې
تیګه به دَ کلي خلقو دَ لد رسی تهکولې .... حکم او شوچې
دا تیګه جُماګل ته په ملاکښو دئ .... خلورو کسان راپاڅېدل -
دغه تیګه ئې راپورته کړه او جمعه ګل ته ئې په ملا کښودهٔ
.... تیګه ډېره درنه وه - جمعه ګل ډېر فریاد ونه اوکړل، خو
دَ خان په زړهٔ دَ رحم اوبهٔ توئے نشوې -

بل خوا د جُماګل بسځې تنوی اچولے وُ - په تادی تادی
لګیاوه سکرکان ئې په تنور کښې پورې کړې وُو - هغې سره
دَ جُماګل فکس وُ - هغې ته پته وه چې سړي سحر چائے هم
نهٔ دې څکلي هغه به اوبدے وي - ډېر به اوبدے وي نو چې
روتهٔ ودله زر اولیږم - سکرکان ئې را اونهول په دسترخوان
کښې ئې زر زر روتهٔ ل - شوملې ئې په بټکي کښې واچولې
اوزوے ته ئې اووے چې بچیه په منډه پتهٔ ي ته څه پلار
به دې اوبدے وي ... دې ل دا خبره کوله چې په دې
کښې یو ماشوم په منډه منډه راغلو او دَ جُماګل بسځې ته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووے چې "خان" جمعه ګل باندې غوږ ونه نیوې دې او
د جمعې هغه غټه تیکه ټې ورته په ملا سوره کړې ده...
د جمعه ګل بنځې سینې له درز ورکړو - سرتوی سر پسې
پښې په شنه منډه جمعې ته په ژړا راغله - فقیر ګل هم
په مور پسې منډې وهلې .... مور او زوے دواړه په
ژړا انګولا په جمعې را ننوتل .... د جمعه ګل تېښ خان
ته منت اوکړو چې "خان" معاف ټې کړه - ماشوم فقیر ګل
ټې ورته په پښو کښې سوملولو چې د دې ماشوم دې ورانو
ورانو کړیکو ته اوګوره چې جمعه ګل معاف کړه .... نو د
خان په زړه کښې رحم را نغلو - د جمعه ګل د تېښ ژړا انګولا
او د فقیر ګل چغې د خان کانړے زړه نرم نه کړے شو - د
جمعه ګل فریاد رو رو په کمدو شو .... فقیر ګل د
پلار سرته ولاړ وو ژړل ټې - داسې ټې ژړل چې ورسره
ناستو خلقو هم ژړل د جمعه ګل تېښ هم ژړل او ورسره
ټې ګرېوان هم سیرې ویرې کړے وو - د سرو پښتنو ټې
هم په موټو موټو را شوکولې وو - د دې ره د غم نندارې
وه نو .... د خان غصه نه سړه شوه خو ځنګه به سړه شوه
جمعه ګل څه وړه ګستاخې نه وه کړې - د دې ره لویه
ګستاخې ټې کړې وه - او د دې دومره لویې ګستاخۍ
سزا هم د غه ده چې جمعه ګل د دې تیکې د لاندې ساه
ورکړي چې صباله بل دهقان د خان د داسې بې عزتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو جُرأت اونۍ کړي ..... او چې بې ساعت تپس پد و
نو جمعه کل یوه سلګۍ اووهله اوُ..... فقیر کل یتیم
اود فقیر کل مور کُنده شوه۔

انا لله وَ انّا الیه راجعون

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښېمانی

(اسو پلے) ټپر ماسختن وُ۔ شومه دم وه ۔ په تاخ کښې دَ شمشمو
ډیوه تته تته بلېده ..... دَ ډیوې تورو تورو لُوګو
په کوټه کښې دهند وکار جوړ کړے وُ .... شمشېر ډېر
کوشش اوکړو نخو خدائے خبرچې دَ هغۂ دَ ستر کو نه
نوب نن کوم نحو ا تښتېدلے وُ ..... هغه ډېر کوشش
اوکړو چې دَ سپنوی داخبره دَ ځپلو معزونه اوباسي
..... چې " لاس دې آزاد چې څۂ کولے شې اوکړۂ " .....
ډېر کوشش ېُ اوکړو چې داخبره هېره کړي دَ ځپلو مغزو
نه ېُ اوباسي نحو ..... خوندېُ اونۂ کړو ۔ دَ شمشېر په
سینه کښې دَ سپنوی خبرې اوربل کړے وُ ۔ ډېر سوچونه
ېُ اوکړۂ ۔ دَ زړۂ سره ېُ ډېر صلاحکانې اوکړې نو هېڅ
په حساب ېُ پوے نۂ شو چې څۂ اوکړي ... کومه لار
اختیارکړي .... خودکشی اوکړم ؟ نحو ..... چې په کتاب
کښې په خوابدۂ خوب اودۂ ماشومانو باندې به ېُ نظر پرې
نه ېُ اوباسي نحو ..... خوندېُ اونۂ کړو ۔ دَ شمشېر په
سینه کښې دَ سپنوی خبرې اوربل کړے وُ ۔ ډېر سوچونه
ېُ اوکړۂ ۔ دَ زړۂ سره ېُ ډېر صلاحکانې اوکړې نو هېڅ
په حساب ېُ پوے نۂ شو چې څۂ اوکړي ... کومه لار
اختیارکړي .... خودکشی اوکړم ؟ نحو ..... چې په کتاب
کښې په خوابدۂ خوب اودۂ ماشومانو باندې به ېُ نظر پرې
نو ..... خودکشي ؟ ..... زۂ خودکشي اوکړم ؟ ..... خان
اووژنم ؟ چې دَ خلقو دَ پېغورې نه خلاص شم ؟ نحو .....
دا سړې خولې ماشومان چا ته پرېږدم ؟ ..... دوېُ به

(c) ketabton.com: The Digital Library

څهٔ کوي ؟ دوئ به څهٔ خوري ؟ دوئ به بیا په پردو کوڅو
کښې لوغړې وي ؟ دوئ به بیا خپرونه غواړي ؟ ....
نه نه زهٔ خودکشی نشم کولے - زهٔ خپل ماشومان بچی پردو
کوڅو کښې لوغړې پدو ته نشم پریښودے -
(اسوپلے) په تاخ کښې بله ډیوه هم هغسې بلیده له - د ډیوې
تور لوګي د سپې بنکارپدل لکه چې د شمشیر د سینې نه راوتې
سایهٔ سایهٔ اسویلي د ډیوې د لوګو سره یوځای شوې
دي ..... هلته د ډیوې باتی سوزیده اودلته د شمشیر
په سینه کښې اوربل وُ - د انتقام اور - د دشمنی اور -
د بغوړ اُور - په شتهٔ جائیداد کښې شمشیر د نادارۍ ژوند
تیرولو - د غه د نادارۍ ژوند ئې نور نشو تیرولے -
هغه نور ناکام نشو کولے - او د سپفورۍ دې خیرې چې
"لاس دې خلاص کهٔ څهٔ کولے شې نو ....."
دې خبرې نو شمشیر دې ته تیار کړو چې یا ځان اووژني او
یا د زور په مړۍ زور کړي او خپله حصه ترې نه قبضه
کړي .... شمشیر د ځان سره کړل دهیل ... "په شتهٔ جائیداد
کښې دې زما بچي لوبډې تیروي - ولې په د غه جائیداد کښې
کنې زما حصه نشته ؟ ولې نشته ؟ نو بیا ؟ په ټول جائیداد
سپفورۍ ولې خپته اچولې ده ؟ زهٔ به ..... خپل حق اخلم -
ان کهٔ د سر په بدل وي نو هم - اودلته د روستي پاره په
بوکنوُ نکې خاموشی کښې شمشیر د خپل کټ نه راپاسیدو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړدنی ټې کسې اوبدې ته او تهوپک ټې بنې اوکې ته واچولو۔
..... ماشومان په خوابدۀ خوب اودۀ وُو۔ دَ دنیا دَ حاله
بې خبره ..... دَ خپل پلار دَ ارادو نه ناخبره په خوابدۀ
خوب اودۀ وُو۔ شمشیر په ماشومانو یو نظر واچولو....
دَ ماشومانو مور هم تهوله ورځ جامې وینځلې وې، هغه هم
دَ خان د حاله بې خبره په خوابدۀ خوب اودۀ وه .....
په تاخ کښې بلبدونکې دیوې ته ټې یو نظر اوکتل - دیوه
په سلګو وه - په آخرنو سلګو ..... او شمشیر ته هم خپله
ساه ځنډ نشوه لښته او رانبکلې سیکاره شوه،
شمشیر داسې محسوسوله چې لکه دَ دې دیوې سره دَدۀ ژوند
تړلے دے - دا دیوه په سلګو نۀ ده بلکه دَدۀ ژوند په سلګو
دے - او چې څنګه دا دیوه په سلګو سلګو کښې مړه شي دغسې
به زۀ هم په سلګو سلګو کښې مړشم - .....
نو زۀ ..... ؟ زۀ پښتون یم - زما په متو کښې زور شته -
زۀ به دا سې په آسانه ټوره دال نۀ غورځوم - په سلګو
سلګو کښې مرګ به زما دَ پاره پیغور شي ..... زۀ یو دَ
سپینو پیغور لمبه لمبه کړم نو صباله به زما بچي دَ ټول
کلي پیغور څنګه اوزغملے شي - نه نه زۀ خپل بچي دَ
پیغورونو په سومبو سُوري کښودته نشم پریښودے - کوم
څیز چې زۀ دخپل ځان دَ پاره غوره نۀ ګڼم هغه څیز څنګه
خپلو ماشومانو ته په میراث کښې پریږدم - ځم چې دخپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمنې نه د سپګو ډېغور داغ د توپک د شپلۍ نه
به وتې کولۍ والوځوم څم‌چې د سپورې په سرو وینو
دخپلې لمنې داتوردا غ د توره نه سُورکړم .... سُور داغ
تک سُور لکه سُور ګلاب (خندا) شمشېر دکې کې اونصرت نه
ډکه خندا اوکړه او لاړو د کوڅې نه اووتو- د تېرو تک تور
خادر په تول کلي را خوره وُ- یوه بوکنووُنکې خاموشي وه-
لکه‌چې د کلي تول خلق د مرګ په خوابده ځوب اوده وُو -
سپي هم توله شپه د غپېدو نه پس په بهوساړو او د
پلا پې په سنګرونو کښې اوده وُو- شمشېر په ټُنډو ټُنډو
قدمونو کوز کندي ته روان وُ - په زړه کښې پُې د انتقام
اوړپه قدم قدم لمبه کېدو - د زړه ځوکت پُې تېن پدو -
نبضونو پُې ټوپونه وهل ساه پُې لنډه لنډه کېده او
چې څه وخت شمشېرخپل منزل ته ورنزدې شو - د سپو
د کورلویه دروازه ورته ښکاره شوه نو د ټوپک داوبدې
نه راکوزکړو - جارچۍ ودله دک کې وچې ..... په دې
کښې د نزدې جمات د مناروله د لوئ الله د لویې کلیمه
الله اکبر په لاؤډ سپیکر کښې په تول کلي کښې غوره شوه،
مُلا د سحر په بانګ وپُلو شروع اوکړه شمشېر پښه نیولے
شو - خدائ خبرچې ولې نن د سحر بانګ د شمشېر په زړه کښې
یو نوے طوفان راپورته کړو - نن نور سحر بانګ دهغه دنیا
بدله کړه ..... ټوله نوره بانګ دے څوکړه زړه راکښونکے

(c) ketabton.com: The Digital Library

آواز دے - ملا بانګ وټلو او شمشیر ډخپلو احساساتو په
سینه لاهوو وُه ..... نو خدائے خبر چې څُه چل وُه چې نن دے
بانګ شمشیر په دې حقیقت باندې پوهیږي چې دا دُنیا
فاني ده - ډدنیا ژوند د شمشیر څوورځې دي - ډدې دنیا
هرشیئ فاني دے - دا هرڅُه په ډانسان نه دلته پاتې شي -
دوه لاس او دوه پښې به تر پې نه روان شي خو ډدې باوجود
هم څُنې څُنې انسانان ډحرص په خړ سپلاب کښې لاهو
شوي دي - ډدې باوجود هم یو انسان راپاسي اود بل
انسان په مړه چاړه راکاږي - یو زور راپاسي دبل زورډ
پخې ډخوښې نه نورې دا ډشوکوي یو زور راپاسي ډ بل
زور سینه ډ توپک په کولې غارغارکړي ؟ څومره ظلم
دے ؟ څومره زیاتي ده - هم ډ څان سره او هم ډخپل بال
بچ سره ..... د شمشیر زړهٔ ویړې اونیوو ..... رپندے پرې
راغلو - هغه زړهٔ چې څُه شیبه اګاهو ډ نفرت او انتقام
په لمبو ځړغندې شوې وُه - د سحر بانګ هغه لمبې مړې
کړې هغه اور پُې ـ یخ کړو شمشیر خپله اراده بدله کړه ...
نه نه زهٔ به هیڅ کله دا جاپټاد دپاره ډ زور په سینه
کښې ډ توپک کولې سره نهٔ کړم - زهٔ به هیڅ کله خپله
تورسرې ورنه ارکنده نهٔ کړم - زهٔ به هیڅ نې خپل
وریرونه په لاروکوڅو کښې نوخې پښو وتنه ورنکړم - خپل
دے کهٔ زما بچې نهٔ دي، خپل دے کهٔ زما په جاپټاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مشر رور قبضه کړې ده ، ورور څوک دے ؟ زما رور دے
کنه ؟ د رور بڼځه څوک ده ؟ هم زما بهابي ده کنه او د
سپفور بچي هم زما بچي دي کنه - رور زما رور دے - زما
وينه ده - زما مټې دي - نو ..... خپله وينه هم څوک
په خپله تويوي - خپلې مټې هم چرې څوک د خپل ځان نه
پخپله پرې کوي ؟ ..... نه نه داسې نه شي کېدے - داسې
به هېڅرې اونه شي - زه به هېڅرې داسې اونه کړم .....
سپفور دمزکې آمدن څه ټول خو پخپله کېده کښې نه
اچوي - په خپلو بچو او خپلې بڼځې باندې ټې خرچ کوي -
نو ..... اے ناپوهه شمشېره د سپفور اولاد کښې ستا اولاد
نه دے - د سپفور د اولاد خوشحالي کښې ستا خوشحالي
نه ده ؟ ..... خپر دے که سپفور زما د بچو د ځولې نه
نورې راشوکولې ده ؟ هغه ته به ځان په دې نه نبکاري -
خو زه ؟ زه به هېڅ کله د سپفور ماشومان پرې دوکه خو
کښې لوغړې وته پرې نه ږدم ..... توبه خدايه توبه د دې
ناپاکې ارادې په سوچ مې غاړه مه نده وئ - اے لويه خدايه
شکر دے زما زړه کښې د انتقام اور دې په خپل فضل سره
یخ کړو ..... خم خپل کورته واپس خم - خپر دے زه يه
محنت مزدوري کوم او د خپلو بچو پالنه به کوم - څه د هر
چا جائېداد او نه خونه وي - زه به دا اوګنم چې زما جائېداد
هډو ډونه - زه دومره پې همته خونه يم چې کنې د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچو دپاره به روزي نشم پيدا کولے - شکر دے په صورت
روغ يم شکر دے روغ رمتيم - محنت مزدوري به کوم اوحقه
حلاله روزي يه بچو له راوړم - او اوس .....؟ اوس څم چې
په جمات کښې نمونځ اوکړم او دلوئے خدائے نه بخښنه اوغواړم
شمشير د سپفوري دکوڅې نه واپس کيدو چې په دې کښې
هغه په قلبې پسې راروان د ځپلې کوڅې نه را اووتو او څه
وخت پکې چې شمشير تهوپک په لاس اولېدو نو پوئے شو چې
د شمشير څه ارادې دي - نحو .... شمشير زر تهوپک اوکې ته
واپولو او ورمنډې پکې کړې - سپفوري ته ورترغاړه وتو او
په سلګو سلګو کښې پکې ورته تهو له قصه تېره کړه سپفوري
هم شمشير له کلکه غاړه ورکړه او په رتهو رتهو پکې اوژړل...
قلبه پکې راستنه کړه - شمشير پکې لاس نيولے کورته راوستو - او
چې پکښه غرمه کيده نو پکې کر په پولو پتو پرے اپښے وه .....
د سپفوري د مزکې نه پکې د شمشير حصه بيلوله - او خلق.....؟
خلق حق حيران وو چې دا څه وو او څه اوشو - ؟
نحوا ے دونې حيرانېدلې مه - د انسانانو په سينو کښې خدائے
پاک د غوښې زړونه پيدا کړي دي - د غه د غوښې زړونه
نرمېږے هم شي - د غه د غوښې زړونه پستېږے هم شي - په
دې زړو نو کښې الله تعالیٰ مينه محبت هم پيدا کړي دي - نحو
کاش چې مونږ د غوښې په دغه بوټۍ کښې په ځپل صبر او
ځپلې حوصلې سره د مينې او محبت اودۀ جذبات راويښ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان چې مونږ ډډ ژهرو په ځای دګوړې نه کار واخلو چې
مونږ په خپل عمل سره یو ظالم په خپل ظلم او یو زیاتي خوړ
په خپل زیاتي پښېمانه کړو - په خپلو ناړامو ټې نادمه کړو -
په خپلو بدو ټې شرمنده کړو -

خوا ے رو نو زمایږه خبره ډخپل ذهن پسکې پوره
اوتړئ - زمایږ مشوړ دخپلې لارې مشال کړئ نو بیا اوګورئ
چې ستاسو ټولې ګرانې آسانښې اوکنه - ستاسو ټول نفرتونه
په مینې او محبت باندې بدلېږي اوکنه - ستاسو ټولې دشمنۍ
په یوې ښوبې درنې او نه ځپلې وینې ورورولۍ باندې
بدلېږي اوکنه - اوهغه مشوړ داده چې

اے رو نو ډهرقدم ډېورته کولونه آګاهو ډ هغې
په انجام باندې فکر اوکړئ - کله چرې یو قاتل په دې
خبره په سره سینه سوچ اوکړي چې ډهرقتل انجام ډ
پهانسۍ تخته ده - ډهر قتل سزا دوزخ دے - نو زما په
خیال چې هیڅوک به قتل اونه کړي - دغسې ډهر غلط
قدم انجام شرمندګي - رسوائي اوپښېماني ده نو بیا ډپښېمانه
کېدو نه څه فائده - هغه ډرحمان بابا خبره چې

ته یر ساعت په شال مړے ډلحد دے
مړي چا دي ژوندي کړي په ژړا

☆ ☆ ☆

(c) ketabton.com: The Digital Library

"انتقام"

(اسو پلے) ژوند ..... روژوند .... یوڅو ورځې ژوند .... دَ شمپر یوڅو کھړی ژوند .... داژوند کھ ډېر نمونه دے نو په ځنې ځنې حالاتو کښې ډېر تریخ شي ..... سره دَدې ظاهري رنګینو - سره دَدې دومره هنګامو - په حقیقت کښې ژوند تریخ دے .... دا بیله خبره ده چې مونږ خپلو ځانونو له تیر ورکو و - خپلو زړونو له دھوکه ورکوُ - په زور په ژوند کښې هنګامې را پیدا کوُ - رنګینۍ را پیدا کوُ - ګنې حقیقت دادے چې ژوند تریخ دے .... شته دَدې دنیا په مخ کښې یو انسان داسې هم چې دھغه په زړه به څه غم نه وي ؟ دَ هغه په زړه کښې به څه ارمان نه وي ؟

هرڅوک ناقلاره دي ...

غریب ناقلاره

امیر ناقلاره

کوندۍ ناقلاره

تورسپي ناقلاره

دَ اولاد خاوند ناقلاره -

بې اولاده ناقلاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دنیا په مخ هرڅوک ناقلاره دي - نو بیا ژوند تریخ شوکنه!
په دې تریخ ژوند کښې ځنې وخت داسې حالات راپیدا شي
داسې واقعات راپیښ شي چې ژوند زهر شي کنده پرشي -
جماله بیوې یاده شي - بنډۍ مې یاده شي - هغه سروهلې بروهلې
جماله هغه لپونۍ سپیلنۍ جماله - هغه چې هروخت به اوتره اوتره
وه - هغه چې هروخت به لکه د پارې ناقلاره وه .... ولې؟
رونې د ولې جواب دې درونه دے - دې پرې بوکنو ونکیدے -
د ولې جواب خود انسان په زړه کښې پرهرونه جوړوي نو
بیا .... ؟ بیا به درته زړه څه اووایم چې جماله ولې داسې ناقلاره
وه - ولې داسې لپونۍ سپیلنۍ وه - ولې پې شوندو داسې
پوستکي نیولي وو .... تاسو ته نه ده معلومه چې د جمالې په
زړه کښې اوربلبلو اود اورد غولمبو د هغې په شوندو
پاروونه جوړ کړي وو - جماله د انتقام په اورکښې سوزېده -
د هغې په زړه کښې د انتقام اورپه غرغندو وُ .... او انتقام
... د چا نه؟ دیو داسې څیز نه چې هغه خبرې نه شوې کولے -
د د غه څیز د جمالې د شوندو په پاپړو څه کار نه وُ - نو
بیا هم جمالې بس د یو سور په څیټ د د غه ې زبانه څیز
نه داسې انتقام وا خستو چې د د نیا د پاره پې یو مثال پرېښود -
څه راوو په جمالې .... چې ستاد اقدام کې نه خودکشي وه -
ستاد انتقام کې ګناه وه ... نه نه زړه ستاد قدم ته، د
انتقام ته خودکشي نشم و ټلے - تا خودکشي نه ده کړې -

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمالې ببو ځودکشي نۀ ده کړې - جماله ځو شهیده ده - شهیده - ځکه
چې هغه مور وه - هغې داهرڅه دَسورولې دَجذبې نه دډیرې
مجبورتیا دَکبله کړي دي - دَزوئے .... دَزلمي زوئے ناکهاني
سړک دَهغې دماغ مفلوجه کړې وه - هغۀ ټې پوښې کړې وه ...
ځوک ځۀ خبر دي چې دیوې مورپه زړۀ کښې دَاولاد دپاره دَمینې
او محبت ځۀ جذبات وي ځوک نۀ دي خبر چې یوۀ مورپه خپل
اولاد څومره مئینه وي ..... او چې ځوک نۀ دي خبر نو را دې
شي دَجمالې ببو دلپوښتوب نه دې ځان خبر کړي - دَهغې په انتقام
دې ځانونه پوئے کړي ، او بیا دې دا فیصله اوکړي چې دَهغې
دا انتقام کښې ځود کشي وه ؟

جماله ! زموږ دکلي یوه سپین سړې بوډې - زموږ دَکلي یوه
غیرتي پښتنه بوډې - دَدغې بوډې زلمے زوئے وُ چې
لونګ ټې نامه وه - رونې دَلونګ دژوند قصه به درته نۀ
کوم - دَدې خبرې دکولو هم ځۀ ضرورت نشته چې لونګ
مورځنګه لوئے کړے وُ - په ځۀ شوا خون ټې لوئے کړے وُ - جمالې
ته لونګ په غېږ کښې یتیم پاتې شوے وُ - او دَخپل کُنډ تون
دا ۲۵ کاله دې صرف دلونګ په ډاډه ټپس کړي وُو - پرې دي
خدمتونه ټې کړي وُو - په دې طمعه چې لونګ به مې خدائے
لوئے کړي - اوزما تول ارمانونه به اورځوي .... دَجمالې
په زړۀ کښې ارمانونه وُخت په وُخت پراتۀ وو - اوکله کله به
چې ځان له ناسته وه نو دَ ارمانونو تنسته بُوده به ټې رابرابر وله

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یوه ورځ هم دا سې د تصور اتو په دنیا کښې د ورکې جمالې ترغوږو دا آواز دا غلو ، لوتک په سیند کښې ډوب شو" .... دې آواز د جمالې دنیا د ستر کو په رپ کښې درې ورې کړه۔ د سور دپاره دا آواز د شین آسمان تندرڅې په جمالې راګذار شو ۔

دونې ا نړۍ درته د جمالې د هغه بې واره چغو۔ هغه د لېونو په رنګې ترکوره او ترکوڅې لېونۍ لېونۍ منډې هغه چې په مخ سر وهلو ئې را باندې کړې ۔ هغه چې ګس پوان ئې څیرې ویرې کړو ۔ هغه چې د سر ویښتۀ ئې په موټې موټې وشوکول ۔ دا ټوله نقشه درته په الفاظو کښې نشم بیانولے ۔ ځکه چې ماسره دومره درد پې لې الفاظ نشته چې د هغې د سپېس و سپېس و کوکارو نقشه پکښې راڅاګ کړم ۔ ماسره دا سې په غم لړلې الفاظ نشته چې د جمالې غم ته ئې وا غوندم ۔ ماسره دومره حوصله هم نشته چې نړۍ درته د هغه وخت او هغه موقعې حالات په زور زېر ټپر کړم ۔

یو زېۀ جمالې ته اووے چې را شه تهۀ هم سیند ته ټوپ کړه چې د زوے سره ستا هم د لاش هډو پته او نهۀ لګي ۔ چې د لونګ سره سم ستا غوښې هم د سیند کبان راوخوري ۔ چې مور او زوئ دواړه په یو رنګ مرګ مړۀ شو ۔ نو جمالې د زېۀ نه تپوس او کړو چې زما دا عمل به د لونګ سره د مینې او همدردۍ دپاره ګڼي د اظهار حق ادا کړې ؟ او دا حق کهۀ ادا شي نو زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه ئ کښې چې د انتقام کوم اور بلېږي دا به ګڼي سوړ شي ؟ نه دا اور داسې نه سړېږي - دا اور په صرف د انتقام په ذريعه سړېږي - اونن ... زهٔ ددې کلي د خلقو په مخکښې قسم خورم چې زما لونګ په اوبو کښې مړ شوزهٔ به پس له دې نه تر مرګه پورې د اوبو څاڅکے د حلق نه ټېرنهٔ کړم .... جمالي قسم اوخورې - اودَدې قسم نه پس دَ لونګ مور دَ اوبو کټورے شوندو ته نزدې نه کړو - ورځې تېرې شوې ، هفتې تېرې شوې خو د جمالي د حلق نه د اوبو څاڅکے تېر نشو - ژبه ئې داسې اوچه وه لکه لرګے - لکه دَ سادرين لُوټه .... آخر ترکومه پورې - خلقو هر کوشش اوکړو چې جمالې يو ګوټ اوبه اوڅکي خو جمالي نه دَ چا منت منلو اونهٔ زاري ..... آخر تر کومه پورې ... ترکومې پورې به غمژپلې مور دَ تندې مقابله کوله ترکومه پورې به دَ خپل قصد پوره کولو د پاره دَ ژوند سره په زړورتوب وه - آخر هوصلې جواب ورکړو - دَ حالاتو د مقابلې د پاره توان ختم شو - د زنکدن علاج شروع شوې - جمالي حق ته ستر ګې اونيوې نو په دا سې حالاتو کښې، دَ مالټ پوټې زنانه دَ اوبو جام دَ جمالي شوندو ته رونيوه ..... خو دَ لونګ مور د اوبو جام له تېله ورکړه - او په ستر ګو ستر ګو کښې ئې دغه بنځې ته اووې چې ..... زما په غېږ پورې خندا مهٔ کوه زما دَ انتقام په لاره کښې اړېکې مهٔ پېدا کوه ..... پرېږده چې زهٔ خپل قسم پوره کړم - پرېږده چې زهٔ خپل انتقام واخلم .... او چې خو لحظې نورې تېرې شوې نو جمالي خپل قسم پوره کړو - جمالي خپل انتقام پوره کړو - مرګ له غاړه غړۍ ورغلې خو څاڅکے اوبهٔ ئې دَ حلق نه ټېرې نهٔ کړې - او هغې د اوبو نه د خپل لونګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدل واخستو -

(اسو پلے) اے دَمیانه و زرا منو ځه پوے شوی ؟

دَ مور مقام درته معلوم شو ؟

دَ مور زپهٔ درته معلوم مه شو ؟

لږ په خپلو کړ پوا نو نو کښې سرو نه ښکته کړئ او د خپل هغې عمل جائزه واخلئ کوم چې تر صبا زامن دَمیانه و سره کوي -

اے دَ ځوانۍ په نشه مستو زلمو تو مه کوئ کوره دَ مور سره ضد ونه قصدونه مه کوئ - مور مه خفه کوئ - مور مهٔ زړوئ - دَ مور د خفګان سره به درنه الله خفه شي دَ مور په زړه باندې عرش په لرزان شي .... دَ مور د پر لوئ مقام دے د پره لویه درجه ځئ ده - دَ کومې مور دَ پښو لاندې چې جنت وي نو د هغې درجه او مرتبه ګڼې دهر چا نه اوچته نشوه .... ؟ مور د پره مقدسه هستي ده - او د دې مقدسې هستۍ عزت او احترام په هر اولاد باندې لازم دے - بلکه فرض دے - او کوم اولاد چې دا فرض ادا نهٔ کړو نو نپل آخرت ځئ خوار کړو - نپل ځان ځئ دَ دوزخ د ملبو حقدار کړو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکې

(اسوپلے) روستے پاروُ - مُلا لا بانګ نهٔ وُ وېلے - ټوله دنیا په خوابِ ځوب اوده وه .... چُپه چُپیا او بوګنوونکې خاموشي ..... نهٔ د سپوغیاں اونهٔ د چا چغو آواز - کله کله به د یو نیم چرګ آواز په دې خوشي بېدیا کښې تر لرې لرې پورې غوږ شو اوزما د ویرې نه غوږ ووس زړګے به په ځهٔ قدرې راغونډ شو .... د اوبو وارې وُ - یُوم په اوګه پښې ابله پښې تند تند پټې ته روان وم - لاړ راته سمه نهٔ ښکارېده - په خپل دلیل تلم ... چې لوېې اډیرې ته اورسېدم نو ..... څه فریاد غوندې تر غوږ و شو .... او فریاد .... زړهٔ بوګنوونکے فریاد - د پښو لاندې نه مې مزکه اوتښتېده - زړهٔ مې په درزېد و شو - په ځائے اودرېدم - کلیې مې په ځان چُف کړې - بابا کان مې را اولړزول - په دې اډیره کښې زهٔ پخوا عالم هم څوځلې ویرېدلے یم - دا ډېره درنه اډیره ده - دلته غیب د پرزیات دي .... ځکه نو چې ما فریاد واوُرېد و نو ډېندې واخستم - د کوکنې شاته کښې ناستم او غوږ ونه مې د فریاد په لُوړې اونیول ..... فریاد .... د بتګې فریاد معلومېد و د زړهٔ دننه نه راوتے فریاد ..... په هر فریاد کښې بې شمېره طوفانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارېدل - ما دا سې محسوسوله چې لکه په دغه وخت کښې د اديرې
کا نې يو ټې وُنې غنې هر څهٔ په فرياد وُو - دا سې معلومېده
چې لکه شپه دا فرياد نور نشي زغملے نو ځکه دا سې په منډه منډه
ځې په وړاندې روانه ده اوُ د صبا ستر که د دې فرياد د اورېد و
د پاره په بوګنېد و نکو قد مونې رو رو سا ينو لې را روانه ده .....
زه هم هغه شان غلے ساه را ښکلے د کرکنې شاته نا ست وُم - ښهٔ
ساعت ټېر شو - رنا رو رو را خورېده - په خواوُ شا جاتو نو کښې
د سکر بانګو نه شروع شول - خو زما په ښنو کښې لا هغسې دم نهٔ
وُ ..... چې رنا ښهٔ را خوره شوه نو رو رو په آرام آرام د فرياد
په لورې روان شوم .... فرياد اوس کم شوے وُ. څهٔ کوم
چې د يو قبر د پاسه يوه ښځه په سره جوړه کښې چې لاسونه
ږښې ټې په ښکرېزوسره وُونوره وره پرته وه. زړهٔ مې يې درزا وکړو.
په ستر کو مې تياره را غله ..... دا ؟ دا خو د شيرين قبر دے.
د ځوانې مرګ شيرين - د نيمه خوا شيرين - د سور پلار د اِکې
يوزوے شيرين - هغه شيرين چې تېره شپه ټې د وادهٔ ډولې ر کور
ته راوړلې وه - چې مور پلار ټې په وادهٔ د ځپل زړهٔ ارمانونه
رژولې وُو .... هغه شيرين چې د جمالې د يو نظر کتو د پاره ټې
په کلونو انتظار کړے وُ ..... نن هغه شيرين د جمالې د يو نظر کتو نه
مخکښې په دې خوشي بيابان کښې د خاوړو د دې څلې د لاندې په خوابدهٔ
خوب اودهٔ دے - ماته سمدستې د شيرين د وادهٔ شپه را په مخکښې شوه -
څومره خوند وُ د شيرين په وادهٔ کښې .... څومره په خوشحالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحالۍ سوۍ شیرین ډولۍ راوړلې وه او بیا دوارۀ په شپه
هغه ترتپر ما سخته پورې شیرین په حجره کښې ډ دوستانو سره
ټوله خوند تاک کپ لګولے وُ - او بیا موښ هغه کورته په تلو
مجبوره کړو - چې څه څوک یه ستاپه انتظار کښې وي .... شیرین
سُسکے غوندې شو او کورته روان شو - په ټُند و ټُند و قدمونو
..... ډ هغه کورته ډپره ټاډي وه - ډ هغۀ په زړۀ ډپرې خبرې
وې چې جمالي ته ئې کول غو ښتل - څۀ ګیلې هم وې او څۀ مانې
هم - څۀ وعدې هم وې او څۀ لوظونه هم - ډپرو خبرو - ډپرو
سوالونو او ډپرو ټینګسونو ډ هغه په زړۀ کښې دغ دغ پوره
کړے وُ - هم په دغه سوچونو کښې هم په دغه فکرونو کښې ډ جمالي
ډ دیدن نوبډې ټلوسې ئې په زړۀ پورې ښُخې نیولے روانې وُ، چې
شیرین خپل منزل ته ورنږدې شو - چې خپلې کوڅې ته ورنږدې شو -
نو ناڅاپه نه درې وزې اوشوې - هډو په وډومبې ډ شیرین پرڅې
راپرپوتې - بوډې ډ زړۀ په سر لګیدلے وُ - ډ هغه زړۀ په سر چې
کوم ډ چا ډ دیدو ډ پاره ناقلاره وُ - چې کوم په دغه وخت کښې ډ
مینې محبت و جذباتو ته لبریز وُ، ډ هغه زړۀ په سر شیرین اوښکې و
اوچې ډ ښُخې خلق ورسېدل نو هغه یوه آخرنۍ سلګۍ اووهله
او په دغه سلګۍ کښې هم ډ هغه په شونډو و د جمالي نوم وُ - .....
شیرین سا ورکړه - ډ زړۀ خبرې په زړۀ کښې پاتې شوې - نۀ ئې
ډ جمالي څخه اوپدو او نۀ ئې ورته د خپل زړۀ خبرې اوکړې .....
ډ شیرین مور لکه ډ پونو نامنډې کړې - پلار ئې سرتور سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښې ابله پښې دا غلو .... او .... جاله ؟ جاله هم په سره
مجوړه کښې پښې ابله پښې او سرتور سر د شیرین سره ولاړه وو
د جالې سټن په مزکه پروت ؤ په مرګ ځې هم په شونډو سکانوره
وه - لکه چې جالې ته وائې چې " اے نادانې پېغلې خفه کیږه مه -
په دنیا کښې د هیڅا ټول ارمانونه نشي پوره کیدے ..... دغه
یو ارمان موبس ؤچې پوره شو - او ته په سره دولې اوسره
جوړه کښې زمونږ کره دا غلې - او نور ..... ؟ نور ملاقات به په
هغه جهان کښې کوؤ - کوم ځائے چې نه غم شته او نه مصیبت -
کوم ځائے چې نه قصد شته او نه حسد - کوم ځائے چې د دوومڼو
ترمنځه ټوک رپو الونه نشي وهلے" ..... جاله غلې و لاړه ود ....
ټول کلي د ځوانې مرګ

شیرین په ډاکهانه مرګ د غم اونسکې تویولې - خو جال غاپې وه -
د مړکې غږ ختو خو د جالې نه .... دهغې په سترګو کښې اونسکې نه
وې ..... حیرانه وه چې دا څه ووشول ؟ دا زه کوم ځائے
وم - کوم ځائے ته راورسیدم او په کوم ځائے کښې پاتې شوم..
رو غوندې په مزکې کښېناسته - د شیرین په وینو لړلے سرې په
خپل پټون کښود و - ګونګه سونګه کښېناسته ..... پکاره چې
په دغه وخت کښې جالې په رتو رتو ژړلے وے - پکاره چې د
شیرین په وینو لړلے مخ جالې په خپلو رنو رنو اونسکو وینځلے
وے نو..... د جالې په سترګو کښې چې اونسکې نه وې نو ځکه هغې
ژړلے هم نشو ..... او چې څه وخت شافې ببو اوده چې جاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپېره ده، دوهره سپېره پرې دوې سره د شيرين د پاره دود اوښکې
هم نشته .... د جمالې په زړه تياره راغله --- يوه تېره کړيکه
ې اوږده هله او بې هوشه په شيرين راپرېوته .... د شيرين
مور پلار ناوے جمالې دلاس پښو نه اونيوه او يو ځواته کټ کښې

ې ور واچوله -

رونې ! دې دغم ساعت وُ .... سمه د قيامت شپه وه -
صباله ماځيګر چې کېږ و نو د شيرين جنازه پورته شوه - د ځوانې
مرګ شيرين جنازه - د مور پلار د اکې يوزوے جنازه - ديوې شپې
دزلمې جنازه .... مور پلار په وزه نحوله ژړل - هرچا ژړل -
ټول کلي ژړل - نو جمالې .... ؟ جمالې هم هغسې ګونګه سونګه وه -
جنازه پورته شوه ... شيرين خاوروته روسپارلے شو .... قبر
ې جوړ شو او هم هغه د واده ځوړې په قبر او غورولے شوه ....
خلق دلګيس زورند سرونه کلي ته واپس راغلل -

او اوس ....؟ اوس د هغه ديوې شپې ناوې جمالې ده چې بېګاه
ې ټوله شپه د شيرين په قبر ټېره کړې ده - زړه وروان شوم -
ماوے چې راپورته ې کرم او ورته اودم چې اے د اکې "يوې شپې
ناوې" څه بس دے کورته لاړه شه -

"مرې چا دې ژوندې کړې په ژړا"

نو چې زړه ورنږدې شوم نوجمالې لکه د لېونې د قبر سره خبرې کولې
.... "شيرينه - بې وفا شيرينه ! دوه خبرې دې هم راسره او
کړې اولاړې - دا وه ستا هغه مينه ؟ دروغژنه چې مينه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پا للے نشوه نو لا ڼې دې څه ډ له کو ڼې ؟ بې وفا دومره ځوبه را ښکاره شوے وے چې د وادهٔ په څهرو کښې خوښي ليدلے قدرل وے نيمه خوا زلميه دا سې زړ سرور شوې - زهٔ سپېره دې چا ته پر پښودم -

شيرينه ما خو د ځان سره د ارمانونو يوه دنيا راوړلې وه - ما خو ځان له د ځوشحالو يولوے محل جوړ کړے ؤ - بې وفا څنګه دې د ستړکو په رپ کښې زما د ارمانونو دنيا ورانه ويجاړه کړه -

شيرينه ! يو دوه خبرې راسره اوکړه صرف دوه خبرې چې دا زهٔ ځې په لږ غوندې ډاډه شمې - ستا دې د ځيل وادهٔ په دغه څهرو قسم وې کو ڼې چې اوس ستاپه قبر غوړ پدلې دې - ستا دې زما د پښو لاسونو په نکرنو قسم وې شيرينه چې دوه خبرې راسره اوکړه - دوه خبرې - دوه .... جمالې يوه سلګۍ اووهله اود سلګۍ سره ديوې شپې ناوې ـ خه ـ خه وه - اوچې اوس کتل نو په .ښو کښې ڼې دوه غټې غټې اوښکې لکه ملغلرې اوښان وې -

(راسوپلے)

رونو ډېره درد ناکه نندارہ وه - زهٔ ځې غوښتل چې په چغو چغو اوژاړم زهٔ ځې غوښتل چې لاړشم شافۍ ببو راولم او ورته اوښايم چې جمالې د ستړکو نه ڼه وه - راشه اوګوره د جمالې د ستړکو نه اوښکې راتوې شوې دا سې اوښکې چې ټوله اديره ډې اولړزوله ، دا سې اوښکې چې قيامتونه پکښې پټ وُو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپې

لکه چې نن سبا په غوږنګ وُ - شل کاله وړاندې
چې کوم سپلاب راغلے وُ اودکوم سپلاب یوې چپې چې ملا له
ځان سره راوړلې وه - لکه چې هغه سپلاب نن د هغې په
سینه کښې بهېدو اوُ د سټرکو نه ېُ روان وُ -
د دوُو میاشتو ماشوم ناجوړه زوے د ملالې په غېږ
کښې پروت وُ ژړېدو - د ډېر ساعت نه ېُ اوچې سلګۍ
وهلې نو اوس دا سې غلے شوے ښوندې وُه ملاله نهُ د ځان
د حال خبر وه او نهُ د زوے د حاله - په مزکه ېُ پرلت
وهلې وه اوزوے ورته په غېږ کښې پروت وُ - د ملالې کړېوان
پرانستے وُ - بېس سر - خېر نه ښځنه - دا سې معلومېده چې
لکه د ملالې کړېوان هغه زُول پرانستے وي - کوم چې د
سکره را سې د هغې په سینه کښې الوتو - خدائے خبر چې په
هغه خبره کښې څهُ وو کومه چې کلدېن نن سکر هغې ته
کړې وه - اوکومه به چې کله هم هغه ملالې ته اوکړه -
نو د هغې زړهُ به ېُ ناڅاپه رهکړو - د هغې دنیا به ېُ تباه
کړه - باران - سیلۍ او طوفان به را غلو او د ملالې د
سټرکو نه به روان شو - د ملالې قرار - صبر او هغه ښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپره تسلّي کومه چې د ماشوم زوے پـه وجه دهغې زړهٔ
ته وه - هغه هرڅهٔ به د ستر کو په رپ کښې په طوفان
کښې لاهو شو - نو کمل دین د هرڅهٔ نه بې پروا د افیمو
په نشه کښې نیم ویخ او نیم اودهٔ وُ - هغه دهیڅ نه
نهٔ وُخبر - کمل دین موچې وُ - په کلي کښې به پُ د زوے پیژار
مرمت کولو - د افیمو نشې د هغهٔ نه په خُوانه خواښې
کښې بودا جوړ کړے وُ ..... ملاله په پښتو ټوب د
کمل دین د شکي طبیعت او سخت مزاجې نه خبر وه - او کله
کله به چې د کلي پښتانو د کمل دین د سخت طبیعتې ذکر
ملا پې ته اوکړو نو هغه به ورته مُسکې شوه او
جواب به پُ ورکړو چې خپل دے د وادهٔ نه مخکښې هر
زلمے دا سې وي او چې وادهٔ اوکړي نو بیا ..... بیا به
کهٔ خپرې هرڅهٔ سم شي ..... او د وادهٔ نه پس څهٔ
سوده کمل دین سم دم وُ .. د ملا پې سره پُ د پرښهٔ تعلق
وُ نو رو رو هغه بیا په زړهٔ لاړ روان شو سپکې سپورې -
ستغې خبرې اورتیل - هروختې په نهٔ څهٔ خبره بدې
ردې وئیل د کمل دین عادت شو - او یوه ورځ خو پُ چې
ملاله په نهٔ څهٔ خبره راګیره کړه او وې وهله نو د کمل دین
په دې زیاتي د ملا پې زړهٔ ته لویه صدمه اورسیده ...
او بیا دا څهٔ یوه ورځ نهٔ وه بلکې وهل او ټکول د ملا پې
تقدیر شو - دې ټولو ناراموتـه ملا پې غاړه اینښودلې وه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هرڅهٔ هغې زغمل نهٔ ..... یو داخبره ؟ دا خبرهٔ هغې
نهٔ شوه زغملے دا هغې نهٔ شوه برداشت کولے .... هغې دا
مثله چې هغه په ماشوم والي سیند کښې، د سپلاب یوې
چپې د ځان سره راوړلې وه - نهٔ خو هغې دا یقین وُ چې
هغه .... د هغه" نهٔ ده څه چې کلدین وائي .... ملالې د
کلدین داخبره نهٔ شوه اورپدے - او هر کله به چې هغه
ملالې ته داخبره اوکړهٔ نو د ملالې په د خپل ځان نه هم
زړهٔ توې شو او کلدین نه یه هم ورله کړ که ورغله .....
په دې اکښې شک نشته چې د ماشوم د پیدا کېدو نه پس د
هغې مینه اوس تقسیم شوې وه - د کلدین زور زیاتے ؤ د
ماشوم روئے په مینه کښې را نغښتلې وه - نهٔ خو د دې باوجود
هم د کلدین داخبره نهٔ د هغې دپاره بنهٔ وه نهٔ د کلدین
دپاره او نهٔ د هغوې د ماشوم بچې دپاره بنهٔ وه .....
هرڅو که د ملالې د کلدین سره هغه هومره مینه نهٔ وه نکه
چې یخوا وه نهٔ خو ..... بیا هم خاوند نهٔ خو ؤ کنه ؟ ملالې نهٔ
غوښتله چې خاوند ورته څهٔ داسې خبره اوکړي چې هغې له
پرې د خپل ځان - خپل خاوند او د خپل ماشوم زوئے د رې
وارو نه کر که ورشي - نهٔ خو هغه بې پروسه وه ، هغې خاوند
نهٔ شو منع کولے - ملالې به د کلدین نه دومره ویرپده چې
د هغهٔ په مخکښې به ې په زوره ساه هم نهٔ اخستله .....
نن سکر هم هغه چې د کوره وتو نو به نهٔ څهٔ خبره ې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا پې رابانديې کړې ښځه ډېره اووهله اوپه ټلوکښې پرې د
ريږې غوندې تپره لهجه کښې اووے "حرامونې" اود
دې ټکې په اورېد و د ملا پې په زړه هغه تيارۀ راغله
کومه چې ديو طوفان د راټلو نه اول راځي .... کلدين لاړو
د کوڅې نه اووتو - او ..... طوفان راغلو .... سپک ب
راغلو - کوم سيند چې د ملا پې په سينه کښې غورزنګونه
وهل هغه د ملا پې د ستر کو نه روان شو .... چيچې پرې
وهلې ..... د سحر نه ما ځيګر شو نه طوفان د کمېدو يا د
اورېدو نوم نۀ اخستو ..... کېدے شي چې دې چيوهغه
لاهوکړے وے - نو په دې کښې پرې د دروازې د لړې کېدو
آواز تر غوږ وشو .... د ملا پې د زړۀ درزا په زياتېدو شوه -
د هغې خيال وُچې جوړ موچې کلدين راغلو، او خدائے خبر
چې ولې نن د هغۀ راټلو کښې ملا پې ته خپل مرګ ښکارېدو
.... نو .... جوړ هغۀ نۀ وُ دروازه هوا لړې کړې وه - په
کور کښې کوټ اوبۀ نۀ وې - د جمالې سره فکر شوچې د هغۀ
د راټلو نه ځکښې د سيند نه يو منګے اوبۀ راوړې
نو بيا به کټے شي .... هغې ما شوم زوئے په ژړا په کټ
کښې پرې پښتو دو او منګے په سر د کوڅې نه اووتې د وادۀ نه
پس دوه کاله اوشول چې ملاله هم په دې لاره سيند ته د اوبو
د پاره ځي راځي .... نن خدائے خبر چې څۀ چل وُچې منګے په
سر په دې لاره اويوله روانه شوه نو خپل پېغلتوب ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

را مخکښې شو - په پښتو ب هم ملاله څهٔ مالداره نهٔ وه -
ولې بيا هم دالاره داسې شاړه اوداسې سپيره ځمونهٔ وه -
دوه کاله آ کا هويه چې ملاله منګے په سر دنوی وجينکوسړ
په دې لاره اوبوله ټله نوځيل ځان ورته دومره بې وسه
او مجبوره نهٔ ښکارپدو، ځکه چې دکلدين خيال او د
کلدين سره دژوندون د پسکی په ترلو هغې ته ځان د
نوی و همځولو جينکون نه د پر شته من او سکاله ښکارپدو
نو هغه ټول خيالونه او نو بوننه ټولن دروغ ثابت شول..
... دا ولې ؟ اوه ولې، په جواب به ملالې لاسوچ کولو چې
مخامخ سند ښکاره شو - چپ چاپ خلے خلے .... او خاموش
خاموش بهيدو ... ملالې زړه په تادی منګے ډک کړو او
په ټنډ و قدمونو کورته راروانه شوه اوچې کورته را غله
نو ماشوم بوډې د پر ژړلې وو - ځکه چې اوس پې دژړا په
ځائے اوچې سنګی وهلې .... ملالې منګے په کړوښ
کښينوده - ماشوم پې راوانستو نچلې سينې ته پې راجوخت
کړو او يوه اوږده ساه پې وانسته د ماشوم سينې ته په
رانزدې کولو د هغې زړهٔ ته د پر اطمينان اورسېدو - هغې
داسې محسوسوله لکه چې د هغې نور وور زړهٔ را ټول غونډ
شو ماشوم هم داسې ملالې په خپلې سينې پورې نيولے وو
چې په دې کښې کلدين موچې د پښو د وڅه په لاس په کوڅه
را ننوتو - او د راتلو سره پې په مړاوي آواز اووے .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تن کار نهٔ ؤ را غلے ۔ بس دومره پیسې مې کتلې وې چې
ځان له مې اړیم او د چا ښو د پاره مې دا پسې راوړل ۔"
کلدین په دالان کښې خپل د موچې توب د سامان صندوقچے
کښودو او د پښو د وڅه ې ملا پې له ورکړه او ورته ې
اووے چې زهٔ ځم ته بل ځم چې راشم نو بیا به چاے څښم
..... ملا پې د وڅه د کلدین نه وا خسته په جار ګې ې کښوده
او بیا ې ماشوم په غېږ کښې واړولو او د سوچونو او فکرونو
په سمندر لاهو شوه ..... په دې کښې پشو راغله د پښو
د وڅه ې پرمخې د جار ګې نه راګزار کړه ..... پسې ر توے شول
او د ملا پې سره غم شو چې اوس به څهٔ کوم ۔ اوس به چاے
د څهٔ نه پخوم ۔ اوس کهٔ کلدین را غلو او خبر شو چې
پسې د مزګې خوراک شول نو هغه خو به ما مړه کړې ۔ هغه
خو به په دې ټپر ما سختن ماد کوړه اوباسي ۔ او چې د کوړه مې
اوباسي نو زهٔ به چرته څم ۔ زهٔ به کوم خوا ته څم ۔ زهٔ به د
چا کړه څم ۔

وخت په منډه منډه روان ؤ تېر پدو ۔ ملا له هېڅ په
حساب نهٔ پو هېده چې څهٔ چل اوکړي ... په دې کښې
ې خپلې سینې ته پام شو ۔ ماشوم ناجوړه ؤ تو له ورځ
کښې ې سینه نهٔ وه څښلې ..... سینه ې دکه وه ۔ د
ملا پې سینه دکه وه ..... هغې هډو نوې سوچ اونهٔ کړو
خو د وڅه ې را واخسته او زر زر ې دواړه سینې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډوډۍ کښې تشې کړې - پټې د ډوډۍ په نغري سوره کړه ....
او په څلۀ ساعت پس ډوډۍ کل دين د ځيرې نه را غلې... په
کټ کښې کښېناستو نو ملاله په مړو مړو قدمونو لاړه - پيالې
او چائے جوش ټې راوا خستل او کلدين ته ټې په مخکښې کښودل -
کلدين پيالې دکوله او پيالې به ټې تشوله - ملالې په کنډه
ستر که کلدين ته کتل .... د هغې زړۀ غمونښتل چې را پاسې او
د کلدين د غولې نه پيالې راوشوکوي او ورته اووايي چې
کلدينه مړکوه .... دا څۀ کوې - دا چائے مړ څښه دا چائے
چې په کومو پښو کښې پښې شوي دي هغه پيسې په تا حرام
دي - نو .... ملالې له به دومره زړۀ چا ورکړے وے - دا
ټولې خبرې کۀ د هغې زړۀ غمونښتلے نو هم کولے نو ټې نۀ
شوې کنه .... د هغې په زړۀ يوه تياره تله او بله
راتله ..... سوچ ټې کولو چې دا څۀ وُو او څۀ را پيښ
شو - دا نور غمونه کنې لږ وُو چې دا نوے غم ې د خپله لاسه
خپل ځان له را پيدا کړو .... ساک تړې نه سيلې اوړے
وُ - ما شوم هم د لوبې دلاسه الوتن بلون کولو - په ژړا
ژړا ټې زړۀ ستړے شو - کلدين د پرمبر اوکړو نو آخر
صبر ټې تمام شو. او په سختې سره ټې ملالې ته اووے...
څۀ له ټې ژړه وې پيسې ورکړه کنه"..... پيسې ؟ پيسې ورکوم
د څۀ پرې ورکوم ..... د سينې ته ټې واچوه کنه"..... .
په سينه کښې څۀ دي - تا چې کوم پيسې راوړلې وو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشو توئے کړل - او ماتاله چائے دخپلې سینې په پښو کښې
پنجې کړې - هر ګل دین دکتې نه را توپ کړو - څخه دکتې
سره نزدې بنخته پرته وه - هغه ټې راوچته کړه او چې را
خطا ټې کړه نو ملاله نو بچې شوه نو دَ ماشوم دسرنه یوه سره
داره دَ ملالې په مخ خوره وره لاړه .... ماشوم اول یوه
تپره کړه یکه او بیا یو څو سکنډې اووهلې او ځلې شو - ملالې
دَ زوئے دَ سرنه دَ وینې دارې چې اولیدې نو بې هوشه په
مزکې پرپوته - او ګلدین ؟ ګلدین را پاسیدو - ملاله ټې دَ
چو نتقې نه او نیوه را وچته ټې کړه - دهغې مخ په وینو
لپت پپت وه او په داسې حالت کښې ګلدین ورته اووې چې
یو - دوه - درې - تهٔ په ما طلاقه ئې - څه او څه دَدې
کور نه بچې کوم نوا دې نو بنه وي لاړه شه ..... رو ملالې
خپل ماشوم زوئے راپورته کړو او نیغه سیند ته را غله -
په سیند کښې سپلاب را ځلے وُ - سیند په غورزنګ وُ چیه
به راته له او چیه به کښې ناسته ... په دې کښې یوه چیه
را غله - دَ نورو چیونه لویه وه لوبه - اوُ ملالې
ته داسې بنکاره شوه چې لکه دغه چیه دَدې مور وي هغه
مور چې دې ویلې نهٔ وه - چې دهغې په سینې دې چرې
لوبې نهٔ وې کړې - دې داسې محسوسه کړه چې دغه
چیې خپله غمیږه نوره کړې ده او ملالې ته وایي چې اے
دَ دنیا غمونو څپلې لوڼې را څه چې زهٔ درله په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

غېږ کښې ځائے درکړم او ملاپې خپل زوئے په سینې پورې کلک
له
نیولے د غه چیې ته ځان او سپارلو او د غه لویې چیې ملا
په خپلې غېږ کښې وا خسته او لاړه په قلاره شوه - او ملا له
د ستړې ژوند د ستومانو نه د ټول عمر د پاره خلاصه
شو ه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

اِنسان اؤ انسانیّت

(اسد پلے) ..... دَدې دنیا په مخ د پرداسې زړونه شته چې

د پرو غمونو پکښې تنهاکې جوړې کړې دي -

د پردا سې انسانان شته چې دَ هغوي زړونه

د د پرو غمونو دلاسه

سُوري سُوري او غار غار دي -

د پر دا سې پلاران شته

چې په ژړا ژړا ټې ستړکې کو غالوته پرېږدي -

د پرې دا سې مېندې شته

چې په ژړا ژړا ټې دَ ستړکو توی په سپین بدل شوې دي -

د پرې دا سې تورسرې شته

چې دنیل ځوان خاوند په ناکهاني مرګ ټې ځوانې دَ ځاورو

سره خاورې شوې ده - چې ارمانونه ټې په اورستې شوېدي -

خو په ژړا د چا قسمتونه چرې نه دي بدل شوي -

مړي چرې په ژړا نه دي ژوندي شوي -

ارمان چې دَ کلاب غوندې نسکلو اونباشته ځوانې مرګانو

دَ نجلې بودې مور

دَ نجلې زړه چاودې مور دَ نجلې غم ژبلې مور دَ زړه نه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړۀ د ټل نه را وتے فریاد اورپدے شوے

هغه فریاد چې عرش پئ په لرزان کړے وۀ -

چې فرشتې پئ هم په سرو ستړکو ژړولې وې

ارمان چې د ګلاب په رنګ شهیدانو نو

د پلار د ستړکو نه باران هغه سپلاب لیدے شوے کوم

سپلاب چې د ستړکو په رپ کښې، جهانونه غرقولے شي، کلي او

بښارونه ورانولے شي -

ارمان چې د ګلاب په رنګې

نیمه نو شاه زلمو خو د خپلو کونډو تو سرو

هغه سلګۍ اورپدے شوې

چې کوچې سهلګۍ د اورپدونکو په زړونو کښې زخمونه او

پرهرونه جوړوي -

اے د نچلې مور د ستړکو توره ګلابه

تۀ ګڼې د نچلې غم ژړلې مور فریاد نۀ اورې

اے د نچل پلار د زړۀ تیکوی ګلابه -

تۀ ګڼې د نچل بودا پلار د ستړکونه روان

د رنو رنو اوښکو سپلاب نۀ وینې

اے دچا تورسرې د ژوند ملګرې ګلابه تۀ د نچلې تورسرې

د پرهر پرهر زړګي نه د زخمي زخمي زړګي نه راوتے فریاد

نۀ اورې -

اے بے غمه ګلابه د غه سړکو نو تول کائنات په لرزان کړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه فریادونو نحو عرش په لړزان کړے دے ۔

دغه دپلار دَ ستر کو اوښکے نحو کانې زړونه هم اوبهٔ اوبهٔ

کوي اوتهٔ .....؟

تهٔ بیا هم غږ نهٔ کوې،

تهٔ بیا هم خاموشه شوندې پروت ئې!

کلابه خدائے گواه دے چې تا نحو به دَ پردو په ستر کو کښې اوښکې

نشوې لیدے ۔

خدائے گواه دے چې تا به دَ نچلې مورې په تندي کښې دخفګان

ګوڼې نهٔ شوې لیدے ۔

تهٔ به دَ پردو پلارانو دپاره داډ وې

تهٔ نحو به دَ پردو تورو سرو دپاره دلاسه وې

نو بیا اوس ؟

اوس ولې دا سې غلے پروت ئې

اوس دې ولې دا سې دَ صبر څادر اغوستے دے ؟

اے دَ بې غمې په خوابهٔ نحوب اودهٔ شهید ہ سرا پورتهٔ

کړهٔ او اوګورهٔ چې غمونو او خفګانونو دې دَ مورې په تندي

کښې څهٔ رچې په تول مخ کښې پُ کندې کیږې جوړې کړې ۔

ستا نحوبه پلار نحو هم ستا غم په خپل ناتوان زړهٔ پورې ځُخت

نیولے دے ۔ په هرچا ستا ګمان کوې

دَ هرچا په مخ کښې ستا نقشونه لټوې

نحو ګلابه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے بنـکلیه کمـلا بـه !

ستاد تندي د نقشونو په شان نقشونه موندل نهـ کـرانه

خبره ده - نا ممکنه خبره ده -

څکه چې ستاد تندي نقشونه نهـ

د رحمت فرشتو په خپل لاس جوړکړي وو

نو ستا پلار نهـ د ورکې په تـکل کښې دے - او په دې تـکل

کښې ئې د هرڅ جائزه واخسته هر تندي ته ئې ښهٔ په

غوږ اوکتل د هر انسان جائزه ئې واخسته

نهـ کمـلا بـه ستا په رنګې څ د بل چا نشته

نهـ کمـلا بـه ستا په رنګې تندے د بل چا نشته

ستا په رنګې نقشونه هډو د بل چا کښ نشي

نو څکه زهٔ درته دا وایمه چې ستا پلار بـه

ستاد تندي د نقشونو ارمان د څان سره قبر ته یوسي -

زهٔ دا منم چې مړي چرې په ژړا نهٔ دي ژوندي شوي

کهٔ مړو د پـلار کـو نتې ملا چرې ښـے شوے

کهٔ مړو د مورې هر پـر هر زهٔ چرې کتے شوے

کهٔ مړو ته د نپلو تور سر و څیرې کړپـوان او بیرسرونه نښکاره

کښـے شوے نو د مور فـریاد و نو بـه کمـلا ب وختې راژوندے کړے وُ -

د پـلار د سترګونه روان د اونسکو سپـلا ب بـه کمـلا ب وختې

د قبر نه پـه راوتو مجبوري کړے وے نهـ کمـلا ب پـه داسې ډوب

اودهٔ شوے دے چې هغه د پـلار د سترګونه د اونسکو روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپلاب نهٔ ویښي - چې هغهٔ ته دنیلې تورسرې څیرې کړپوان

او هیر سرنهٔ ښکاري - چې هغه نیلې نجونې مور له ډیوې خبرې

جواب هم نشي ورکولے - ارمان چې کلاب صرف دوه خبرې کړې وے

چې ډمورې تسلي شوے وے

چې ډمور نا قلاره زړهٔ ې لږ په قلار شوے وے

کلابه ستا مور ستاپه قبر باندې هره ورځ څهٔ ډډې دپاره اوښکې

نهٔ څڅوي چې کنې تهٔ دې ډقبر نه راپاسې او ددې ډزړهٔ داوړا

ویجاړ کندهٔ رکوردې بیا آباد کړې ستامور دا هم نهٔ غواړي چې

تهٔ دې بیا زیږے ماځیکر مُسکے مُسکے په کوڅه راننوځي اوډډ

مور زړهٔ دې درباندې بیا راټول شي .

کلابه ستا مور هم لکه ډنوې و میاندو په رنګ مورده

ددې هم په زړهٔ کښې بس اکې یو ارمان دے

یو دا سې ارمان چې د پوره کیدونهٔ دے

توڅهٔ اوکړي ډخپل زړهٔ نه مجبورهٔ ده

ډخپلو جذباتو او احساساتو نه مجبورهٔ ده

ډپره مجبوره وه .

ځکه نو هره ورځ ستا قبر ته ناسته وي

ژړا هم کوي او فریاد هم

دُعا هم کوي او تپوس هم

چې کلابه .چیه سر دا پورته کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماله د دواؤ، صرف دَ دواؤ خبر و جواب راکړه -

نو بیا اودهٔ شه خبر دے

بیا درسره زهٔ دا لوظ کوم

چې بل تپوس به درنه ننهٔ کوم

بیا به دې دَ نحوب نه ننهٔ راوینښؤم

پکیه صرف دومره قدر له راته اووایه

چې په کولی، دَ زړهٔ دَ سرد پاسه نحونهٔ وے لکیدلے هن ؟

تهٔ نوښ شوے نحونهٔ وے هن ؟

چې تا سلګی وهلې نو خپله مور دې یاده کړې وه ؟

تادا وئیلي و وچې " وئ مورے مړشومه "

تا نه مور زار شه. پکیه ! تا زما انتظار ولې نهٔ کولو

مرګ ته دې داسې تادې وه چې خپله مورهم درنه هیره وه -

په دومره اوږد سفر داسې بې تپوسه لاړې -

تا خو به دَ مورنه دَ تپوس نه بغیر بهر قدم هم نه اخستو

کلابه ! سر دا پورته کړه . پکیه

دا ټول حالونه راته په یو ساه اووایه

نو بیا خپر دے اودهٔ شه

زهٔ درسره دا لوظ کوم چې بیا به ستا مور

ستاپه قبر اوښکې نهٔ تحثوي -

زهٔ درسره دا وعده کوم چې بیا به

ستا مور ستاپه آرام کښې خلل نهٔ اچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به ستا مور ډنډل خدائے نه دا سوال کوي

چې ما هم تاسره ملګرے کړي - او د لته

تاسره نزدې - ستا په نحوا کښې اودهٔ شم

چې زهٔ هم را شم او په دې نحوشي بیابان کښې - د مړو په دې قبرستان

کښې تاسره نحوا په نحوا اودهٔ شم - او چې دا سې اوشي، چې ما هم

خدائے مړه کړي، چې زهٔ هم تاسره په څنګ کښې ښخه شم - نو زما

زړهٔ ته به ځومره تسلّي اوشي - او ستا نحوی وورزړهٔ به هم زما

په راتلو را ټول نموند پې شي - کنه کلا به .... ؟

زویه ! په دې نحوشي بیابان کښې - په دې تکو تورو شپو کښې

په دې سیلی ګلی او طوفانونو کښې - په دې غرمو په دې نمرونو

کښې نحوې دا سې یواځې پسې زونشي .....

رونې - نحوند رونې ! د کلاب د ژوند درد پسې لې قصه به

دا وخت نهٔ چې م . د هغه د ښهٔ سړي توب پاڼه به هم دا

وخت نهٔ اړومه - د هغهٔ د ځوانۍ صفتونه به هم نهٔ کوم دا

خبره به هم پرې پرې دم چې کلاب په خپله سینه کښې د یو انسان زړهٔ

لرلو - یو دا سې زړهٔ چې پکښې د هرچا د پاره د مینې محبت او همدردۍ

نه سړیا ل ځهٔ نه وو -

زهٔ صرف دا تپوس کوم چې بیا ولې دیو پښتون د تماچې نه وتې

ګولۍ، د د غه ځوان نوې انسان په سینه کښې سړې شوې -

بیا ولې یو تش د نامې پښتون را پاسید و او د د پې عظیم

پښتون او عظیم انسان په پاکو وینو ئې خپله لمن داغدار ه کړه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ کلاب غوندې انسانان هم کنې دَ دا سې عمل لائق وي دَ کلاب غوندی
پښتون سره هم کنې څوک دا سې دَ کې او نفرت نه وک سلوک
کوي ..... ؟

اوُ ..... ! دې دا سې ناپوهه پښتانهٔ شته - دې دا سې دَ
ناپې پښتانهٔ شته چې هغوئ دبل کمانو (وشکونو په نرخ سپلاب
کښې لاهوتي) دَ کلاب غوندې دَ نبکو او نوا نوو انسانانو
په وینو خپې منکو لې سرې نړې -

نهٔ پوهیږم چې دا لاتومه پښتو ده - دا لاکوم غیرت دے - زهٔ
نو دَ دا سې نو نړوده اقدام ته پښتو نشم وئیلے زهٔ نو دَ دغه
ظالمانو دې حرکت ته غیرت نشم وئیلے - دا سې قدم نو دَ پښتو اوُ پښتون
دپاره پېغور دے - دا حرکت دَ بُزدلۍ او بې غیرتۍ یوڅرګند دے
ثبوت دے - حُکه چې کلاب انسان وُه ..... نې آرمان نو دَ دې
مزکې په مخ بې شمپره دې نو انسانان پکښې دَ شمپر دي - نو دَ
یو انسان وژل نو دَ انسانیت وژل شول -

نهٔ پوهیږم چې دا خلق ظالمان، انسانان ولې وژني ؟
اے ناپوهو پښتنو انسانان مهٔ وژنئ ..... انسان کورے دې
په مشکله پیدا کېږي .... دَ یو انسان نه په لکهونو نې آرمان
قربان شه - دَ یو انسان نه په لکهونو نې آرمان ټوکے شه -

رونې دغه عظیم انسان - دا دَ پاک زړهٔ خاوند - دا دَ مینې
محبت او شرافت مجسمه کلاب، .... دَ تن نه څلوی کاله آکاهو
یوه ورځ ..... دَ مانښام په خړه کښې .... ستړے ستومانه په تندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټنډ و قد مونږ د ښارنه کورته راروان وُه - داسې معلومېده
لکه چې د کلاب نن کورته ډېره تادي وه - خدائے خبر چې څه
چل وه خونن د کلاب زړهٔ څخه بې واره غوندې درزېدو - په
سوچونو او فکرونو کښې ورک کلاب وے چې څومره زړې کېدے
شي چې کورته اودسم ..... او څه وخت چې د کر کښې شهید
ته راورسېد و نو ..... درې ډوبې ډزې اوشوې درې
کولۍ د تماچې د ټپېلۍ نه راووتے، او د کلاب په سینه کښې
بنخې شوې ..... کلاب راپرېوتو ..... کلاب یو څو لتې
او تهکولې - کلاب یو څو فریادونه اوکړل - او بیا .... بیا د
مور نیازبین روئے یوه سلګۍ اووهله او د هېښ د پاره
غلے شو - ..... کلي ته خبر لاړو - خلق په یو قو راوُچلېدل -
ټول راغلل - واړه - زاړهٔ بنځې اوسړي ټول راغلل .....
په دغه ټنګو کښې یوه د کلاب مور هم وه - دغه مورسرتوړ
سر اوپښې آبله پښې داسې کونتې را روانه وه لکه چې د ملا
تېر ېږي مات شوے وي ..... او واقعي چې د کلاب د مور د
ملا تیر د تماچې درپو کولو درې ځاینه چُپ چوړ کړے وُه....
مور راغله - خپل نیازبین روئے ټې چې په وینو کښې کس
اولیدو نو ..... رونو هغه نقشه زړهٔ نشم بیانولے داسې
الفاظ زما سره نشته چې زړهٔ د کلاب د مور د لپونتوب حالت پکښې
احاطه کړم - ډېره درد ناکه موقعه وه ډېره بوکنو ونکے لمحه
وه - ..... د کلاب مور لکه د لپونو بې واره او بې اختیاره چغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووهلې .... لوېږ ژړل ماشومانو ژړل. ښځو ژړل - هرچا ژړل

..... خو په ژړا خو چې مړي نه ډيرژوندي شوي - مور د

خپل زوے، په وينولړلے سر په خپل پټون باندې اپښود لې وه -

او په ژړا کښې ټې د ګلاب سره د اسې خبرې کولې ..... زما ځوانې

مرګه ګلابه تا څو څه جُرم نه ؤ کړے چې ظالمانو درله دومره

لويه سزا درکړه - تا څو چې څه ليدلي وو هغه دې په عدالت کښې

ويلي وو - چې څه دې ليدلي وو هم هغه ګواهي دې ورکړې وه - نو

د حقې وپناکنې دومره لويه سزا وې".....

دونې! د ګلاب مور اوس هم ژوندۍ ده - د ګلاب تورسر چې

بې بې او د ګلاب بوډا پلار اوس هم ژوندي دي ځلور کاله د ګلاب

د مرګ اوشول - په ځلور کاله کښې په دې کور کښې بيا د چا په شونډو

خنده نه ځوره نه شوه هغه ورځ شوه اودا ورځ شوه چې د ګلاب

د مور د ستړکو اوښکې اوچې نشوې د پلار فريادونه اود

ګلاب د تور سرې آهونه ساه نه شول -

خو اے د ګلاب پاکې مورې اوښکې دې اوچې کړه - اے

د ګلاب نباغليه پلاره فريادونه دې په قلار کړه - او اے

د ګلاب پښتنې تورسرې آهونه دې بس کړه - ګلاب مړنه دے

..... بنې آدم مړ کېدے شي نو انسان نشي مړ کېدے - ګلاب انسان

وه - يو داسې انسان چې چا د دنيا خلق له - د دې کلي او مالت خلقو

له د انسانيت سبق ورکړے دے - ګلاب پخپله يوه مينه وه - يو

محبت وه يو خلوص وه، نو مينه او محبت چې هم نه مړي -

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلوص او شرافت هیڅ کله نه مري .....

. ښځوري دي هغه مینه ده چې د کلاب په رنګ زامن پرې زیږولي دي . ښځوردي هغه پلار ان چې د کلاب غوندې زامن پرې لوړې کړي دي - . ښځوري دي هغه تورسرې چې د کلاب غوندې د ځوبن انسان د ښښتن توب نوم ورپورې دے ..... او څکه نوزړه دا وایم چې کلاب ژوندے دے - هغه به ژوندے وي تر هغه وخته پورې چې تر څو پورې د دې کلي د دې کلاڅې په پښتون هم ژوندے وي - او اے شهیده کلابه د شهادت دا له یه سرتیه دې مبارک شه زمونږ دا ایمان دے چې ته یخوا خپل، خدائے په خپلو رحمتونو کښې ځغښتلې ئې - نو اے خدائے ښښلیه کلابه جنتونه دې مبارک شه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه یاران

ه عَلَمه یو تر بل ځارپېن ئ

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

او دنیا فاني ده د دنیا صورتونه د ساعت کهړۍ مېلمانهٔ دي هېڅ پته نهٔ لږي چې ساعت له څهٔ شي کهړۍ له څهٔ شي - هیڅانه نهٔ ده معلومه چې زهٔ به ترصبا پورې ژوندے یم اوکهٔ نه - ترصبا پورې څهٔ چې دا هم چاته نهٔ ده معلومه چې زهٔ دا سباه ، یو ځل په خوله او یا سم نو چې دا به بیا زما وجود ته واپس هم راشي کنه نو..... څومره بې اعتباره دے ژوند ؛ څکه نو هو بنیارانو تپه کس پې ده چې ه

عَلَمه یو تر بل ځارپېن ئ

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

نو راځئ چې لږ د دنیا د حالاتو جاج وا خلو ، د دې خلقو اندازه لږه وا خلو - راځئ چې اوګورو چې دا د دنیا خلق تر څومره حده پورې دیو بل ته قربانېن ي - څومره کسان دي چې زهٔ وند نه ئ د انسان او انسانیت په مینه کښې ناقلاره دي - څومره کسان دي چې د بل په غم غمژنه دي - او د بل سره په زهٔ کښې مینه محبت او همدردي لري - په سلو کښې یو کس به ګنې دا سې وي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړوکښې به یوکس ګڼي دا سې ویې چې دهغۀ په زړۀ کښې د هر چا
د پاره، د نوې ژوند د پاره، صرف مینه او صرف محبت وي؛
..... زما په خیال نو نا ممکنه ده - زما په خیال نو ناشونې ده .....
نشته رونې زمونږ په زړونو کښې مینه نشته، زمونږ په زړونو
کښې همدردي نشته .... مونږ ه دوستي کوؤ، مونږ ه تعلق ساتو،
مونږ ه ورور ولي کوؤ، نو د دغه دوستۍ، د دغه ورور ولۍ او د
دغه تعلق مزے دومره کچه وي، چې صرف "په مۀ قر تیږۀ مۀ وئیږۀ"
نوطونو باندې او شلیږي - د دې دوستۍ مزے دومره کچه وي چې
په دې ډېره معمولي خبره هم په منځ دوه ځایه شي -

د احمد او کلاب مثال مې په ځکښې دے، .... د کلاب هغه غار
غار سینه او د احمد هغه مات ځټ به مې هېرنشي - او څنګه به مې
هېرشي، کۀ کلاب په شکل او نامه کلاب وۀ، نو احمد هم تر ې څۀ
کم نۀ وۀ، د احمد په زلمي توب کښې هم د کوتې اښنود وو ځائے
نۀ وۀ .... د دوارې زلمي همزولي وُو، دوارو د دوه ویشتم کال
په چوکاټ قد مونه اښنودلي وُو، دوارو ډیو کلي وُو، ډیو کندي
وُو، او دوارې یاران هم وُو، ..... شپه ورځې یو ځائے ګډ ځُل -
یو ځائے کښیناستل او یو ځائے پاسېدل وُو .... دوارې نېۀ دوستان
وُو، ډېر نزدې دوستان ..... د دغه خوږ و دوستانو په یو
کونټره جهګړه شوه، صرف په یو کونټره - احمد وے چې
زما په ښېره ناسته وه او کلاب وے چې زما په ښېره ناسته
وه ..... خبرې کې مې شوې ..... او دغه ګرمې خبرې ګرمېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرمند پې چې جهګړه ترې نه جوړه شوه ، او په دغه جهګړه کښې احمد
دومره تاؤ وا خستو چې لاړو کورته تهوپک پې واړوړو ..... او خپل
خوبه دوست ، د چوتې يار ، هغه چې شپه ورځې به يې وځاځ کښ ځېدل ،
د هغه کلاب په لرمون کښې د غوګين غبرګې ګولۍ سرې کړې او کلاب
نکه ډکورلندې او پورلپدو ، په زمکه راپرېوتو او نکه د حلال کړې چرګ او پرېږدو
.... لاړو احمد دیوې کونترې دسره خپل دوست قربان کړو .... د کلاب مور
سرتوره را غله .... په زوے راپرېوته ..... د کلاب نوې پنډې په
ژړا انګولا را غلې ، په کلاب راپرېوتې د کلاب ماشوم دور د
دنیا د حالا تو نه ناخبره د کلاب سرته ولاړ وۀ - او په ماشومه خوله
پې لالا لالا کول - ماشوم څۀ خبر وۀ چې لالا د کونتر پې په تهس
کښې لاړو - د خپل دوست دلاسه ..... ارمان دے چې د غه وخت نو
دا مزکه چاوړلے وے ، ارمان دے چې د غه وخت نو د آسمان نه کانې
ورپدلے وے ، نو .... نۀ مزکه رو چاوړده ، او نۀ د آسمان نه کانې
اوورپدل نو په چا چا به مزکه چوې - په کومه کومه واقعه به
د آسمان نه کانې ورپږې - دا کښې صرف کلاب وۀ چې خپل دوست
د زړۀ په سر راوېشتو ، نه ..... دا سې د پرکلابان احمد یانو د زړۀ په
سر وېشتلې دي اوګلابه د پر احمدیان راپاسې او د پرکلابان به د
یوې کونترې دسره زاره وي ، .... نوځکه نونۀ مزکه پرې
چوې او نۀ د آسمان نه کانې ورپږې .... لاړو کلاب د دنیا نه
تېرشو ..... ځواني پې خاورې ایرې شوه ..... مورهم ورله د وادۀ هغه
جوړه راوا خسته چې کومه به کلاب د وادۀ په پاتنګ اچوله .... او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم هغه د وادۍ کوله ټنګی ټې ورتاو په سرکړه چې په کومې باندې به
دۀ د وادۍ څهره تر له ..... د کلاب مړے ، لکه د وادۍ د زلمي خاوړو
ته او سپارلے شو ..... راځئ چې د کلاب د غم داستان د لته پرې ښودو
..... پرې ښودی چې د کلاب مور لکه د لپونو د څېښې په څوب کښې کلاب
کلاب چغې وهي پرې ښودئ چې د کلاب څوبنده ې د دوړې په قبر څورې
ورې پرتې وي ..... پرې ښودئ چې د کلاب پلار د زوئ په قبر هره
ورځ د کلونو نوې نوې څهره غوړوي او پرې ښودئ چې د کلاب
ماشوم روړ هم د غسې د لالا لالا رینګټې غږوي ..... کورو
به چې تر څو به د کلاب مور په څوب کښې کلاب کلاب چغې وهي - تر
څو به د کلاب څوبنده ې د دوړې په قبر څورې ورې غوړېدلې وي
تر څو به ټې پلار هره ورځ د زوئ د قبر د پاره نوې نوې څهرې
راوړي او تر څو به د کلاب ماشوم روړ لالا لالا کوي - د مړکې مخ سوله
دے هر قسم زخمونه ړ وخت سره سره پخېله څوله وړولي .....
راځئ چې لږ د احمد خبر واخلو .... د قاتل احمد د چالاسونه چې د ځېل
څوبن دوست په وینولړلے شوي وو چاچې د څلورو روپو د کونټر د پاره ځېل
یار وژلے وُ - د غه قاتل احمد پولیس اونیوُ .....
..... لاړه مقدمه شروع شوه ، د رنا ورځې قصه وه ، په دریمه
پېشۍ کښې احمد شیشن شو - او شیشن احمد ته د پهانسۍ فیصله
واوُرولې - اوُ احمد د پهانسۍ په کوټه د ننه کړے شو .... د لویو
لویو فولادي ټمبو شاته ، کوم خُاے چې په انسان د دنیا باد هم نهٔ
لږي - په هغه خُان له کوټه کښې ز لمے احمد چې ایله شونډه ټې شنه
شوې وه ، چې په سر ټې لاد وادۍ څهره نهٔ وه تېرې - چې لاړه پالنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نۀ وۀ اودرپسلے - چې په ډولۍ پسې ټې چالا ړلا نۀ وې ناړې کړې،
هغه احمد د پهانسۍ په کوټه کښې بند یوان شو، د احمد مور
هم د زوے د ځهړې لیدو په ارمان وه، د احمد ځوپند ې هم د
رور د ډولۍ په طمع وې، د احمد پلار هم د زوے د وادۀ ځوښحالي
لیدل غوښتل، نو هرځۀ لاړل تالاتر غه شول، د ځکو کوټنۍ
د ستر کو په رپ کښې ورانه شوه، ..... احمد په ژوند و نې لاړو
.... پلار ټې د پرې منډې ترړې اووهلې، اپیلونه ټې اوکړل -
رحم درځواستونه ټې اوکړل، ځو د کلاب ځون احمد ته اونه ښکښلے شو،
او د پهانسۍ حکم په ځائے پاتې شو، ..... تاریخ مقرر شو، چې د
راتلونکې میاشتې په ځلورم تاریخ به احمد پهانسي کیږي - ځو احمد
لا اوس هم د پهانسۍ په کوټه کښې په دې انتظار ناست وۀ چې
اپیل به منظورشي، ځو هر کله چې احمد خبر شو، نو د دنیا د ژوند
نه ټې ټوله توجه آخرت ته اوګرځیده، احمد په خپلو کړو وپښیمانه
وۀ، بې شانه د پر پښیمانه، د هغه نه د کلاب ځهړ ډیوې لحظې
د پاره هم نۀ هیرپده - او ځنګه به هیرپده؟ ولې کلاب کښې د
احمد دوست نۀ وۀ، ..... دوست ټې وۀ، یار ټې وۀ، ځو ..... د دې
باوجود هم د کلاب قاتل وۀ ..... رو نو د پهانسۍ نه یوه ورځې
اکا هو ټول خپل خپلوان د احمد د آخري ملاقات د پاره جیل ته
لاړل ..... هر چا ژړل ..... هرځوک خفه وۀ ..... او احمد؟ د
احمد په وجود کښې ساه نۀ وه، تک زیړ ښکه کورکمان، ځمونږه سونګۍ
توره ښیره ټې ساتلې وه، په لاس کښې ټې تسبۍ وې - ځومره ښکلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارپدو ، احمد ! اونښکلے به ولې نهٔ ښکارپدو ، آخرځوان وهٔ ،
زلمے وهٔ .... احمد د تولونه بخښنه اوغوښته ، دهرچا نه پٔې بخښنه
اوغوښته ، اوچې زغم پٔې تمام شو ، نو ستر کې پٔې پټې کړې ،
آواز پٔې ډډ شو ..... تول خلق سرې ستر کې دجبل نه راواپس شول ...
رونو زهٔ تاسوته نشم وېلے چې هغه شپه د احمد مور ، پلار اونورو
په کوم قیامت کښې تېره کړه ..... توبه خدایه توبه دشمن هم
ددا سې شپې نه سابقې - نوهم مسلمان ددا سې اوزنه ساتې د احمد
مور نو تول شپه سکه د لپونو وزه نوله اسمان ته نیولې وه ، د
احمد نورونو نو تول شپه آسمان په سرراخستے وهٔ ، یقین
اوکړئ رونو چې په د غه شپه تول کلي نوب نهٔ وهٔ کړے .....
خدائے خبر چې په احمد به دا شپه څنګه تېره شوې وې .. چې احمد
له څهٔ وخت دجبل عمله راغلې وې ، دشپې په چپه چپیا کښې ، چې
تول عالم په نوابۍ نوب اودهٔ وهٔ ، چې په د غه وخت کښې دوئ
احمد دپهانسۍ تختې ته روان کړے وې ، نو چې د غه وخت به
د احمد څهٔ حال وهٔ ، چې د غه وخت به احمد قدمونه څهٔ رنګ پورته
کول ، چې د پهانسۍ په تخته به څرنګ ولاړ وې - اوچې څه وخت
د پهانسۍ تختې دکړک سره مخ په بنکته تلې وې نوچې د غه
وخت به احمد څهٔ وئیلې وې ؟ ..... توبه خدایه توبه - یا الله
توبه - یا الله ال اولاد چې د دا سې ورځې نه روساتې - نوهم مسلمان د
دا سې وخت نه روساتې - آمین - سمدپه تره خپه د احمد مړے کلي
ته راورسولے شو ، ..... څټې پٔې مات وهٔ د احمد مور سور رومال د احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمات څټ نه چاپېره کړو ، زما په خیال چې دا رومال ئې مور سائلے وُه ،
چې دَ وادهٔ د ښکېنزو په شپه به پرې احمد له ګډه کوتې ته ځي - دَ
احمد مورهم زوئے ته دوادهٔ بولېده وا غوښتوله اود وادهٔ قوله
او ګلکه ئې ورته په سرکړل - احمد په کټ کښې پروت وُه - په
مخ باندې ئې دَ زلمي توب ښکښې نښانې څرګندې بنکارپدې -

دوهٔ د احمد مور او نورو چې په دغه ساعت ، په دغه
وخت څهٔ کړي دي هغه نقشه زهٔ تاسوته نشم بیانولے - الله دې احمد
او ښکښې ..... زهٔ منم چې هغه قاتل وه ، خو دَ انسان نه په غصه کښې
تل دا سې حرکتونه کېږي چې بیا په پښېمانه وي - الله دې ګلاب
هم او ښکښې څه چې هغه شهید وهٔ ،

نو اے دوهٔ ! اے دَ ځوانۍ په مینه مستو دوهٔ - اے دَ
غفلت په خوب اودهٔ دوهٔ د خدائے خاطر اوکړئ چې لږ ساړهٔ خوړئ -
لږ د حوصلې نه کار اخلئ ، د انسان ویشتل د انسان وجل کهٔ هر څو
انسان دې خو انجام ئې ډېر عبرتناک دے - دا سې عبرتناک مرګ نه
دې الله تعالیٰ هر مسلمان سا تې - - راشئ په دې خپلو زړونو
کښې مینه محبت را پیدا کړئ دَ انسان سره مینه اوکړئ چې خدائے
درسره مینه اوکړي چې دین او دنیا دواړه موخائسته شي -

ے

عالمه یوتوبل زاړپنځ

دنیا فاني ده مېلمانهٔ دي صورتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تربُور

د زړهٔ پرهرونه کهٔ په ژړا رغېدے شوے نو مابه د اوښکو په ځائے په وینو ژړلي وے ۔ د زړهٔ زخمونه کهٔ په ژړا جوړ شوے نو مابه په رتو رتو ژړلي وُو ۔ خو دا زما د زړهٔ زخمونه چې زهٔ ټې ناقلاره کړے یم ۔ او دا پرهرونه چې زما د شونډو نه ټې خندا راشوکولې ده دا زخمونه او دا پرهرونه نهٔ په ژړا رغېدے شي او نهٔ په انګولا ۔

ترڅو پورې چې زمونږ په معاشره کښې غلطه پښتو شته ۔ ترڅو پورې چې زمونږ په معاشره کښې انصاف صداقت او مینه محبت نهٔ وي را پیدا شوے ۔ ترڅو پورې چې یو انسان بل انسان خپلې سینې ته نهٔ وي را نزدې کړے نو زمونږ په معاشره کښې قلاري ډهٔ شي، را پیدا کېدے ۔ سکون نشي را پیدا کېدے ۔ اطمینان نهٔ شي را پیدا کېدے او دما غوندې حساس طبیعت خاوند ته ناقلاره وي ۔ ته به پریشانه وي او ته به ټې په ستړګو کښې د غم او افسوس د نهې رنهې اوښکې ځلیږي ۔ اے لویه خدایه دا انسان ولې دا سې بې مینې شو ۔ د انسان د زړهٔ نه هغه مینه او محبت ولې دا سې اووتل ۔ انسان ولې په حیواني نړیوالو کښې دا سې را و نغښتے شو ۔ انسان خو لا پو حیوان شو بلکه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنې موقعو کښې نو انسان د چې انسانیت د درجې نه هم راپرېوتو

اے لویه خدایا دا به ترکومه پورې یو انسان د بل انسان

وینې څښي - ترکومې پورې به انسان د انسان په وینو خپل

لاسونه لړي - انسان به د انسان په مړو چاړه راکاږي ؟

اے لویه خدایا تهٔ په خپل فضل وکرم سره انسان صحیح انسان کړې -

چې ستا په دې ښکلې او رنګینه دنیا کښې سکون او اطمینان راپیدا

شي - چې دا ښکلې دنیا چې ډېر رنګ والې او ګنده والې په لور په

تُندې سره روانه ده چې د دې ښکلا قائمه پاتې شي - چې دا دنیا

ستا د مخلوق دپاره د دوزخ په ځای جنت شي هغه جنت چې هرڅوا

ته پکښې خوشحالي او اطمینان وي - چې هرڅوا ته پکښې سینه او

محبت وي - دا سې دنیا چې یو انسان پکښې بل انسان خپلې سینې ته

رانزدې کړي - چې انسان پکښې انسان ته د رور په سترګه اوګوري -

چې یو تربور په کښې بل تربور ته د تربور په سترګه نه بلکه د رور

په سترګه اوګوري تربور زمونږه رور دے - تربور زمونږ

دشمن نه بلکه زمونږ مټې دي - تربور زمونږ دشمن نه بلکه

زمونږ ملاتړ دے - د یو نیکهٔ اولاد هم چرې د یو بل دشمن کېدے

شي - په وینه شریک هم د یو بل وینه تویولو ته تیار پیدا شي -

خپله وینه هم څوک تویوي - د خپل رور په مړو هم ځني څوک چاړه

راکاږي - د خپل تربور سینه هم څوک په کولو غار غار کوي

نه .... هېڅ کله نه دا خبره عقل او دماغ نهٔ منې چې یو رور دې

راپاسې او بل رور له دې په دې وجه په مړو زور کړي چې معاشره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له د تربور نوم ورکړے دے - یو ورور دې د بل رورپه سینه
کښې شپیږ کوليږ ځکه سړې کړې چې معاشرې دغه رور د تربور
په کرکټر نوم یادکړے دے نو د دې دومره دليلونو باوجود
هم د دې دومره حقيقتونو باوجود هم زمونږ په معاشره کښې
تربورته د دشمن په سترګو کتے شي - ولې ؟ ځکه چې تربورمونږ
نخپل ميراث نوې کنې - تربور مونږ نخپل سيال کنې - او پښتانو
هرڅهٔ زغملے شي نو خپل ميراث نوې نشي زغملے - هرڅهٔ برداشت
کولے شي نو خپل سيال نشي برداشت کولے - او دا زمونږ د تنګ
نظرۍ غټ ثبوت دے - دا زمونږ د ناپوهۍ ژوند ے ثبوت دے -
دا خبره د دې ثبوت دے چې زمونږ په زړونو کښې بغض دے - حسد
دے بدګماني ده - که چرې زمونږ په زړونو کښې بغض او حسد
نهٔ وے که چرې زمونږ په زړونو کښې بدګماني نهٔ وے نو مونږ
به تربورته د دشمن په سترګه نهٔ کتل - تربور به مونږ ته رورنه
نو انورنے او نه ملاتړ کنلو - نو ارمان چې مونږ د حقيقت
نه سترګې پټوو - او زمونږ د حقيقت نه دې د سترګو پټولو عمل
د پرې نونې وراني کړې - د پرې تورسرې پې کوندې کړې د پر
ماشومان پې يتيمانان کړل - او خدائے خبر چې نورې به څومړ
نونې د کړې او نفرت په دې ټنور کښې ورتيږي - ځکه نو
ماله ژړا راځي -

د د پرې مودې خبره نهٔ ده - د کلونو خبره هم نهٔ ده -
د دوو میاشتو خبره ده چې یوه ورځ چې د ماځيګر نمر په زړه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو - چې تمرخیل څخ د تاتړې دغرنه د پناه کولو دپاره په تُندی
تُندی څخ په قبلې روان وُه - مارغان او کارغان په بیړه خپلو
خپلو جالوته په الوت وو الغاؤ تلغاؤ پُې جوړ کړے وُه - د مارغانو
په د غه الغاؤ تلغاؤ کښې ملوک خان د جوارو د پټې ته ر میے په لاس راُووتو-
په ځولو کښې جب جُوب وُه - په تندي پُې لاس کښنو نمر پرې وآتُه
ته پُې اوکتل - خدائے خبر چې څُه چل وُه نن ملوک خان د پس
ستړے ستړے وُه - په درنو قدمونو د پټې نه را اووتو - لاړو د
لختې په غاړه کښېناستو ، اودس چا راندام پُې اوکړو - اوُ هم د
جوارو په پولهٔ پُې د مانښام د نمونځ نیت اوترلو - خدائے خبر چې
څُه چل وو نن ملوک خان په نمونځ کښې د خپل خدائے سره په
خبرو کښې داسې ورک وُه چې د پر وختُ وا خستو - او د نمونځ نه
پس پُې یوه لنډه شان دُعا اوکړه ... وو خدایا ایمان مې نصیب
کړې ،، لاسونه پُې په مخ راښکل او نېغ کورته را روان شو - خدائے
خبر چې نن د هغه کورته ولې داسې تادي ده - ولې پُې ماشوم زوے
سپفور داسې د پر په زړهٔ را اوورېدو - لکه چې د پړه موده شوې
وې چې خپل نیاز بین زوے پُې نهٔ وې لیدلے - په زړهٔ کښې پُې
د سپفور سره خبرې کولې را روان وُه او چې د شهید کنډاوُ نه
را و وُړېدو نو ناکهانه د پوددل خان د تمې چې د نلی نه سړې کولې
کله سړې لمبې، اووتې او د ملوک خان په سینه کښې یخې شوې -
کولې یخې شوې او ملوک خان هم یخ شو - هیڅ پُې او نهٔ وے -
چې قدرله پُې د ځولې نه او نهٔ وته صرف دومره قدرله پُې اووے

(c) ketabton.com: The Digital Library

"خدایا ایمان می نصیب کړی"

ملوک خان ښځه ځوان وه - او د غه ښځه او ښکلے ځوان د پوردل خان
تربور وه - تربور! چې مونږ ورته د بیې بور وایو - تربور چې
مونږ ته دشمن کښو - د پښتو په لغت کښې تربور د دشمن دوئم نوم
دے - حالانکې د خدائے په ټینګ د انسانیت په نیز تربور دشمن نه
دے ورور دے - تربور د بې پرې بور نه دے ملاتړ دے - تربور د یو
نیکه اولاد دے او د یو نیکه د ینه ته په رکونو کښې ټوپونه وهي -
خو دې دومره نزدې تر ون باوجود هم پردل خان را پاسید و
او خپل دتره زوے ته شپږ ډزه اوویشتو - ولې ..... ؟ ځکه چې
ملوک خان په دکه حجره کښې پوردل خان ته خبر ې کړې وې - د بدو
چارو ته منع کړے وه - خبر ې د پرې نښې وې خو که ملوک خان نه
وے کړے - دا خبر ې که بل هرچا پوردل خان ته کړے وے نو خپل
وه خو د ملوک خان دا حق نه وو چې پوردل خان ته ته دا خبر ې کړے
وے - ځکه چې ملوک خان د پوردل خان تربور وو - او د تربور خپل و
پوردل خان دومره په غصه کړو چې خپله غصه ته دا سې اوویسته
چې د تربور په سینه کښې ته شپږ کوله سړې کړې -

د ملوک خان ماشوم زوے د پلار د راتلو په طمعه کله کور
کله کوټې ته تلو راتلو - نن د سپوږمۍ هم خپل پلار جوړې د پس
یاد پدو - ځکه نو ته دا سې چې صبر ې کوله - نو ماشوم سپوږمۍ
نه وه خبر چې د هغه پلار د تربور ولې د سره زار شو - بیرما سختن
چې د ملوک خان مړے کورته راوړلے شو نو ماشوم سپوږمۍ د پلار لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په کتو کتو کښې اودۀ شوے وۀ خو په خوب کښې به ئې اوچې
اوچې سلګۍ وهلې ..... جوړې د غه پاک ماشوم په خوب کښې
د پلار د مرګ ټوله ننداره لیدله ځکه خو ئې په خوب کښې ژړل -
ځکه خو ئې په خوب کښې سلګۍ وهلې دا سې سلګۍ چې د را ویښ شو او نه پس هم
په خندا بدلې نۀ شوې - د سپفور ژوند یوه سلګۍ شوه دا سې
سلګۍ چې ټول عمر به دده په ماشومو شوندو نوره وې - د
تربور ولۍ سلګۍ - د کرکې او نفرت سلګۍ - د غلطې پښتو او غلط
احساس سلګۍ .... الله پاک دې په مونږ رحم اوکړي - الله پاک دې
زمونږ د زړونو نه بغض حسد او کینه اوباسي - چې دا د تربورولۍ
په ناولو جذبې کښې ټکان شوے دنیا په مونږ جنت شي - آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره بابا

(اسوپلے) دنیا د غمونو کور دے - ۱۰۰۰ واقعي چې دنیا د غمونو کور دے ، که دنیا د غمونو کور نه وے نو نن به سپفور ماما دا سې لپونے سپېلنے نه کړ ځېدو ، نن به سپفور ماما دا سې څیرې کړ پوان نه کس ځېدو ، .... مال شته نو د سپفور ماما جاپې شلېد لے دي - دولت شته نو سپفور ماما لپونے سپېلنے کړ ځي - ولې ؟ د ولې جواب دا دے چې دولت کور ے د هر مرض دارو نه دي ، دولت د هر مصیبت علاج نه شي کولے - اے په دنیا مېنو رونو راشئ د سپفور ماما د حال نه عبرت واخلئ - اے په دنیا پسې ایمان خرڅوونکو راشئ د سپفور ماما د قصې نه سبق واخلئ راشئ او کورئ چې دولت د انسان نه غم نه شي اخستے - صرف دولت انسان له خوشحالي نه شي ورکولے ، بعضې وخت په شته دولت کښې هم انسان لپونے شي ، په شته جائېداد کښې هم انسان بربنډ شي ، دخندا شي ..... زه تاسو څخه نګ پوهېږم رونو ، زه تاسو ته په کومو الفاظو کښې اووېم رونو ، چې راشئ ، اے په دنیا مېنو دولت ته سجدې نکول پرېږدئ .... دولت ته جګجګې او سلامونه کول پرېږدئ - د دولت د پاره پېل ایمانونه مه خرڅوئ - پېل اخرت مه خرابوئ د دولت د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ضمیر ونه مړ چغرې کوئ ، څکه چې دولت هیڅ ځیني نه دے ،
دولت هیڅ نشي کولے ، دولت د انسان نه هر غم نه شي اخستے ، هر
مصیبت ترې نشي اخستے ۔ هره خوشحالي ورله نشي ورکولے ، که
دولت او جایداد دا هر څه کولے شوے نو نن به ې د سپفو
ماما د زړه پرهرونو باندې مرهمونه اېښودلي وو ، نن
به ې د سپفور ماما د دردمنه زړه څه درمان کړے وه
..... ټوله لوئے غم غریب ته ورتر غاړه شوے دے ۔ انسان د پر
سخت دے کنې نو پکار نه دا وه چې سپفور ماما هم هغه تماچه
دې خپلې کپړې ته راړولے وے ، یا ې د خپل زړه سرته نیولے
وے ، چې د خپل زوئے سره دے هم د توره لحد توره وتیږه ته
تلے وے ، نو سپفور ماما نه سرته تماچه راونیوه او نه زړه
ته ، څکه چې ځان ځوبن دے کنه ، ..... د پر ځوبن دے ۔ د مور پلار
نه ځوبن ۔ د ښځې نه ځوبن ، او د اولاد نه هم ځوبن ، که ځوبن
نه وے نو ..... یوه ورځ کوزماځیکن سپفور خان د پښتې نه
ستړے ستومانه راغلو ، .... لا په کټ نه وه ناست ۔ چې خدائے
خیر زړه ورته څه اووے چې نېغ لاړو کوتې ته تماچه ې
راوا خسته ، په کټ کښې ې ځان ته کښوده ، او دا ې خیال وه ۔
چې لږ دمه شي نو تماچه به صفا کوي د پره موده اوشوه چې صفا
کړې ې نه ده ، هسې نه چې زنګ شي .... سپفور خان غریب څه
خروه چې ..... په وې کښې د سپفور ماشوم زوے شکور راغلو
..... ر بابا د چې ..... د تماچه د ..... دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چهٔ کے هن ؟" ..... په دې به ډزې کوو بنه" ..... "لاکه چې زهٔ
په ډزې اوکړم" ..... نه بچے چې تهٔ لوئے شې نو بیا به پرې
ډزې کوې بنه" "نامالا اوس لاکه زهٔ پرې اوس ډزې کوم"
..... "درته وېم چې لوئے شې نو بیا به پرې ډزې کوې" ...
"هن هن مالا اوس لاکړه"
"درته وېم چې مړ کوه ورانے"
"نا زهٔ به پرې ډزې کوم"
"نهٔ منع کېږې ؟ کهٔ ورانے کوې نو اوبه دِلم"
اوٗ سپفوړ خان تماچه راوا خسته، دهغهٔ دا خیال وهٔ چې تشه
ده او دزوئے د ویرولو دپاره ېٔ هغه ته اونیوه - او په دې کښې
ډز شو، .... ماشوم پرې لګې راپرېوتو او دا پرېوتو سره ېٔ چغه کړه
"وې بابا بیا به نهٔ کوم" .... ماشوم لکه د حلال کړې چرګ
په مزکه اولوغړېدو ، مور ېٔ راوتړه کړه ..... او سپفوړ هم په
وینو لپت پپت زوئے د مزکې نه راپورته کړو ، خپلې سینې ته ېٔ
رانزدې کړو ، .... ماشوم په وار خطا ستړکو د پلار مخ ته اوکتل،
او په ستړکو ستړکو کښې ېٔ پلار ته رووے چې ..... "بیا به
نهٔ کوم بابا، زما دې توبه وې بابا - پام چې بل ډز راونهٔ کړې
بابا" ..... او یوه سګې ېٔ اووهله .... او د دغه سګې سره
ماشوم شکور د پلار په غېږ کښې رخ پرخ شو - مور ېٔ په مخ
راباندې کړې ، د سر وېښتهٔ ېٔ روشوکول، جامې ېٔ تار تار
کړې - او سپفوړ خپل ماشوم زوئے هم هغه رنګ په سینې پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولے وُہ ..... حق، حیران وُہ چې د څُہ وو او څُہ اوشو -
دا سې معلومیده چې لکه سپفوړی څکه ماشوم زوئے په سینې پورې
نیولے دے، چې د خپلہ ساه دَ هغۂ په وجود کښې داخله کړې -
سپفوړی د غوښتل چې زما د زړهٔ حرکت دې بند شي نو چې د شکور
ماشوم زړهٔ بیا په ټوپونو شي، .... سپفوړی غوښتل چې زما
ستر کې دې پټې شي نو چې دَ سپفور د ټې رنې او نور ټ
نو کې ستر کې بیا او غړپ ږي - نو نهٔ د سپفور د زړهٔ حرکت
بند شو، او نهٔ د شکور ماشوم زړهٔ بیا په ټوپونو سرشو ..... نه
د سپفور ستر کې پټې شوې، او نهٔ د شکور رنې رنې او
نور ې نو ې سترکې بیا او غړپ ې .... سپفور شکور شکل
کړو، په دوارِه مخه ې ښکل کړو، په دوارِه و ستر کو ې ښکل
کړو، ..... دَ سپفوړی خوله دَ شکور په سرو سرو پاکو وینو
سره شوه .... دا سې ښکارپده چې لکه سپفوړی د شکور وینې
څښلې وې، دَ خپل نور ټ زوئے وینې، د خپل نیازبین زوئے وینې
.... اوُ د ښه دَ سپفور زغم تمام شو، حوصله ې ختمه شوه یوٌ
سپېره کړیکه ې اووهله - جامې ې اوشکولې او لاړو په کوڅه
اوو تو .... سپفوړی پوهے شو نهٔ د شکور د جنازې نه خبر شو
نهٔ دَ شکور قبر له راغلو، نهٔ ې شکور لحد ته کوزکړو او نهٔ
ې په لحد کښې د شهید او نیازبین زوئے ځې اوکتو، سپفور ما ما
چې هغه پوهے دے، نو لا خدائے خبر چې ترڅو پورې به پوهے وې...
په لاروکو څو کښې به کړې - شلېد لے جامې سرتور سر - پښې ابله پښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالکل چپ خاموش، پټې ستر ګې زورند سر، لکه چې د څه په تلاش
کښې وي، لکه چې څه لټوي.... اؤ! سپفور ماما د څه په لټون
کښې دے .... د سپفور مامانه شکور ورک شوے دے - ماشوم شکور،
نیازبین شکور ماشومان نو ورکپږي، تل ورکپږي - او بیا را پیدا
کپږي، .... نو اے بد قسمته سپفور ماما، شکور به پیدا نه شي-
شکور په دا سې لار ورک شوے دے، چې د هغه لارې ورک شوي پرې
بیا واپس نه دي راغلي، هغوي بیا نه دي پیدا شوي- نو نه څه
له زورند سر او تپټې ستر ګې ګرځې، ټه ولې دا سې سر وهلے بر وهلے
ګرځې - ترکوچې پورې به ګرځې .... اے بد نصیبه سپفوړ - اے
بد قسمته سپفوړ، زه څه اووپم چې ته څومره بد قسمته یې....
ستا لاسونه د خپل ماشوم زوئے په وینو لړلي شوي دي؛ تا خپل
نیازبین زوئے په غږ پر لو ستر ګو په خپل لاس وژلے دے؛ څکه
ټه پوښے شوے؛ څکه ټه دا سې سر وهلے بر وهلے ګرځې؟

اے رونې! اے پښتنو رونې! دا تاسو دومره بې احتیاطه
ولې یئ، داد وسلې بسره تاسو دا سې لوبې ولې کوئ- دا د وسلې نه
تاسو څه بوره کړي دي، چې هرچا به یو یو سسپار غاړې ته اچولے
وي، چې هرچا به یو یو اودلټروتے په اوبه کړے وي - او هر د تماچې
او توپک خاوند به کوټ کوټ په ټکر وکړئ - د شرافت معیار ګنې
تماچه او توپک شو - د موټر ې معیار ګنې وسله شوه،

مه کوئ رونې بې ضرورته وسله مه ګرځوئ - هیڅ ضرورت نشته
چې هر څوک د ځان سره وسله ګرځوي - ځومره ټوپې دې توپک

(c) ketabton.com: The Digital Library

تماچو وراني کړي - څومره تورسړي ئې کوندې کړي، څومره کلي ئې دکل کپه و نه اکاهو اوړوولې - نو اے دوسلو خاوندانو دخدائے خاطر اوکړئ او وسلې سره لوبې مه کوئ - حُکه چې وسله د پس بې اعتباره څیز دے -

او اے سپفور ماما خدائے دې ستا ددې غمژپلې ژوند خاتمه اوکړي - الله دې تاله صبر درکړي - او الله دې ستا دا پوښتوب په لاړکړي - دنیاد غمونو کور دے دلته غم شته - مصیبت شته - پریشانۍ شته، او ددې غم-مصیبت اوپریشانۍ علاج نه ستا دولت کولے شي او نه ستا جائیداد - په عقل ستا د رنځ علاج کړان دے - هغه چا ته یه کړي ده چې -

دخدائے په لوئے کرم به کښې
ن
په عقل کرانه ده زمادجانامینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَحمد

(اسو پلے) احمده خدائے گواه دے چې ستاپه ستر کو کښې د اوښکو سېلاب د انسان زړهٔ اوبهٔ کړي - زهٔ څهٔ اوکړم، کهٔ دا غم دا غصّووے نو مابه درنه څهٔ قدرې کم کړے وهٔ .....

کهٔ زما وس کېدے نو مابه ستا دې ټولو غمونو ټول زړهٔ له ټکور ورکړے وهٔ - مابه پرې پرې ملهمونه او پاڅې ایښودلے وے - مابه ستا د زړهٔ دا سپېرې سپېرې سرېښې لږې قلارې کړې وې ..... نو څهٔ اوکړم .... زهٔ هیڅ نشم کولے .... مُحکه هغه سوزې چې اور پرې بلېږي .... زړهٔ هغه نو کېږي چې پرهرونه پکښې جوړ شوي وي .... ستر کې هغه ژړېږي چې د زړهٔ تسکین او آرام پُې چا لوټلے وي .... ته ځومره بد قسمته پُې احمده! ..... ستاپه بد قسمتۍ نو ماله ژړا راځي ..... چې ته ژاړې نو خدائے شته چې مانه دا غېل زړهٔ وایُې چې زهٔ هم درسره په چغو چغو اوژاړم - ..... مُحکه چې ستا غم زما زړهٔ هم ناقلاره کړے دے .... زما د شپې نو بونه پُې هم زمانه راشوکولي دي .... زهٔ منم چې آفتاب ستا زوئے دے .... زهٔ منم چې آفتاب ستا د زړهٔ ټکړه وه .... زهٔ منم چې آفتاب ستا د اُمیدونو مرکز وهٔ، مُحکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مشرے زوئے وۀ ..... د ټولونه مشر ..... تا د آفتاب سره

څومره خواري کړې وې - څومره شوانخون دې ورسره کړے وۀ

..... او اوس ؟ اوس ايله ستا د اوګونه پېښې لږ سپک شوے

وۀ .... اوس آفتاب تانه ستا غمونه په خپلې ماشومې څټې انتې

وُو ..... آفتاب د پروان وۀ کنه ؟ د پرشوخ وۀ کنه ؟ .....

تابه د هغۀ نه همېشه سرټکولو کنه ؟ .... ولې بيا هم چې د کله

نه د هغۀ شوندۀ شنه شوې وه ، نو ستا دَ ملاتيس مضبوط

شوے غوندې وُو .... تا په خپلو متوکښې طاقت غوندې محسوسولو

.... ځکه چې آفتاب ستا مشرے زوئے وۀ .... او مشرے زوئے دَ

مور پلار دَ ملاتيس وي ..... خو نن ستا دَ ملاتيس مات شو، نن

تۀ بيا خپلې متې کمزورې محسوسے .... ځکه چې آفتاب ستا دَ

ستر کو تور آفتاب ..... دَ وخت نه اکاهو .... تۀ غمونو او

مصيبتونو ته يو اځې پر پښو دې .... لاړو آفتاب په ټول عمر کې

خوارۀ ځوب اودۀ شو، او تاته ئې يو نۀ هېرېدونکے غم .... يو نۀ

قلارېدونکے درد .... يو نه ختمېدونکے مصيبت پر پښو دو ..... احمدۀ!

ستا غم کۀ هر څو نه هېرېدونکے دے، خو دا غم به تۀ هېره وې .....

ستا درد کۀ هر څو نۀ قلارېدونکے دے، خو دا درد به تۀ په خپل

همت او په خپلې حوصلې قلاره وې ..... تۀ به دې غم ته غاړه

غړۍ ورځې .... تۀ به دې درد له سينه په سينه ورځې .... تۀ انسان

ئې .... تۀ مسلمان ئې ..... انسان دَ هر مصيبت مقابله کولے شي ....

مسلمان هرې سختۍ ته غاړه ږدي ..... راځه روره راځه .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آفتاب د قبر په خاوره ونبکي مړه تويوه ..... د آفتاب قبر ته ژړا
مړکوه ..... پرپښوده چې دا زلمے شهید ..... پرپښوده چې دا ماشوم
شهید د دنیا د لانجو نه بې غمه د جنت په رنګینو کښې د آرام او اطمینان
ژوند تیرکړي .... دا پاسه .... راځه ...

رونې ! دا احمد زموږ د کلي - زموږ د چم کاونډ یو نرے
نروچکے کمزورے سړے دے ..... خو دې نرې نروچکي اسان له
قدرت ډېر همت ورکړے دے - په دې مانده هډوکو کښې لویه
حوصله او لوئے زغم پروت دے .... دا احمد د ژوند نوې حالات به
پرپښودو - زاړهٔ واقعات او زاړهٔ حالات به نهٔ راپاده وُو..... خو د
نن نه پنځلس ورځې آګاهو د دې احمد مشرے زوئے آفتاب سحروختي
په سائیکل سور د کورنه خوشحاله خوشحاله مدرسو سره سکول ته
روان شو .... تر له ورځ پرې په سکول کښې سبق اوو ټلو او ماسپښین
پاؤ باندې یوه بجه د سکول نه چهټې شو ..... په سائیکل سور د
کلي په لور روان شو ..... د ټولې ورځې سبق د آفتاب مخ مړاوے
کړے وُه ..... په خپل ترنګ کښې کورته روان وُه ..... په خپل فکر
کښې د کور په لوري روان وُه ..... خدائے خبر چې دغه د خت به د آفتاب
په زړهٔ کښې کوم خیالونه او کوم فکرونه په غوږ زنګ وُو .....
خدائے خبر چې دغه وخت له آفتاب په زړهٔ کښې څهٔ کړل او څهٔ ږیل
.... خو چې د میچنۍ پهاتک ته ورنږدې شو .... چې د خپل کلي او
کور نه لا دوه میله لرې وُه ..... نو د مخې نه یو تهرک ټکه د اجل په
صورت د آفتاب مخې ته راغلو .... او چې ماشوم آفتاب د ځان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاله خبرېد و خبرېدو ..... نود غه ځونړي تهرک لکه ديو مست
هاتهي بيا د خپلو پايو د لاندې چخړې کړے وه ..... يو درز
اوشو او په دغه درز کښې يوه نرۍ غونډې کښيکه يوه زهړه
بوګنوځونکې غونډې کښيکه راپورته شوه .... ځومره هيبت
وه په دغه کښيکه کښې ځومره درد وه په دغه کښيکه کښې
..... توبه خدايه توبه ..... دغه کښې څو د ځواوګ شاموبود
خلقوزړونه هم په لړزان کښې ..... خلقو رامنډې کړې او
چې آفتاب له راوړسېدل ..... نو ماشوم شهيد په خاوروکښې
خړپړ .... په وينوکښې لټ پټ خپل خدائے ته رسېدلے وو
..... د ماشوم آفتاب سر د ځونړي تهرک د پايو د لاندې چخړې کړے
وه ..... هرچا د نقشه اوکتله هرچا د زهړه بوګنوځونکې نندارې
اوليده .... د هرې سترګې نه او بنکې څڅېدې هرچا ژړل...
او آفتاب! ماشوم آفتاب د دنيا او د دنيا د اوسېدونکو د حاله
بې خبره په خاوروکښې پروت وو سې بنکارېدو چې سکه مسکے وه
تابه نه وے چې آفتاب مړے .... تابه نه وے چې آفتاب
يو بې پرواه د را ئېود د خپل تهرک د د پايو د لاندې چخړې کړے
دے ..... پلار ته خبر لاړو چې راشه ستا آفتاب تهرک اووهلو
..... مورته جواب لاړو چې راشه ستا د سترګو توره تانه د ټول
عمر د پاره جدا شو ..... پلار پښې آبله پښې را منډې کړې
..... او مور ..... ؟ د مور په زړه ټيارہ راغله ..... مور بې هوشه
شوه .... مور د غه غم برداشت نه کړے شو .... مور د غه سېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اواز اونۀ ز غملے شو .... مور پې هوشه ، د ځان د حالـه پې خبر
کور پرته وه ، او پلار سرتوی سر او پښې ابله پښې د خپل زوے
د کتو د پاره په منډه را خلاص وۀ .... دونې هغه نقشه درته نشم
بیانولے - د ارشان زړۀ د دغه نقشې د لیدو او اورېدو توان
نۀ لري - لاړو د احمد د ستر کو تور د تول عمر د پاره جدا شو...
شهید خاوره ته او سپارلے شو.... مور د پرې و پنا کانې وکړې ....
د پرې چغې او سورې ې اووهلې - نو مرې په ژړا چې نۀ دې
ژوندې شوې - د احمد د زړۀ د نیا ورانه شوه ، د آفتاب د
سور د زړۀ د نیا ویجاړه شوه ..... چا ویجاړه کړۀ ؟ .... د تهک
د یو د رائیور لږ پې غوندې پې احتیاطی ..... د تهک د د رائیور ی
لږ غوندې غفلت یو کور ویران کړو .... د یو پلار د ملاتیس ې
مات کړو .... د یو مور د زړۀ په سرکښې ې زخم جوړ کړو ....
څومره کورونه د تهکونو او لارو د رائیورانو ویران کړل .... څومره
کلونه ې اورژول ..... څومره کلي ې د خاورو سره خاورې کړې
..... اے رونې ولې ! .... دا ولې دا سې کوې .... دا ولې د زړو تو
آزارونه اخلي .... دا ولې میاندې پې بورې کوې پلاران ژړوې ....
دا ولې تورسري کنډه وې .... دا ولې د تور سرو خونې ورانوې ...
مۀ کوې رونې مۀ کوې - اے د تهکونو او بسونو خاوندانو د
خدائے خاطر اوکړې .... لږ روشې لږ په قلار شې - دا سې په هوا
مۀ الوځې .... د خپلې لږې غوندې فائې د پاره تاسو څومره
لوئے جرمونه کوې .... دا سې جرمونه چې د معاف کولو نۀ دي ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے د هغې تهرک خاونده چې آفتاب دې دخپل تهرک دلاسې چغې
کړے وۀ .... ته څه خبرې چې احمد بېګاه د باران سیلې او
طوفان دا هېتناکه شپه دا ده دخپل زوے په قبر په ژړا تېره
کړې ده .... ته څه خبرې چې دَدۀ دَ زړۀ نه څومره فریادونه
خټلي دي ..... ته نه ې خبر چې د دۀ دَ زړۀ دَ تل نه را خټلو سوۀ
لوۀ فریادونو بېګاه د قبرستان مړي هم آرام ته نه دي پرېښودلي
..... احمد مجبوړ وۀ .... هغه په دې زول او طوفان کښې خپل نیاز
آفتاب په دې لویې خو شي بیابان اډیره کښې یوا ځې نه شو پرېښودے
..... نو ځکه خو په نیمه شپه کښې را غلے دے اود شهید زوے په
قبر دادے خوې وور پروت دے ..... نو اے د تهرک خاونده ،
راشه لږ دا احمد دَ زړۀ په پرېدو کښې اوګوره چې ستالنې غوندې
بې احتیاطۍ په کښې څومره پرهرونه جوړ کړي دي .... زۀ دا
منم چې دا به دَ آفتاب په قسمت کښې وو - دا به د آفتاب په تقدیر
کښې لیکلے شوي وو - خو اے د تهرک دا ټوپۀ په دې دلیل به ته ګڼې د
په حضور کښې د سزا نه بچ شې - نه تا نه به ستاد غفلت او ستاد
بې پرواهۍ تپوس کولے شي - الله تعالیٰ به تاله د خپلو کړو سزا درکوي
او اے احمده دا پاسه - را څه چې کورته لاړ شو مړي چرې په ژړا
نه دي ژوندي شوي - تاله دې خدائے صبر درکړي او ستاپه زخمي
زخمي زړۀ دې الله د خپل فضل او مهربانۍ پهې کېږدي - آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

(اسوپلے) ـ سحر شي، ماښښين شي، ماځيګر شي ماسختن شي

د ژوند ګهړۍ کمپن ي ناګهانه بهپوړ شي

او د ژوند ګهړۍ کمپن ي ـ ژوند د ځپل منزل په لور په تندۍ سره روان دے .... څوک ځپل منزل ته رسيد لي دي او څوک بس ور رسيدونکي دي د چا د ژوند د يوه پخوا کل شوې ده او د چا د ژوند د يوه بس په سلګو ده ..... د ګل کيدو په انتظار ده ..... د مړ کيدو په انتظار ده ..... بس د باد يوه نرۍ غوندې چپه ..... د هوا يوه نرۍ غوندې چپه به پې ګل کړې ..... او بيا .... ؟ د دې آبادۍ او ودانۍ د نيا نه به ..... د غمونو مصيبتونو او تکليفونو د دې د نيا نه به ..... د دې ښکلي ښائسته او رنګينې د نيا نه به ..... د ګورستان هغه خوشي خو شيا ته اورسي.. د قبرستان هغه چُپې چُپيا ته اورسي ..... دوه لاس او دوه پښې به د منونو منونو خاوړې د لاندې ښخ کړے شي ..... او بيا ....؟ بيا به د غه ټوره لحد کښې ..... بيا د مړو په د غه ځپل خانه کښې ..... نهٔ څوک د فرياد اورپه د وشته ..... نهٔ څوک د ژړا د اورپه د وشته نهٔ څوک د تسلي رشته او نهٔ څوک د دادګيرنې .... زوے نشته چې د فرياد سره راملاړ کړې چې ..... " ولې بابا... څهٔ تکليف دے درته ـ سر درله اومندلم پښې درله اومندلم " ..... لُور نشته چې د وې سره راملاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي چې .... د خپر شه بابا - و لې بابا ... څه دي؟" بنځه نشه .....

مور نشته ..... خپل نشته - پردے نشته ..... یو ځان .... یو د لحد

تور تیپ توره تیاره او یو عمل .... عمل زمونږ د لاړې مل ... عمل زمونږ

د قبر ملګرے دے ... عمل زمونږ دسختۍ او اسانۍ سبب دے .... عمل

به په مونږ د لحد سختې اسانه وي .... تور تیپ لحد به راله رو خانه کوي

عمل به راته د لحد نه سرې سروتکې جوړه وي .... سور تنور به راته

تر پې نه جوړه وي ..... اوُ په د غه سروتکو به مونږ تر قبر و

په د غه سور تنور کښې به مونږ وریښتین و ..... د پر سخت مقام

دے رونړ د پر سخت .... د دویم ژوند ابتداء د پره سخته ده .....

د ابدي ژوند شروع کېدو مقام د پر سخت دے ..... راځئ رونړ

چې هغه سختې ځان ته آسانې کړو .... راځئ رونړ چې د لحد سرې سروتکې

په سرو کلونو بدلې کړو .... راځئ چې د لحد تورې تیرې په رنړا کا نو

بدلې کړو ..... راځئ .... راځئ .... اے مسلمانانو چې سم مسلمانان

شو .... راځئ چې د خپلو زړونو نه بغض او بې سو، او د بغض کینې

او حسد په ځائے .... د غوښې په د غه کور کښې د غوښې په د غه بوټۍ

کښې مینه راپیدا کړو ..... د حسد په ځائے محبت

راپیدا کړو ..... د کینې په ځائے الفت راپیدا کړو .... هغه مینه!

چې انسان پرې د انسانیت معراج ته رسېدلے شي .... هغه مینه، چې

انسان پرې انسان خپلولے شي .... چې انسان پرې انسانیت خپلولے

شي .... هغه مینه چې د خدائے نوښه ده .... هغه مینه چې د رسول الله

صلی الله علیه وسلم نوښه ده راځئ چې د مینې په برکت د تول معراجو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کړو .... راځئ چې د مینې په برکت په معاشره کښې ځان له هغه
مقام راپیدا کړو .... چې د مرګ نه پس .... زمونږ په جنازه باندې د
کلونو د ځهرې په ځای د انسانانو د ککو د ښې رڼې او پاکې پاکې او شکې
ځهرې شي .... کلونه شي .... امپلونه شي .... د پاک ضمیر د خاوند
په جنازه ... د کلونو د امپلونو ضرورت نشته .... د مینه ناک زړه د
خاوند په جنازه باندې د کلونو د ځهرو ضرورت نشته ..... ځکه چې
کلونه د محبت د روښکو سیالي نشي کولے .... کلونه د عقیدت د اوښکو
سیالي نشي کولے .... کلونه د چا مړینې د اوښکو سیالي نشي کولے ... راځئ
رونړو چې صحیح انسانان شو، چې انسانیت را باندې سرمسکے شي ..... راځئ
چې صحیح مسلمانان شو چې اسلام را باندې سرهسکے شي .... راځئ چې
سم مخلوق شو چې خدائے پاک زمونږ تخلیق ویاړ اوکړي ..... د امونږ
د ځان نه ځه جوړ کړي دي .... د امونږ د ژوند په کوم ډګر روان
یو ..... د امونږ د کلکیچونو ..... پیچمونو اوکند وکیږو په کومه
لار روان یو ..... امونږ په نامه انسانان د انسانیت نه ځومره لرې شوي
یو .... امونږ په نامه مسلمانان د اسلام نه ځومره اړوا شوي یو ....
سمه لارمو پرې پښې ده .... په کند و کیږو سړیو .... پنغه لاره مو پرې پښې
ده په ککو وکو روان یو ..... آخر ترکومه به مونږ دغسې تهکړې ځورو ....
ترکومه به مونږ د حقیقت نه ستړکې پټوو .... اے غافله انسانه ....
اے ناپوهه انسانه .... زمونږ هر قدم مونږ مرګ ته یو قدم ورنږدې
کوي .... زمونږ هر پل مونږ لحد ته ورنږدې کوي .... د امزل به آخر
پیوه ورځ ختم شي .... د لارې به آخر یوه ورځ اوو هلے شي .... اوس هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې مزل ختم شو... لاړ ختمه شوه نو بیا؟ ..... مخ په وروسته هیڅ
هم نشته .... مخ په شا هیڅ هم نشته .... بیا مخکښې قبرستان دے
او په دغه قبرستان کښې یوه وړه غونډې ټکړه په یوه کچکړې
دوه نیم کنړه مزکه یو ژور دېر ژور .... لکه کوے لحد .... دغه زمونږ کوے
دے ..... دا بنکلې موټرونه به شاته پاتې شي .... دا مزکې جاپټ اډونه
به شاته پاتې شي... په دغه تک تور لحد کښې به دولت زمونږ په کارنه
شي .... سرهٔ سپین به زمونږ پکارنهٔ شي .... بلکه په ناجائزه کټلے دولت
به زمونږ د پاره لړمانان شي .... د یتیم حق به راته خاماران شي .... د
مظلوم آه به راته سړې لمبې شي .... د مزدور اسوپلے به راته لوګے لوګے اوتوري
تېرې شي .... نو اے رشانه .... اے مسلمانه کهٔ خان د قبر د لړمانانو
نه په امان کول غواړې نو ناجائزه کټه پرېږده ، په شودو کښې اوبه آچول
پرېږده ، ناجائز کاروبار پرېږده ، ملاوټ پرېږده، غل بازاري پرېږده-
کهٔ خان د قبر د لړمانانو مارانو نه ساتل غواړې نو یتیم ته خپل حق
واپس ورکړه .... یتیم خان ته رانږدې کړه .... د یتیم په سر د مینې
همدردي او محبت ملاس راکاږه .... دونه اوویږئ د یتیم د ژړا نه
..... د یتیم د ستړکو هره اونبکه کوے طوفان دے ..... د یتیم د ستړکو
هره اونبکه کوے عذاب دے .... د مظلوم هر آه .... په خپله لمن
کښې سړې لمبې لري .... د مزدور هر اسوپلے به موکو کوے لوګے لوګے او
ایره ایره کړي .... په دې فاني دنیا پورې ذهونه مه تړئ .... په
دې نیمګړې دنیا دومره مه مټېږئ .... د مرګ خیال د زړه نه مه
اوباسئ .... مرګ ؛ .... یو حقیقت دے ... مرګ ؛ .... د هر څوک پاڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسمت کښې یکلے دے .... نو د دا سې حقیقت نه ستر کې پټول کښې هوښیار تیا
ده ؟ .... د دا سې حقیقت نه بې پروا کېدل کښې عقل مندي ده ؟ .....
نه ! دې ته هوښیارتیا نشي وئیلے - دې ته عقل مندي نشي وئیلے
.... بلکه دا زمونږ غفلت دے .... دا زمونږ ناپوهي ده .... او دَ دې
غفلت اود ې ناپوهئ انجام به دېر خراب وي .... دېر ... دېر ....
اوس هم وخت شته - اوس هم موقع شته .... اے انسانه کۀ تۀ
اوس هم صحیح مسلمان شوې نو اُمبارکه دې شه .... اے خدایه!
تۀ انسان په صحیح معنو کښې انسان کړې .... اے خدایه تۀ مسلمان
په صحیح معنو کښې مسلمان کړې .... چې انسان ستاپه دې دنیا کښې
دَ ژوند په خوند پوځے شي - آمین

ے

سکر شي - ما سپینځین شي ما ځیګر شي ما سختتن شي
د ژوند کهړۍ کمپښي ناکهانه به پوره شي

(سمندر)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library